عنوان | صفحه

لومړی باب: جهاد ۱

لومړی فصل: د جهاد احکام ۱

لومړی مبحث:د جهاد تعریف،حکم ،د فرضیت دلائل، ډولونه او د نیت اصلاح ۱

لومړی مطلب:د جهاد تعریف: ۱

دوهم مطلب:د جهاد حـــــــکـــــم : ۱

دریم مطلب:د جهاد د فرضیت دلائل: ۲

څلورم مطلب:د جهاد ډولونه: ۳

پنځم مطلب:په جهاد کې د نیت اصلاح: ۳

دوهم مبحث:د جهاد د فرضیت شرطونه،محرمات او مقاصد یې ۵

لومړی مطلب:د جهاد د فرضیت شرطونه: ۵

دوهم مطلب:په جهاد کې محرمات : ٦

دریم مطلب:د جهاد مقاصد او اهداف: ۷

دریم مبحث د جهاد ګټې،د نه کولو نقصانات او د راز ساتنه ۱۰

لومړی مطلب :د جهاد ګـــــټـــــې: ۱۰

دوهم مطلب: د جهاد نه کولو نقصانات: ۱۲

دریم مطلب:په جهاد کې د سِر (راز) ساتنه: ۱۳

دوهم فصل: د جهاد او مجاهد فضیلتونه ۱۵

لومړی مبحث: د جهاد فضایل ۱۵

لومړی مطلب: د جهاد له نورو عملونو څخه غوره والی: ۱۵

دوهم مطلب: د الله جَلَّجَلَالُهُ په لاره کې د سهار او ماښام تېرولو او د ګرد او غبار فضیلت: ۱٦

دریم مطلب: په جهاد کې د وېرې، تږي کېدو او شهادت فضیلت: ۱۷

څلورم مطلب: د الله جَلَّجَلَالُهُ په لار کې د نفقې فضیلت: ۱۹

دوهم مبحث: د مجاهد فضیلت ۱۹

لومړی مطلب: د مجاهد مقام او مرتبه: ۱۹

دویم مطلب: مجاهدینو ته د سامان برابرولو او له هغوی سره د مرسته کولو فضیلت: ۲۱

دریم مطلب: په جهاد کې د ځوانۍ تېرولو او مخکې کېدو فضیلت: ۲۲

دریم مبحث: له جهاد سره مینه ۲۲

لومړی مطلب: په جهاد کې د مجاهدینو ترمنځ ایثار او همدردي: ۲۲

دوهم مطلب: له جهاد سره د رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ مینه: ۲۳

دریم مطلب: له جهاد سره د صحابه کرامو رَضِيَٱللَّهُعَنْهُمْ مینه: ۲۴

څلورم مطلب: له مجاهد سره د جها له امله د حورو مینه: ۲۴

دویم باب: اسلامي حکومتولي ۲۵

لومړی فصل: امارت ۲۵

لومړی مبحث: د امارت او امیر تعریف، اهمیت او دټاکلو شرطونه یې..... ۲۵
لومړی مطلب: د امارت او امیر تعریف:..... ۲۵
دوهم مطلب: د شرعي امیر او امام د ټاکلو اهمیت: ۲۶
دوهم مبحث: د امیر د ټاکلو شرطونه او څرنګوالی ۳۰
لومړی مطلب: د شرعي امیر د ټاکلو شرطونه: ۳۰
دوهم مطلب: د شرعي امیر د ټاکلو څرنګوالی: ۳۱
دریم مبحث: د شرعي امیر عمده وظائف ۳۳
لومړی مطلب: د امر بالمعروف او نهي عن المنکرترسره کول: ۳۳
دوهم مطلب: د اسلامي نظام پنځه ګوني عمده مقاصد: ۳۳
لومړی مبحث: د امیر د اطاعت حکم، د سرغړوونکي سزا او د اطاعت ځایونه..... ۳۸
لومړی مطلب: د شرعي امیر د اطاعت حکم: ۳۸
دویم مطلب: د شرعي امیر بیعت ماتول او له اطاعت څخه د سرغړوونکي سزا: ۴۰
دریم مطلب: د امیر د اطاعت کولو او یا نه کولوځایونه: ۴۲
دوهم مبحث: په ځانګړو حالاتو کې مجاهدینو ته د امیر امر ۴۶
لومړی مطلب: د ځانګړي ترتیب په هکله د امیر اطاعت کول: ۴۶
دویم مطلب: له کوم ښار یا سیمې څخه د منعې حالت کې:..... ۴۶
دریم مطلب: د نورو مجاهدینو له مرستې څخه د منع کولو حالت کې: ۴۷
څلورم مطلب: د کار په ګټه د نه پوهېدلو حالت کې اطاعت: ۴۷
پنځم مطلب: د مجاهدینو له امام څخه د فرمانونو د دلائلو غوښتنه: ۴۷
دریم مبحث: د شرعي امیر درناوی خیرخواهي او بې عزتي..... ۴۸
لومړی مطلب: دامیر درناوی: ۴۸
دوهم مطلب:له امیرانو سره خیر خواهي: ۴۸
دریم مطلب: په امیر او مسؤل نېک ګمان کول: ۴۸
څلورم مطلب: د ظالم بادشاه په وړاندې حقه خبره: ۴۹
پنځم مطلب: د امیر بې عزتي: ۵۰

دریم باب: عدل او انصاف ۵۱

لومړی فصل: عدل او انصاف د اسلام له نظره ۵۱

لومړی مبحث: د عدل تعریف، د اثبات دلائل او مظاهر یې ۵۱
لومړی مطلب: د عدل او انصاف پېژندنه: ۵۱
دویم مطلب: د عدل د اثبات دلائل: ۵۱
دریم مطلب: د عدل مظاهر : ۵۴
دوهم مبحث :عدل او انصاف د الله جَلَّجَلَالُهُ او مخلوق په وړاندې ۵۵

لومړی مطلب: د الله تعالی عدل او انصاف: ۵۵
دوهم مطلب: د مؤمنانو عدل او انصاف: ۵۵
دریم مطلب: د حاکم عدل او انصاف: ۵۶
څلورم مطلب: د مآمور عدل او انصاف: ۵۷
پنځم مطلب: د خاوند عدل او انصاف: ۵۷
شپږم مطلب: د ښځې عدل او انصاف: ۵۹
اووم مطلب: د پلار عدل او انصاف: ۵۹
اتم مطلب: د اولاد عدل او انصاف: ۶۰
نهم مطلب: د حیواناتو په وړاندې عدل او انصاف: ۶۱

څلورم باب: د نیت او اخلاص اړوند احکام ۶۲

لومړی فصل: نیت او اخلاص ۶۲

لومړی مبحث: د نیت تعریف او د اثبات دلائل یې ۶۲
لومړی مطلب: د نیت او اخلاص تعریف: ۶۲
دوهم مطلب: د نیت او اخلاص د اثبات دلائل: ۶۲
دوهم مبحث: د نیت او اخلاص حکم او اهمیت: ۶۴
لومړی مطلب: د نیت او اخلاص حکم: ۶۴
دویم مطلب: د نیت او اخلاص اهمیت: ۶۴

پنځم باب: د وخت ارزښت ۶۶

لومړی فصل: د وخت ارزښت د قرآنکریم او احادیثو په رڼا کې ۶۶

لومړی مبحث: د وخت ارزښت د قرآنکریم په رڼا کې: ۶۶
دوهم مبحث: د وخت ارزښت د احادیثو په رڼا کې: ۶۷
دریم مبحث: د وخت ارزښت د علماوو او پوهانو په اند: ۶۸
څلورم مبحث: د وخت پر وړاندې د مسلمان مکلفیت: ۶۹

مصادر او مراجع ۷۰

لومړی باب: جهاد

لومړی فصل: د جهاد احکام

لومړی مبحث: د جهاد تعریف، حکم ، د فرضیت دلائل، ډولونه او د نیت اصلاح

لومړی مطلب: د جهاد تعریف:

جهاد په لغت کې مشقت او تکلیف وېستلو ته وايې او په شریعت کې د الله جَلَّجَلَالُهُ په لاره کې د جګړې لپاره د خپل نفس، مال، ژبې او نورو وسیلو له لارې د خپل توان او طاقت کارولو او یاپدې کې مبالغې (شدت) ته ویل کېږي . (١)

دوهم مطلب: د جهاد حـــکـم :

جهاد په دوه ډوله دی: ١- فرض عین ٢- فرض کفایي.

فرض عین: د نفیر عام په صورت کې (کله چې دښمن په مسلمانانو حمله وکړي) او نږدې مسلمانان یې مقابله نشي کولای په ټولو مسلمانانو جهاد فرض عین دی. (٢)

فرض کفایي: او که ځینو خلکو یې مقابله کولای شوه نو په نورو خلکو باندې بیا جهاد فرض کفایي دی یعني د ځینو خلکو د جهاد په کولو سره د نورو خلکو غاړې خلاصېږي. (٣)

---

١. وأما الجهاد في اللغة فعبارة عن بذل الجهد بالضم وهو الوسع والطاقة، أو عن المبالغة في العمل من الجهد بالفتح، وفي عرف الشرع يستعمل في بذل الوسع والطاقة بالقتال في سبيل الله – عز وجل – بالنفس والمال واللسان، أو غير ذلك، أو المبالغة في ذلك والله – تعالى – أعلم. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٩٧).

٢. ثُمَّ فَرِيضَةُ الْجِهَادِ عَلَى نَوْعَيْنِ: أَحَدُهُمَا عَيْنٌ عَلَى كُلِّ مَنْ يَقْوَى عَلَيْهِ بِقَدْرِ طَاقَتِهِ وَهُوَ مَا إذَا كَانَ النَّفِيرُ عَامًّا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا} [التوبة: ٤١] وَقَالَ تَعَالَى {مَا لَكُمْ إذَا قِيلَ لَكُمْ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إلَى الْأَرْضِ} [التوبة: ٣٨] إلَى قَوْلِهِ {يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا} [التوبة: ٣٩]. المبسوط. للسرخسي (١٠/ ٣).

. قال الحصكفي رَحِمَهُ ٱللَّهُ : (وَفَرْضُ عَيْنٍ إنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ فَيَخْرُجُ الْكُلُّ وَلَوْ بِلَا إذْنٍ) وَيَأْثَمُ الزَّوْجُ وَنَحْوُهُ بِالْمَنْعِ . قال ابن عابدين رَحِمَهُ ٱللَّهُ : (قَوْلُهُ : وَفَرْضُ عَيْنٍ) أَيْ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ، فَإِنْ عَجَزُوْا أَوْ تَكَاسَلُوْا فَعَلَى مَنْ يَلِيْهِمْ حَتَّى يُفْتَرَضَ عَلَى هٰذَا التَّدْرِيْجِ عَلَى كُلِّ الْمُسْلِمِيْنَ شَرْقًا وَغَرْبًا . رد المحتار على الدر المختار كِتَابُ الْجِهَادِ ١٢٦/٤ .

٣. وَنَوْعٌ هُوَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ إذَا قَامَ بِهِ الْبَعْضُ سَقَطَ عَنْ الْبَاقِينَ لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ وَهُوَ كَسْرُ شَوْكَةِ الْمُشْرِكِينَ وَإِعْزَازُ الدِّين لِأَنَّهُ لَوْ جُعِلَ فَرْضًا فِي كُلِّ وَقْتٍ عَلَى كُلِّ أَحَدٍ عَادَ عَلَى مَوْضُوعِهِ بِالنَّقْضِ. المبسوط للسرخسي (١٠/ ٣).

. قَالَ (اَلْجِهَادُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ إذَا قَامَ بِهِ فَرِيْقٌ مِنَ النَّاسِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِيْنَ) أَمَّا الْفَرْضِيَّةُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ} ، وَلِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – « اَلْجِهَادُ مَاضٍ إلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ » وَأَرَادَ بِهِ فَرْضًا بَاقِيًا ، وَهُوَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ ؛ لِأَنَّهُ مَا فُرِضَ لِعَيْنِهِ إذْ هُوَ إفْسَادٌ فِيْ نَفْسِهِ، وَ إِنَّمَا فُرِضَ لِإِعْزَازِ دِيْنِ اللهِ وَدَفْعِ الشَّرِّ عَنِ الْعِبَادِ ، فَإِذَا حَصَلَ الْمَقْصُوْدُ بِالْبَعْضِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِيْنَ كَصَلَاةِ الْجَنَازَةِ وَ رَدِّ السَّلَامِ (فَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيْعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ) لِأَنَّ الْوُجُوْبَ عَلَى الْكُلِّ . الهداية كِتَابُ السِّيَرِ ٣٧٨/٢.

_ كل ما فرض لغيره فهو فرض كفاية اذا حصل المقصود بالبعض و الا ففرض عين.(الدرالمختار على هامش ردالمحتار، ج:٣،ص:٢١٨،كتاب الجهاد).

. واما بيان كيفية فرضية الجهاد فالامر فيه لايخلوا من احد وجهين اما ان كان النفير عاماً واما ان لم يكن،فان لم يكن النفير عاماً فهو فرض كفاية ومعناه ان يفترض على جميع من هو اهل الجهاد لٰكن اذا قام به البعض سقط عن الباقين فاما اذا عم النفير بان هجم العدو على بلدٍ فهو فرض عين يفترض على كل واحد من اَحاد المسلمين ممن هو قادر عليه.(بدائع الصنائع، ج:٧،ص:٩٨،كتاب السير).(ومثله فى فتح القدير، ج:٥،ص:١٨٩،كتاب السير).

دریم مطلب:د جهاد د فرضیت دلائل:

الف:له قرانکریم څخه د جهاد د فرضیت د لائل:

١ـ الله تعالی فرمايي: ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُواْ شَيْـًٔا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾.(١)

ژباړه:فرض کړی شوی دی پرتاسې باندې جنګ کول(له کفارو سره)حال دا چې دغه(جنګ)بد ښکاري تاسې ته او ښايي چې بد ګڼئ تاسې یو شی حال دا چې هغه ډېر بهتر وي تاسې لره، او ښايي چې ښه وګڼئ تاسې یو شی،حال دا چې هغه به ډېر بد وي تاسې ته او الله عالم دی(په خیر ستاسې)او تاسې نه پوهېږئ(په خیر خپل).

٢ـ الله تعالی فرمايي: ﴿وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلْقَتْلِۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمْ عِندَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمْ فِيهِۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمْ فَٱقْتُلُوهُمْۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ .(٢)

ژباړه:ووژنئ! دوی په هر ځای کې چې دوی مومئ، هغوی له هغه ځایه وباسئ چې تاسې یې ایستلي یاست؛ او فتنه (شرک او له دین څخه اړول) ډېر سخت دي له وژلو څخه. او جنګ مه کوئ! له دوی سره د مسجد الحرام په خوا کې تر هغه پورې چې وجنګېږي دوی له تاسې سره په دغه (حرم) کې، پس که جنګ وکړي دوی له تاسې سره نو وژنئ! دوی همداسې (لکه تېره شوې جزا) جزا ده د کافرانو.

٣ـ الله تعالی فرمايي: ﴿وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِۖ فَإِنِ ٱنتَهَوْاْ فَلَا عُدْوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ﴾. (٣)

ژباړه:او تاسې له هغوی سره و جنګېږئ تر دې پورې چې فتنه(شرک او فساد) پاته نشي او شي دین (حکم) خاص د الله جَلَّجَلَالُهُ لپاره ، بیا که هغوی لاس په سر شول(دوي له شرکه نو تاسو تجاوز مه کوئ پر دوی باندې) نشته هېڅ تېری مګر(خو شته جزا د ظلم) پر ظالمانو باندې.

٤ـ الله تعالی فرمايي: ﴿وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾. (٤)

ژباړه:او جنګ کوئ (ای مؤمنانو!) په لاره د الله جَلَّجَلَالُهُ کې! له هغو کسانو سره چې جنګ کوي له تاسې سره. او مه کوئ تېری، زیاتی(په هېچا باندې ای مؤمنانو!). بېشکه چې الله محبت نه کوي تېري کوونکو سره له حده.

ب: له احادیثو څخه د جهاد د فرضیت دلائل:

رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي:

١ـ {وَعَنْ أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ جَاهِدُوا الْمُشْرِكِيْنَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُم}. (٥)

ژباړه: له حضرت أنس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:تاسې د مشرکینو سره په خپلو مالونو ،نفسونو او ژبو سره جهاد وکړئ.

٢ـ {وعن أبي هريرة عن النبي صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ مَاتَ عَلى شُعْبَةٍ مِنْ النِّفَاقِ}. (٦)

ژباړه: له ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي:څوک چې وفات شي غزا یې نه وي کړې او نه یې په خپل زړه کې د جهاد قصد کړی وي هغه په یو شاخ او ډول د منافقت باندې مړ شو .

١.(سورة البقرة:٢١٦).

٢.(سورة البقرة:١٩١).

٣.(سورة البقرة:١٩٣).

٤.(سورة البقرة:١٩٠).

٥.(سنن أبي داود (٣/ ١٠)٢٥٠٤ –. كتاب الجهاد، باب كراهية ترك الغزو).

٦.(صحيح مسلم (٣/ ١٥١٧) رقم الحديث ١٥٨ – (١٩١٠)، سنن أبي داود (٣/ ١٠) رقم الحديث–٢٥٠٢ –.

٣ـ {عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: لَنْ يَبْرَحَ هَذَا الدِّينُ قَائِمًا يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ}. (١)

ژباړه: له جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت شوی، هغه وايي: چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دغه دين به تل قائم وي او د مسلمانانو يوه ډله به د قيامت تر قائمېدو پورې پرې جګړه کوي.

څلورم مطلب: د جهاد ډولونه:

جهاد په درې ډوله دی چې له لاندې حديث څخه په څرګند ډول معلومېږي:

{عَنْ أَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاهِدُوا الْمُشْرِكِيْنَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُم}. (٢)

ژباړه: له حضرت أنس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسو له مشرکينو سره په خپلو مالونو، نفسونو او ژبو سره جهاد وکړئ.

په دې حديث کې د جهاد درې اقسام ذکر شو:

١ـ جهاد بالمال ٢ـ جهاد بالنفس ٣ـ جهاد باللسان

جهاد بالمال دېته وايي چې انسان خپل مال په جهاد کې مصرف کړي مجاهدينو ته پرې خوراکي توکي، اسلحه يا نور د اړتيا وړ وسائل واخلي.

جهاد بالنفس دېته وايي چې انسان په خپله په جهاد کې شريک شي او د کافرانو خلاف وجنګېږي.

جهاد باللسان دېته وايي چې انسان په ژبې سره خلکو ته د جهاد متعلق ترغيب ورکړي او د کافرانو مذمت بيان کړي.

پنځم مطلب: په جهاد کې د نيت اصلاح:

نيت نه يوائې په جهاد کې بلکې په ټولو عباداتو کې مهم امر دی، نيت د عمل لپاره د روح مثال لري، په نيت سره وړوکی عمل غټېږي. (٣). مباح عمل ورباندې عبادت ګرځي، څنګه چې حديث شريف کې راځي.

له حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی هغه وايي له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه مې واورېدل چې ويل يې د عملونو اعتبار (ثواب) په نيت سره دی. (٤).

همدغسې په يو بل حديث کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نيت په اړه فرمايي چې يو کوچې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل: يو سړی د غنيمت لپاره جهاد کوي، بل د دې لپاره چې خلک يې (په شجاعت او زړورتوب) وستايي او بل د رياء لپاره (چې خلک ووايي چې ده په فلانۍ غزوه کې شرکت کړی ؤ) په دوی کې کوم يو د الله د لارې مجاهد دی؟

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل: چې له دوی څخه يوازې هغه في سبيل الله مجاهد دی چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د کلمې د لوړوالي لپاره جهاد کوي. (٥)

د هرډول نيت متعلق په احاديثو کې تفصيلي يادونه شوې د لته به يوازې اجمالي اقسام بيان شي:

١ـ ځينې خلک په جهاد کې خاص د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا نيت کوي، د دنيا يا آخرت هېڅ بدله يې مقصود نه وي، بلکې يوازې د الله جَلَّ جَلَالُهُ رضا يې هدف وي، پرته له شک او شبهې څخه دا اعلی ډول د نيت دی داسې کس په دنيا او آخرت کې کامياب دی. (١)

---

١. (صحيح مسلم (٣/ ١٥٢٤)١٧٢ – (١٩٢٢)).

٢. سنن أبي داود (٣/ ١٠) رقم الحديث– ٢٥٠٤.

٣. وقال بعض السلف رب عمل صغير تعظمه النية ورب عمل كبير تصغره النية. إحياء علوم الدين (٤/ ٣٦٤).

٤. (عن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال سمعت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول: {إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ}. صحيح البخاري (١/ ٦).

٥. { عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ الرَّجُلُ: يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ، فَمَنْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ قَالَ: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ العُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ»} . صحيح البخاري (٤/ ٢٠). رقم الحديث: ٢٨١٠).

۲ـ ځینې خلک د اسلامي غیرت او اعلاء کلمة الله لپاره جهاد کوي، مقصدیې دا وي چې په دې سره اسلام او مسلمانانو ته عزت حاصل شي، کفر او کافران ذلیله شي، دا هم د اول په څېر اعلی ډول د نیت دی، داسې کس هم پرته له شک او شبهې څخه په دنیا او اخرت کې کامیاب دی.(۲)

۳ـ ځینې خلک په جهاد کې دا نیت کوي چې د دې په عوض کې راته جنت، حورې، غلمان او ثوابونه راکړل شي او له جهنم څخه ورته نجات حاصل شي له دې څخه پرته یې بل هېڅ نیت نه وي، دا نیت هم صحیح دی، داسې کس هم په دنیا او اخرت کې کامیاب دی، الله جَلَّ جَلَالُهُ به ده ته د ده د نیت مطابق بدله ورکړي. د دې درېیم ډول نیت څخه لومړني دوه ډولونه ډېر غوره دي. (۳)

۴ـ ځینې خلک جهاد د دې لپاره کوي چې کافرانو په مسلمانانو باندې حمله کړې وي او دا کسان یوازې د خپل ځان نه د دفاع لپاره جهاد کوي بل هېڅ نیت یې نه وي، دا ډول نیت هم صحیح دی، دوی هم په دنیا او اخرت کې کامیاب دي، که داسې کس وفات شي نو دا به شهید وي.(٤)

۵ـ ځینې خلک جهاد کې یوازې د دې نیت کوي چې د مجاهدینو ډله زیاته شي بل هېڅ ډول نیت یې نه وي.

دا نیت هم صحیح دی که داسې کس په جهاد کې وفات شي نو هغه شهید دی، ځکه څوک چې د یو قوم ډله زیاته کړي هغه به هم له هغوی څخه حسابېږي.(۵)

۶ـ ځینې خلک په جهاد کې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا او د غنیمت مال تر لاسه کولو نیت کوي، په دې ډول نیت کې د علماء کرامو اختلاف دی ځینې علماء وایي چې دا نیت فاسد دی ځکه ده پکې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له رضا سره د دنیا اراده هم کړې.

خو صحیح قول دا دی چې دا نیت هم صحیح دی، که داسې کس په جهاد کې وفات شي نو د اهم شهید دی.

امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې او امام قرطبي رحمه الله په تفسیر قرطبي کې د دې نیت په صحیح والي باندې ډېر دلائل له قرآن کریم او احادیثو څخه راجمع کړي دي.

او په کومو احادیثو کې چې ذکر دي: چې کوم کس په جهاد کې د دنیا حاصلولو اراده وکړي نو هغه ته هېڅ اجر نه حاصلېږي، له هغه څخه هغه کس مراد دی چې په جهاد کولو سره یوازې د دنیا حاصلولو اراده لري د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا نیت یې په کې بالکل نه وي او چا چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا له نیت سره د غنیمت مال نیت هم وي نو دا نیت هم صحیح دی.

خو په جهاد کې د داسې نیت کولو ثواب له لومړنیو درې ډوله نیتونو څخه کم دی. (۱)

---

[۱] – فمنهم من يقصد بجهاده وجه الله تعالي لإستحقاقه هذه العبادة و امره بها و افتراضها على عباده من غير التفات عنده الى جزاء عليها في الآخرة وهذا عزيز الوجود نادر الإمكان. مشارع الأشواق الى مصارع العشاق. صفحه (٦١٢).

۲ – و منهم من يحمله على الجهاد غيرة الإسلام و الحرص على إعلاء كلمة الله تعالى وإعزازها, و إذلال كلمة الكفر و أهلها, و هاتان النيتان لاشك في صحتهما و لاريب في الفوز عند الله بهما. المرجع السابق. صفحه (٦١٣).

۳.ومنهم من يقصد بجهاده الجنة وثوابها, و كواعبها, واترابها, والنجات من النار وعقابها, و اليم عذابها, من غير تصور لغير ذالك, هذا هو الاغلب وجودا. و قد قال بعضهم: ان هذالقصد لايكفي في نيل رتبة الشهادة, و الظاهر الصحيح ان هذالقصد كاف في نيلها وا ن صاحبها من الفائزين بجنات النعيم. المرجع السابق. صفحه (٦١٣).

[٤] – و منهم من إذا دهمه القتال يقاتل مقبلا غير مدبر ليس له نية البتة غير الدفع عن نفسه, و هذا قريب من أصحاب النية الثالثة وليس مثلهم, و هو شهيد لأن من دفع عن نفسه قطاع الطريق فقتلوه كان من الشهداء, فكيف لايكون شهيدا من قتل بسيوف الأعداء بل هو شهيد في الفضل والحكم. المرجع السابق, صفحه (٦٢١).

[۵] – و منهم من يخرج الى الجهاد مكثرا سواد المجاهدين ليس له نية ان يقتل و لايقتل, و هذا اذا قتل شهيد, لان من كثر سواد قوم فهو منهم. المرجع السابق, صفحه (٦٢٢).

.– { عَن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُول اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيه وَسَلَّم: الشُّهَدَاءُ ثَلاثَةٌ: رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ مُحْتَسِبًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لا يُرِيدُ أَنْ يُقْتَلَ، ولاَ يَقْتُلَ، ولاَ يُقَاتِلَ يُكَثِّرُ سَوَادَ الْمُسْلِمِينَ فَإِنْ مَاتَ، أَوْ قُتِلَ غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوبُهُ كُلُّهَا وَأُجِيرَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وُيَؤَمَّنُ مِنَ الْفَزَعِ الأَكْبَرِ وَيُزَوَّجُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ وَحُلَّتْ عَلَيْهِ حُلَّةُ الْكَرَامَةِ، وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ وَالْخُلْدِ ...} مسند البزار = البحر الزخار (١٢/ ٣٢٩).

۷ـ ځینې خلک په جهاد کې یوازې د دنیا او غنیمت تر لاسه کولو نیت کوي، د الله جَلَّجَلَالُهُ د رضا او ثواب نیت یې په کې هېڅ نه وي.

داسې کس ته د جهاد هېڅ ثواب نه ورکول کېږي که داسې کس په جهاد کې مړ شي په ظاهره یې حکم د شهید دی خو په حقیقت کې شهید نه دی. (۲)

۸ـ ځینې خلک یوازې د ریا شهرت او ځان ښودنې لپاره جهاد کوي، مقصد یې دا وي چې خلک راته بهادر ووایي په زړه کې یې د الله جَلَّجَلَالُهُ د رضا او ثواب هېڅ نیت نه وي.

داسې کس ته هم د جهاد هېڅ ثواب نه ورکول کېږي که په جهاد کې مړ شي نو دا د الله جَلَّجَلَالُهُ په نزد شهید نه دی، په اړه یې راغلي چې دا به پړمخ جهنم ته غورځول کېږي. (۳)

ځکه د ده مقصد په جهاد سره ریا ده او ریا ته په احادیثو کې شرک خفي ویل شوی، د دې سخته سزا ذکر شوې. (٤)

لهذا په جهاد کې یوازې د الله جَلَّجَلَالُهُ د رضا نیت پکار دی.

دوهم مبحث: د جهاد د فرضیت شرطونه، محرمات او مقاصد یې

لومړی مطلب: د جهاد د فرضیت شرطونه:

۱ـ مسلمان به وي (کافر به نه وي). ۲ـ عاقل به وي (لیوني به نه وي). ۳ـ بالغ به وي (صبي او ماشوم به نه وي). ۴ـ حر (آزاد) به وي (غلام به نه وي). ۵ـ نارینه به وي (ښځینه به نه وي). ۶ـ سالم به وي (معذور به نه وي). (۵).

---

۱. و منهم من يجاهد ونيته وجه الله تعالى ونيل الغنيمة جميعا, و لوانفرد قصد الجهاد عنده لكان كفيلا بإنهاض القدرة الى الجهاد بحيث لودعي الى غزو طائفة فقراء ليس لهم ما يغنم لما أقعده عدم وجود مايغنم عن الجهاد في سبيل الله. مشارع الأشواق الى مصارع العشاق. صفحه (٦٢٣).

ـ. {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (تَضَمَّنَ اللَّهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا جِهَادٌ فِي سَبِيلِي وَإِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي فَهُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ أَنْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ أُرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ نَائِلًا مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ) وَذَكَرَ الْحَدِيثَ. وَفِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (مَا مِنْ غَازِيَةٍ تَغْزُو فِي سبيلاللَّهِ فَيُصِيبُونَ الْغَنِيمَةَ إِلَّا تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أَجْرَهُمْ مِنَ الْآخِرَةِ وَيَبْقَى لَهُمُ الثُّلُثُ وَإِنْ لَمْ يُصِيبُوا غَنِيمَةً تَمَّ لَهُمْ أَجْرُهُمْ (. فَقَوْلُهُ:) نَائِلًا مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ) يَقْتَضِي أَنَّ لِمَنْ يُسْتَشْهَدُ مِنَ الْمُجَاهِدِينَ أَحَدَ الْأَمْرَيْنِ، إِمَّا الْأَجْرُ إِنْ لَمْ يَغْنَمْ، وَإِمَّا الْغَنِيمَةُ ولا أجر، بخلاف حديث عبد الله ابن عَمْرٍو، وَلَمَّا كَانَ هَذَا قَالَ قَوْمٌ: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو لَيْسَ بِشَيْءٍ، لِأَنَّ فِي إِسْنَادِهِ حُمَيْدَ بْنَ هَانِئٍ وَلَيْسَ بِمَشْهُورٍ، وَرَجَّحُوا الْحَدِيثَ الْأَوَّلَ عَلَيْهِ لِشُهْرَتِهِ. وَقَالَ آخَرُونَ: لَيْسَ بَيْنَهُمَا تَعَارُضٌ وَلَا اخْتِلَافٌ. وَ (أَوْ) فِي حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ بِمَعْنَى الْوَاوِ، كَمَا يَقُولُ الْكُوفِيُّونَ وَقَدْ دَلَّتْ عَلَيْهِ رِوَايَةُ أَبِي دَاوُدَ فَإِنَّهُ قَالَ فِيهِ: (مِنْ أَجْرٍ وَغَنِيمَةٍ) بالوا والجامعة. وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُ رُوَاةِ مُسْلِمٍ بِالْوَاوِ الْجَامِعَةِ أَيْضًا. وَحُمَيْدُ بْنُ هَانِئٍ مِصْرِيٌّ سَمِعَ أَبَا عبد الرحمن الحبلى وعمرو ابن مَالِكٍ، وَرَوَى عَنْهُ حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ وَابْنُ وَهْبٍ، فَالْحَدِيثُ الْأَوَّلُ مَحْمُولٌ عَلَى مُجَرَّدِ النِّيَّةِ وَالْإِخْلَاصِ فِي الْجِهَادِ، فَذَلِكَ الَّذِي ضَمِنَ اللَّهُ لَهُ إِمَّا الشَّهَادَةَ، وَإِمَّا رَدَّهُ إِلَى أَهْلِهِ مَأْجُورًا غَانِمًا، وَيُحْمَلُ الثَّانِي عَلَى مَا إِذَا نَوَى الْجِهَادَ وَلَكِنْ مَعَ نَيْلِ الْمَغْنَمِ، فَلَمَّا انْقَسَمَتْ نِيَّتُهُ انْحَطَّ أَجْرُهُ، فَقَدْ دَلَّتِ السُّنَّةُ عَلَى أَنَّ لِلْغَانِمِ أَجْرًا كَمَا دَلَّ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَلَا تَعَارُضَ. ثُمَّ قِيلَ: إِنْ نَقَصَ أَجْرُ الْغَانِمِ عَلَى مَنْ يَغْنَمُ إِنَّمَا هُوَ بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا فَتَمَتَّعَ بِهِ وَأَزَالَ عَنْ نَفْسِهِ شَظَفَ عَيْشِهِ، وَمَنْ أَخْفَقَ فَلَمْ يُصِبْ شَيْئًا بَقِيَ عَلَى شَظَفِ عَيْشِهِ وَالصَّبْرِ عَلَى حَالَتِهِ، فَبَقِيَ أَجْرُهُ مُوَفَّرًا بِخِلَافِ الْأَوَّلِ}. تفسير القرطبي (٥/ ٢٧٨).

۲. و منهم من يجاهد ونيته تحصيل عرض الدنيامن غير التفات الى قصد نوع من العبادة بحيث لو عرض عليه غزو طائفة من الكفار ليس لهم ما يغنم او علم انه يمنع من الغنيمة لم يغز، فلهذا اذا قتل ليس بشهيد وان كان حكمه في الظاهر حكم الشهداء، وليس له أجر البتة. مشارع الأشواق الى مصارع العشاق. صفحه (٦٣١).

. { عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا أَجْرَ لَهُ». فَأَعْظَمَ ذَلِكَ النَّاسُ، وَقَالُوا لِلرَّجُلِ: عُدْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَعَلَّكَ لَمْ تُفَهِّمْهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا، فَقَالَ: «لَا أَجْرَ لَهُ». فَقَالُوا: لِلرَّجُلِ عُدْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ: الثَّالِثَةَ. فَقَالَ لَهُ: «لَا أَجْرَ لَهُ»}. سنن أبي داود (٣/ ١٤).

۳. {إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيءٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ}. صحيح مسلم (٣/ ١٥١٣).

٤. {عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ» قَالُوا: وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " الرِّيَاءُ، يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: إِذَا جُزِيَ النَّاسُ بِأَعْمَالِهِمْ: اذْهَبُوا إِلَى الَّذِينَ كُنْتُمْ تُرَاءُونَ فِي الدُّنْيَا فَانْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً} . مسند أحمد مخرجا (٣٩/ ٣٩).

٥. (شَرْطٌ لِفَرْضِيَّتِهَا الْإِسْلَامُ، وَالْعَقْلُ، وَالْبُلُوغُ) لِمَا تَقَرَّرَ فِي الْأُصُولِ أَنَّ مَدَارَ التَّكْلِيفِ بِالْفُرُوعِ هَذِهِ الثَّلَاثَةُ .درر الحكام شرح غرر الأحكام (١/ ٥٠).

دوهم مطلب:په جهاد کې محرمات :

په جهاد کې لاندې شيان حرام دي:

۱ـ په جهاد کې د ښځو، ماشومانو، سپينږيرو، ړندو، شلانو او هغه کس چې لاس او پښې يې مات وي، هغه کسان چې له جنګ څخه ناتوانه وي، او هغه دهقانان چې يوازې له خپلو ځمکو سره يې کار وي وژل يې روا ندي. که چېرته له دښمن سره په قول، فعل، مشوره او مال کې مرسته کوي نو بيا يې وژل جائز دي. (۱)

۲ـ د مسلمانانو له لوري د وسلو، اسونو او د جګړې د نورو وسائلو خرڅول په حربيانو کافرانو حرام دي او د هغه څه خرڅول هم حرام دي چې د دښمن ته پرې تقويت حاصليږي، يعني په دښمن باندې به دا ډول شيان نه پلورل کېږي او نه به په کرايه ورکول کېږي. (۲)

۳ـ که ښځه د دښمنانو واکمنه وي وژل يې روا دي او همدغسې که يو وړوکی هلک واکمن وي او کافران يې جنګ ته له ځان سره راولي وژل يې روا دي. (۳)

۴ـ د مال غنيمت نه غلا کول او په هغه کې خيانت (يعني له تقسيم نه مخکې له غنيمت نه څه اخيستل يا پټول)ګناه کبيره او حرام دي. (٤)

– ولا يجب الجهاد على صبي " لأن الصبا مظنة المرحمة " ولا عبد ولا امرأة " لتقدم حق المولى والزوج " ولا أعمى ولا مقعد ولا أقطع لعجزهم فإن هجم العدو على بلد وجب على جميع الناس الدفع تخرج المرأة بغير إذن زوجها والعبد بغير إذن المولى " لأنه صار فرض عين وملك اليمين ورق النكاح لا يظهر في حق فروض الأعيان كما في الصلاة والصوم بخلاف ما قبل النفير لأن بغيرهما مقنعا فلا ضرورة إلى إبطال حق المولى والزوج. الهداية في شرح بداية المبتدي (۲/ ۳۷۸).

–فلا يفرض على الأعمى والأعرج، والزمن والمقعد، والشيخ الهرم، والمريض والضعيف، والذي لا يجد ما ينفق ...ولا جهاد على الصبي والمرأة؛ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ۹۸).

يشترط لوجوب الجهاد سبعة شروط:الإسلام،والبلوغ،والعقل،والحرية،والذكورة،والسلامة من الضرر،ووجودالنفقة.

فأما الإسلام والبلوغ والعقل فهي شروط لوجوب سائر الفروع الشرعية،وأما الحرية؛فلأن النبى كان يبايع الحر على الإسلام والجهاد،ويبايع العبد على الإسلام دون الجهاد. (الفقه الإسلامية وأدلته،ج:۳،ص:۷۱۶،طبع:الوحيدية).

۱.[محرمات الجهاد ومكروهاته] : (وينبغي للمسلمين أن لا يغدروا ولا يغلوا ولا يمثلوا؛ لقوله – عَلَيْهِ السَّلَامُ –) أي لقول النبي – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – «لا تغدروا ولا تغلوا ولا تمثلوا» هذا في حديث سليمان بن بريدة وقد تقدم بعضه، وفيه: «اغزوا ولا تغدورا ولا تغلوا ولا تمثلوا ولا تقتلوا وليدا» (والغلول السرقة من المغنم، والغدر الخيانة ونقض العهد، والمثلة المروية في قصة العرنيين منسوخة بالنهي المتأخر هو المنقول) هذا كأنه جواب عن سؤال مقدر كأن القائل يقول هذا الحديث يدل على تحريم المثلة، وحديث العرنيين يدل على إباحتها؟ فأجاب بقوله وحديث العرنيين منسوخ بالنهي المتأخر عن حديث العرنيين.

والدليل على تأخر النهي ما رواه ابن أبي شيبة في " مصنفه " عن عمران بن حصين أنه قال: «ما قام رسول الله – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – لم يعد ماشل الأركان محطياً على الصدقة وينهانا عن المثلة» وتخصيصه بالذكر في خطبته يدل على تأكد الحرمة، والمثلة من مثلت بالرجل أمثل به مثلاً ومثلة إذا سودت وجهه أو قطعت أنفه أو ما أشبه ذلك ذكره في " الفائق ".

«ولا تقتلوا امرأة ولا صبياً ولا شيخاً فانياً ولا مقعداً ولا أعمى» هذا كله من كلام القدوري في مختصره، وعلله المصنف بقوله (لأن المبيح للقتل عندنا هو الحراب، فلا يتحقق منه، ولهذا لا يقتل يابس الشق) أي المفلوج، ويراد باليبس بطلان حسه وذهاب حركته لا أنه ميت حقيقة، كذا في " المغرب " والمقطوع اليمين، والمقطوع يده ورجله من خلاف. البناية شرح الهداية (۷/ ۱۰۹).

––عن إبن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ...ولاتقتلوا وليداً ولا إمرأة ولاشيخاً.(مجمع الزوائد،ج:۵،ص:۳۱۶).

۲ – وَيُكْرَهُ بَيْعُ السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ وَتَجْهِيزُهُ إلَيْهِمْ قَبْلَ الْمُوَادَعَةِ وَبَعْدَهَا، كَذَلِكَ الْحَدِيدُ، وَكُلُّ مَا هُوَ أَصْلٌ فِي آلَاتِ الْحَرْبِ، وَلَا يُكْرَهُ إدْخَالُ ذَلِكَ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ كَذَا فِي الِاخْتِيَارِ شَرْحِ الْمُخْتَارِ. الفتاوى الهندية (۲/ ۱۹۸).

۳. إلا ملكة؛ بفتح الميم واللام؛ أي تقتلُ المرأة إذا كانت ملكة لها سطوةٌ وسلطنة على الكفّار، ويقتلُ المقاتل من غير المكلّفين والشيوخ، وكذا ذوو المال، وذوو الرأي في أمورِ الحرب، فإنّ الضررَ بإعانتهم أشدّ، فيقطع أصله بقتلهم. عمدة الرعاية بتحشية شرح الوقاية (٦/ ۹۷).

–ويجوز قتل المرأة اذا كانت ملِكة الأعداء لأن فى قتلها تفريقًا لجمعهم وكذالک إذا كان ملكهم صبيًا صغيرًا وأحضروه معهم فى المعركة لابأس بقتله إذا كان فى قتله تفريق جمعهم.(الفقه الإسلامية وأدلته،ج:۳،ص:۷۲۰).

٤. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ: «مَا ظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ قَطُّ إِلَّا أُلْقِيَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبُ. موطأ مالك ت عبد الباقي (۲/ ٤٦٠).

۵ـد جنګ په حالت کې که چېرته یو کافر د مسلمانانو په وړاندې د خپل ایمان اظهار وکړي او د توحید کلمه ولولي او د خدای د یووالي اقرار وکړي نو په شریعت مطهره کې د داسې شخص وژل جائز نه دي ځکه چې په دې صورت کې یوائې د ایمان په اقرار باندې بسنه کول کافي دي. (۱)

۶ـ مثله (د اندامونو پرې کول) هم جائز نه ده.

۷ـد هغو کسانو وژل چې قصداً جنګ کوونکي نه دي، لکه ښځې، ماشومان، لیوني او بوډاګان. (۲)

۸ـ جهاد ته د ماشومانو (د نابالغولغړزنو او بې ږیرو) بوول.(۳)

۹ـد امیرانو نافرماني او سرکشي کول.(٤)

دریم مطلب:د جهاد مقاصد او اهداف:

لکه څرنګه چې د هر کار او فعالیت موخه معلومه وي همدغه راز الله جَلَّجَلَالُهُ په خپل کتاب کې د وسله وال جهاد موخې او مقاصد مسلمانانو ته په څرګند ډول بیان کړي دي.

جهاد د اسلام له سترو شعایرو څخه دی، سترې موخې، سپیڅلي اهداف او بې شمیره حکمتونه لري، چې ځینې مشهور به یې دلته لوستونکو ته وړاندې کړو.

د جهاد مشهور مقاصد:

جهاد د اسلام له مهمو مفاهیمو څخه دی، چې د نفس، ټولنې، او د حق د دفاع لپاره ترسره کېږي. جهاد یوازې د وسلوالې مبارزې نوم نه دی؛ بلکې هر هغه هڅه ده چې د اسلام د لوړولو، حق ته د بلنې، او ظلم ته د پای ته رسولو لپاره وشي.

۱. **د جهاد اساسي هدف: د الله دین لوړول:**

د جهاد تر ټولو ستر هدف د الله جَلَّجَلَالُهُ د دین لوړول او د ظلم ختمول دي. دا هدف د قرآنکریم او احادیثو له متونو څخه په واضح ډول څرګند شوی.

الله جَلَّجَلَالُهُ **فرمايي:**﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ﴾.(۱)

. الغلول من الكبائر التى يعاقب عليها فى الآخرة اشد عقاب حتى ليجيء الغال يحمل ماغله على ظهره يوم القيامة.(نضرة النعيم فى مكارم اخلاق الرسول الكريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،ج:۱۱،ص:۵۱۴۱).

. ولا يغلوا(أي يسرقوا من الغنيمة.(الفقه الإسلامية وأدلته،ج:۳،ص:۷۲۱).

۱.والكفار اقسام قسم يجحدون البارى جل وعلاشانه واسلامهم اقرارهم بوجوده وقسم يقرون به ولٰكن ينكرون وحدانيته واسلامهم اقرارهم بوحدانيته.(البحرالرائق،ج:۵،ص:۷۴،كتاب السير).(فتاوى حقانية،ج:۴،ص:۳۹۶).

۲. [محرمات الجهاد ومكروهاته] (وينبغي للمسلمين أن لا يغدروا ولا يغلوا ولا يمثلوا؛ لقوله – عَلَيْهِ السَّلَامُ –) أي لقول النبي – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – «لا تغدروا ولا تغلوا ولا تمثلوا» هذا في حديث سليمان بن بريدة وقد تقدم بعضه، وفيه: «اغزوا ولا تغدورا ولا تغلوا ولا تمثلوا ولا تقتلوا وليدا» (والغلول السرقة من المغنم، والغدر الخيانة ونقض العهد، والمثلة المروية في قصة العرنيين منسوخة بالنهي المتأخر هو المنقول) هذا كأنه جواب عن سؤال مقدر كأن القائل يقول هذا الحديث يدل على تحريم المثلة، وحديث العرنيين يدل على إباحتها؟ فأجاب بقوله وحديث العرنيين منسوخ بالنهي المتأخر عن حديث العرنيين.

والدليل على تأخر النهي ما رواه ابن أبي شيبة في " مصنفه " عن عمران بن حصين أنه قال: «ما قام رسول الله – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – لم يعد ماشل الأركان محطياً على الصدقة وينهانا عن المثلة» وتخصيصه بالذكر في خطبته يدل على تأكد الحرمة، والمثلة من مثلت بالرجل أمثل به مثلاً ومثلة إذا سودت وجهه أو قطعت أنفه أو ما أشبه ذلك ذكره في " الفائق ".

: «ولا تقتلوا امرأة ولا صبياً ولا شيخاً فانياً ولا مقعداً ولا أعمى» ش: هذا كله من كلام القدوري في مختصره، وعلله المصنف بقوله م: (لأن المبيح للقتل عندنا هو الحراب، فلا يتحقق منه، ولهذا لا يقتل يابس الشق) ش: أي المفلوج، ويراد باليبس بطلان حسه وذهاب حركته لا أنه ميت حقيقة، كذا في " المغرب ": (والمقطوع اليمين، والمقطوع يده ورجله من خلاف). البناية شرح الهداية (۷/ ۱۰۹).

۳ – عَنِ ابْنِ عُمَرَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ، فَلَمْ يُجِزْهُ، وَعُرِضَهُ يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَهُوَ ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَهُ». سنن أبي داود (۳/ ۱۳۷).

٤ – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ، وَمَنْ يَعْصِينِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ، وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي». مسند أحمد مخرجا (۱۳/ ٤۸۳).

ژباړه: او له هغوی سره وجنګېږئ تر څو فتنه (شرک، ظلم) له منځه ولاړ شي، او دین یوازې د الله لپاره شي.

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **فرمايلي:**{أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ...} (٢).

ژباړه: ماته د دې امر شوی چې تر هغه وخته خلکو سره وجنګېږم، تر څو پورې چې هغوی لا اله الا الله ووايي.

٢. **د مظلومانو دفاع او د ظلم ختمول:**

جهاد د هغو مظلومو خلکو د ساتنې لپاره دی، چې ظلم پرې کېږي، او د هغوی دیني ازادي اخیستل کېږي.

الله جَلَّ جَلَالُهُ **فرمايلي:**﴿وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ﴾.(٣)

ژباړه: او څه شوي دي پر تاسې چې جنګ نه کوئ په لاره د الله کې (د دین د ترقۍ لپاره) او په (خلاصولو) د ضعیفانو کې چې سړي، ښځې او هلکان دي؟.

رسول الله ﷺ **فرمايلي:**{ الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ ...}. (٤)

ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دی، نه به پرې ظلم کوي، نه به یې مرسته پرېږدي، نه به یې سپکاوی کوي.

٣. **د فتنو مخنیوی او د امن ټینګښت:**

جهاد یوازې د جګړې لپاره نه، بلکې د امن ټینګولو لپاره هم مشروع شوی دی. که مسلمانان د خپلو دښمنانو د یرغل پر وړاندې مقاومت ونه کړي، نو فتنه، فساد، او ظلم به زیات شي.

الله جَلَّ جَلَالُهُ **فرمايي:**﴿وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ﴾(٥)

ژباړه: او که چېرې نه وي دفع (منع) کول د الله جَلَّ جَلَالُهُ **خلکو لره، ځینو د دوي لره په ځینو نورو سره، (نو) خامخا به خرابه شوې وه ځمکه (هېواد په ظلم سره).**

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **فرمايلي:**{ والجهادُ ماضٍ منذُ بعثني اللهُ إلى أن يقاتلَ آخِرُ أُمتي الدجالَ، لا يبطِلُه جَوْر جائرٍ، ولا عَدل عادلٍ}. (٦)

ژباړه: جهاد جاري دی له هغه وخت څخه چې زه الله جَلَّ جَلَالُهُ **را لېږلی یم تر دې چې د دې امت وروستني خلک به له دجال سره جګړه کوي، نه به یې د ظالم ظلم او نه به یې د عادل عدل له منځه یوسي.**

٤. **د اسلامي قلمرو دفاع:**

که د اسلام خاوره یا مسلمانان تر برید لاندې راشي، جهاد فرض دی، ځکه چې د خپلواکۍ دفاع یو شرعي مسؤولیت دی.

الله جَلَّ جَلَالُهُ **فرمايلي:**﴿وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا﴾. (٧)

ژباړه: او جنګ کوئ (ای مؤمنانو!) په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ **کې له هغو کسانو سره چې جنګ کوي له تاسې سره او مه کوئ تېری، زیاتی (پر هېچا باندې ای مؤمنانو!).**

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **فرمايلي:**{مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ}. (٨)

ژباړه: څوک چې د خپل مال د ساتنې لپاره ووژل شو، هغه شهید دی.

٥. **د شرک، کفر او فاسدو نظامونو ختمول:**

جهاد د هغه نظامونو ختمولو ته هم لار هواروي، چې ظلم، شرک، او فساد خپروي.

---

١ – (سورة الأنفال: ٣٩).

٢ – صحيح مسلم (١/ ٥١) رقم الحديث(٣٢) – (٢٠).

٣ –(سورة النساء: ٧٥).

٤ – صحيح مسلم (٤/ ١٩٩٦) رقم الحديث ٥٨ – (٢٥٨٠).

٥ – (سورة البقرة: ٢٥١).

٦ – سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٤/ ١٨٤).

٧ – (سورة البقرة: ١٩٠).

٨ – سنن الترمذي ت بشار (٣/ ٨٠).

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي:﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ﴾.(١)

ژباړه: او له هغوی سره وجنګېږئ ترڅو فتنه (شرک، ظلم) له منځه ولاړ شي، او دين يوازې د الله لپاره شي.

رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمايلي:{أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ...} (٢).

ژباړه: ماته د دې امر شوی چې تر هغه وخته خلکو سره وجنګېږم، تر څو پورې چې هغوی لا اله الا الله ووايي.٦.

٦ . د اسلامي عدالت نافذول او ظلم ختمول:

اسلامي جهاد د دې لپاره هم دی چې د عادلانه نظام ټينګښت ته لار هواره کړي، ظلم، استثمار، او نابرابري ختمه کړي.

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي:﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ﴾.(٣)

ژباړه: الله جَلَّجَلَالُهُ په عدل او احسان حکم کوي.

رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمايلي: {فَإِنَّمَا أَهْلَكَ النَّاسَ قَبْلَكُمْ: أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ، وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الحَدَّ}. (٤)

ژباړه: بېشکه پخواني قومونه ځکه هلاک شول چې کله به يو شتمن غلا وکړه هغه به يې پرېښودلو، او که کمزوري به غلا وکړه، حد به يې پرې جاري کړ.

٧ .د انسانانو ازادۍ او بشري کرامت ساتل:

جهاد د دې لپاره هم دی چې خلک د زورواکانو له غلامۍ خلاص کړي او د انسان فطري ازادي وساتي.

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾.(٥) ژباړه: بېشکه موږ د آدم اولادې ته عزت ورکړی.

حضرت عمر رَضِيَاللَّهُعَنْهُ فرمايلي: {متى استعبدتم الناس وقد ولدتهم أمهاتهم أحراراً}؟"

ژباړه: تاسو کله خلک غلامان کړل، حال دا چې د هغوی ميندو هغوی ازاد زېږولي وو؟"

٨ .د اسلامي دعوت ساتنه او خپرونه:

جهاد د اسلام د دعوت د ساتنې او د هغه د خپراوي لپاره هم ترسره کېږي، ترڅو د حق پيغام ټولو ته ورسېږي.

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي: ﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ﴾.(٦)

ژباړه: تر هغه چا ښه خبره د چا ده چې د الله جَلَّجَلَالُهُ لوري ته دعوت کوي؟"

رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمايلي: {لَأَنْ يَهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ}.(٧)

ژباړه: که الله جَلَّجَلَالُهُ ستا په وسيله يو انسان ته هدايت وکړي، نو دا ستا لپاره تر سرو اوښانو هم غوره دی.

٩ .د اقتصادي استثمار او استعماري ظلم ختمول:

اسلامي جهاد د دې لپاره هم دی چې استعمار، استثمار، او اقتصادي ظلم پای ته ورسېږي، او ټول خلک اقتصادي عدالت ته لاسرسی ولري.

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي:﴿كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ﴾.(٨) ژباړه: ترڅو (مال) يوازې د شتمنو ترمنځ لاس په لاس نه شي.

---

١ – (سورة الأنفال: ٣٩).

٢ – صحيح مسلم (١/ ٥١) رقم الحديث(٣٢) – (٢٠).

٣ – (سورة النحل: ٩٠).

٤ – صحيح البخاري (٥/ ١٥٢).

٥ – [سورة الإسراء: ٧٠].

٦ – (سورة فصلت: ٣٣).

٧ – صحيح مسلم (٤/ ١٨٧٢).

٨ – [سورة الحشر: ٧].

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: {مَنْ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ}. (١)

ژباړه: څوک چې احتکار (د لوړې بيعې لپاره د خوراکي توکو ذخيره کول) وکړي، ګناهکار دی.

١٠ .د اسلامي امت يووالی او قوت ټينګول:

جهاد د اسلامي امت د يووالي، عزت، او ځواک لپاره هم دی، ترڅو مسلمانان قوي او مضبوط شي.

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾. (٢)

ژباړه: د الله جَلَّ جَلَالُهُ په رسۍ منګولې ټينګې کړئ، او تفرقه مه کوئ.

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: {الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا}.(٣)

ژباړه: مؤمن د مؤمن لپاره د يوې ودانۍ په څېر دی، چې ځينې برخې يې ځينې نورې قوي کوي.

دريم مبحث د جهاد ګټې، د نه کولو نقصانات او د راز ساتنه

لومړی مطلب :د جهاد ګټې:

الف:له قران کريم څخه:

١ـ الله تعالی فرمايي: ﴿فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْآخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَٰتِلْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا﴾. (٤)

ژباړه:پس جنګ دې وکړي په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې هغه کسان چې خرڅوي دوی د دنيا ژوند په مقابل د آخرت کې او هر څوک چې جنګ وکړي په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې(د دين د ترقۍ لپار) پس شهيد کړی شي، يا غالب(غازي او بريالی شي پر دښمن) ژر به ورکړو مونږ ده ته اجر ډېر لوی.

٢ـ الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾(٥)

ژباړه:او هغه کسان چې ايمان يې راوړی، هجرت يې کړی، جهاد يې کړی، په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې او هغه کسان چې ځای يې ورکړی(مهاجرينو ته) او مرسته يې کړې ده له (رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مهاجرينو سره).دغه موصوف په دغو صفاتو سره يوازې همدوي مؤمنان دي په حقه سره، دوی لره دی مغفرت(بخښنه) او ښه رزق(روزي) (چې جنت دی).

٣ـ الله تعالی فرمايي ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾. (٦)

ژباړه:ای مؤمنانو ! آيا در وښيم تاسې ته هسې تجارت (سوداګري) چې نجات در کوي (خلاصوي تاسې) له دردناک عذاب څخه، (پس دغه تجارت او سوداګري کوئ چې هغه داده): ښه ټينګ محکم مضبوط اوسئ په ايمان باندې، چې لرئ يې په الله جَلَّ جَلَالُهُ او په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (استازي) د دغه (الله جَلَّ جَلَالُهُ) او جهاد کوئ تاسې (ای مؤمنانو له دښمنانو د الله تعالی سره) په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې په اموالو خپلو سره او په نفسونو خپلو سره (چې جنګ ته يې وړاندې کوئ) دغه (ټينګ ايمان، مالي او جاني جهاد) خير (بهتر) دی تاسې ته که تاسې پوهېږئ؟ نو وبه ښيي(الله جَلَّ جَلَالُهُ)تاسې ته ستاسې ګناهونه او داخل به کړي تاسې په جنتونو کې چې بهېږي له لاندې (د ماڼيو او ونو) د هغو ويالې.

---

١ – صحيح مسلم (٣/ ١٢٢٧).

٢ – (سورة آل عمران: ١٠٣).

٣– صحيح البخاري (٣/ ١٢٩).

٤ .(سورة النساء:٧٤).

٥ .(سورة الأنفال:٧٤).

٦ .(سورة الصف–١٠– ١١ .–١٢، ١٣.

ب:له احـــاديـــثـــو څخه:

١ـ{عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْرَوْحَةٌ خَيْرٌمِنْ الدُّنْيَا وَمَافِيهَا...وفي رواية:وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنْ الْجَنَّةِ أَوْمَوْضِعُ قِيدٍ يَعْنِي سَوْطَهُ خَيْرٌمِنْ الدُّنْيَا وَمَافِيهَا وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَابَيْنَهُمَا وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًاوَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِن الدُّنْيَا وَمَافِيهَا...}. (١)

ژباړه:د انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې يو سهار يا يو ماښام تېرول له دنيا څخه او څه چې په دې دنيا کې دي بهتر دي.

يو روايت کې دي په جنت کې تاسو ته د يوې ليندۍ هومره ځای حاصلېدل له دنيا څخه او څه چې په دې دنيا کې دي بهتر دي او که د جنت د حورو نه يوه په دنيا کې راښکاره شي نو هغه به د ځمکې او آسمان تر منځه دا هر څه رڼا کړي او د خوشبو نه به يې ډکه کړي د هغې د سر يو پړونی له ټولې دنيا څخه او څه چې په دې دنيا کې دي بهتر دی.

٢ـ{عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا أَنَّ رِجَالاً مِنْ أُمَّتِي وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَقَالَ فِيهِ وَلَرَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ غَدْوَةٌ خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا...}. (٢)

ژباړه: له ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي:که چېرې زما په امت کې څه کسانو ته مشکلات نه وای زه به د جهاد له يو لښکر نه هم وروسته نه ووم پاتې شوی او په همدې حديث کې يې داسې ويلي د الله په لاره کې يو سهار يا ماښام تېرول له ټولې دنيا څخه او څه چې په دې دنيا کې دي بهتر دي.

٣ـ {عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أَيُّوبَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ رَوْحَةٌ، خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَغَرَبَتْ»}. (٣)

ژباړه: له ابو عبد الرحمن الحبلي څخه روايت دی هغه وايي ما له ابو ايوب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه اورېدلي هغه به ويل رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: د الله په لاره کې په جهاد کې يو سهار يا ماښام تېرول له دې ټولو شيانو نه بهتر دي په کومو شيانو چې لمر پرېوتلی يا راختلی وي.

٤ـ {عن أبي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ «مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، دُعِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يَا عَبْدَ اللَّهِ هَذَا خَيْرٌ لَكَ، وَلِلْجَنَّةِ أَبْوَابٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ...}. (٤)

ژباړه: له ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې ماله رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلي: څوک چې د الله په لاره کې له شيانو څخه دوه شيان مصرف کړي، هغه به د جنت له دروازو څخه را وبللی شي چې ای د الله بنده دا دروازه ستا لپاره غوره ده او د جنت لپاره ډېرې دروازې دي، څوک چې لمونځ ګذار وي هغه به د لمانځه له دروازې څخه را وبللی شي او څوک چې مجاهد وي هغه به د جهاد له دروازې څخه را وبللی شي.

٥ ـ {عن أبي أمامة الباهلي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال ثلاثةٌ كلُّهم ضامنٌ علَى اللَّهِ عزَّ وجلَّ رجلٌ خرجَ غازيًا في سبيلِ اللَّهِ فَهوَ ضامنٌ علَى اللَّهِ حتَّى يتوفَّاهُ فيدخلَه الجنَّةَ أو يردَّهُ بما نالَ من أجرٍ وغنيمةٍ ورجلٌ راحَ إلى المسجدِ فَهوَ ضامنٌ علَى اللَّهِ حتَّى يتوفَّاهُ فيدخلَه الجنَّةَ أو يردَّهُ بما نالَ من أجرٍ وغنيمةٍ ورجلٌ دخلَ بيتَه بسلامٍ فَهوَ ضامنٌ علَى اللَّهِ عزَّ وجلَّ}.(٥)

١.صحيح البخاري (٨/ ١١٧) رقم الحديث-٦٥٦٨.

٢.صحيح مسلم (٣/ ١٥٠٠). رقم الحديث -١٤٤.

٣. صحيح مسلم (٣/ ١٥٠٠) رقم الحديث: ١١٥ - (١٨٨٣).

٤.سنن النسائي (٥/ ٩)

٥. سنن أبي داود (٤/ ١٥٠) ت الأرنؤو ط.

ژباړه:له ابو امامه باهلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی هغه له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت کوی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: درې کسان داسې دي چې الله تعالی يې ضامن دی يو هغه کس دی چې د الله په لاره کې جهاد ته وځي د ده تر وفات کېدلو پورې الله جَلَّ جَلَالُهُ ضامن دی چې يا به يې جنت ته داخل کړي او يا به يې له ثواب او غنيمت سره بېرته را ستون کړي، بل هغه کس دی چې مسجد ته لاړ شي د ده هم الله جَلَّ جَلَالُهُ تر مرګه پورې ضامن دی چې يا به يې جنت ته داخل کړي او يا به يې له ثواب او غنيمت سره بېرته راستون کړي، بل هغه کس دی چې خپلې کوټې ته په سلام سره داخل شي د ده هم الله عز وجل ضامن دی.

٦- {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا يَعْدِلُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ؟ قَالَ: «لَا تَسْتَطِيعُونَهُ»، قَالَ: فَأَعَادُوا عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذَلِكَ يَقُولُ: «لَا تَسْتَطِيعُونَهُ»، وَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ: «مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللهِ، لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ، وَلَا صَلَاةٍ، حَتَّى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى»}. (١).

ژباړه: له ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی هغه وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل شول: د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې له جهاد سره څه شی برابرېدلای شي؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: تاسو يې توان نلرئ، ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل صحابه کرامو بيا پوښتنه تکرار کړه دوه ځلي او يا هم درې ځلي په هر ځل کې به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته فرمايل تاسو يې توان نلرئ، په دريم ځل يې ورته وفرمايل د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې د جهاد کوونکي مثال د هغه روژه دار او د هغه متواضع په لمانځه ولاړ کس په څېردی چې نه له روژې څخه او نه هم له لمانځه څخه ستړی کېږي تر څو چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې مجاهد له خپل جهاد څخه را ستنېږي.

دوهم مطلب: **د جهاد نه کولو نقصانات**:

له قرانکريم څخه:

١ــ الله تعالی فرمايي:﴿قُل إِن كانَ ءاباؤُكُم وَأَبناؤُكُم وَإِخوٰنُكُم وَأَزوٰجُكُم وَعَشيرَتُكُم وَأَموٰلٌ اقتَرَفتُموها وَتِجٰرَةٌ تَخشَونَ كَسادَها وَمَسٰكِنُ تَرضَونَها أَحَبَّ إِلَيكُم مِنَ اللَّهِ وَرَسولِهِ وَجِهادٍ فى سَبيلِهِ فَتَرَبَّصوا حَتّىٰ يَأتِىَ اللَّهُ بِأَمرِهِ ۗ وَاللَّهُ لا يَهدِى القَومَ الفٰسِقينَ﴾. (٢)

ژباړه: وايه (اې محمده!عذر ويونکو ته د هجرت له ترکه) که وي پلرونه ستاسې او ځامن ستاسې او وروڼه ستاسې او ښځې ستاسې او خپلوان ستاسې او هغه مالونه چې ګټلي دي تاسې هغه او (هغه) تجارت (سوداګري) چې وېرېږئ تاسې د ناچلېدلو د هغې او هغه ځايونه د اهستوګنې چې خوښوئ تاسې هغه، ډېر محبوب تاسې ته له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه او له جهاد څخه په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې(د دين د ترقۍ لپاره) نو انتظار کوئ تاسې تر هغه پورې چې راولي(راولېږي) الله جَلَّ جَلَالُهُ امر(حکم د عذاب) خپل او الله جَلَّ جَلَالُهُ نه ښيي لاره سمه صافه قوم فاسقانو ته.

٢ـ الله تعالی فرمايي:﴿يٰأَيُّهَا الَّذينَ ءامَنوا ما لَكُم إِذا قيلَ لَكُمُ انفِروا فى سَبيلِ اللَّهِ اثّاقَلتُم إِلَى الأَرضِ ۚ أَرَضيتُم بِالحَيوٰةِ الدُّنيا مِنَ الآخِرَةِ ۚ فَما مَتٰعُ الحَيوٰةِ الدُّنيا فِى الآخِرَةِ إِلّا قَليلٌ﴾. (٣)

ژباړه:اې مؤمنانو ! څه باعث دی په تاسې کله چې وويل شي تاسې ته چې ووځئ تاسې په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې (غزا ته) درانه (او مائل) کېږئ ځمکې ته (اوغزا ته نه ځئ) ايا راضي شوي يئ تاسې په دې حيات دنيوي(ژوندون لږ خسيس تېرېدونکي) له (نعمتونو) د اخرت څخه؟ او نه دي نفع اخيستل د دې حيات دنيوي (ژوندون لږ خسيس) په (مقابل د نعمتونو) د اخرت کې مګر لږ(حقير) دي.

٣ـ الله تعالی فرمايي:﴿إِلّا تَنفِروا يُعَذِّبكُم عَذابًا أَليمًا وَيَستَبدِل قَومًا غَيرَكُم وَلا تَضُرّوهُ شَيـًٔا ۗ وَاللَّهُ عَلىٰ كُلِّ شَيءٍ قَديرٌ﴾.[٤]

---

١. صحيح مسلم (٣/ ١٤٩٨).

٢.(سورة التوبة:٢٤).

٣.(سورة التوبة:٣٨).

٤.(سورة التوبة:٣٩).

ژباړه:که ونه وځئ تاسې(غزا ته او له رسول الله ﷺ سره لاړ نه شئ) په عذاب به کړي الله جَلَّجَلَالُهُ تاسې په دردناک عذاب سره او بدل به راولي (بل) قوم چې پرته له تاسې څخه به وي او نه شئ رسولی ضرر تاسې دغه الله جَلَّجَلَالُهُ (یارسول الله ﷺ) ته د هېڅ شي او الله جَلَّجَلَالُهُ پر هر شي ښه قادر دی.

۴-الله تعالی فرمايي﴿قُل لَن يَنفَعَكُمُ الفِرارُ إِن فَرَرتُم مِنَ المَوتِ أَوِ القَتلِ وَإِذًا لا تُمَتَّعونَ إِلّا قَليلًا﴾. (١)

ژباړه:وواية (اې محمده دوی ته) چې له سره به نفع نه رسوي تاسو ته تېښته که چېرې وتښتئ تاسې له مرګه یا له قتله او کله چې وتښتېدئ، نو ژوندي به پاتې نه کړی شئ مګر لږ (مدت).

له احادیثو څخه:

١-{عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ، مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ}. (٢)

ژباړه:له ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:څوک چې وفات شي اوغزا یې نه وي کړې او نه یې په خپل زړه کې د جهاد قصد کړی وي، هغه د منافقت په یوه څانګه باندې مړ شو .

٢- {عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا، أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ أَصَابَهُ اللَّهُ بِقَارِعَةٍ»، قَالَ: يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ رَبِّهِ فِي حَدِيثِهِ: «قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ»}.(٣)

ژباړه: له ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: چا چې غزا ونکړه اونه یې د غازي لپاره سامان تیار کړ اونه یې د غازي نیابت وکړ د هغه په کورنۍ کې په خیر سره. الله تعالی به د قیامت له ورځې څخه مخکې ده ته سخت عذاب و رسوي.

٣- {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَقِيَ اللَّهَ بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ لَقِيَ اللَّهَ وَفِيهِ ثُلْمَةٌ»}.(٤)

له ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه وایي: رسول الله ﷺ فرمایلي: څوک چې له الله تعالی سره د جهاد له نښې څخه پرته مخامخ شي نو پداسې حال کې به له هغه سره مخ شي چې په ده کې به نقصان وي.

دریم مطلب:په جهاد کې د سر (راز) ساتنه:

سِر چې یو عربي کلمه ده په لغت کې هغه شي ته ویل کیږي چې انسان یې له ځان سره پټ ساتي.(٥)

د راز ساتنې د معنی اړوند امام ماوردي رحمه الله لیکلي دي :د راز ساتل په انسان کې هغه قوت دی چې په هغه سره د ده ویناګانې له خپېدلو څخه ساتل کیږي او په دې سره د ده کارونه له څرګندېدو څخه پټیږي.

د راز ساتنه د یو مسلمان د نېکو صفاتو څخه یو صفت دی.

الله تعالی فرمايي:﴿وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِۦ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ ۗ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا﴾. (٦)

ژباړه:او کله چې را شي دې (منافقانو) ته کوم امر (خبره) له امن (نصرت) یا (کوم خبر) له وېرې (ماتې) نو مشهوروي دوی هغه (خبر) او که دوی ور رسولې (او پریښي)وی دا خبررسول(د الله جَلَّجَلَالُهُ) ته او حاکمانو خپلو ته له دوی څخه نو خامخا معلوم به وی(تدبیر) د دې کار هغو کسانو ته چې ایستلی(او بېلولی شي ښه له بدو) له دوی څخه (رسول الله او

١.(سورة الأحزاب:١٦).

٢. صحيح مسلم (٣/ ١٥١٧) رقم الحديث -١٥٨ - (١٩١٠).

٣. سنن أبي داود (٣/ ١٠).

٤. سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ١٨٩).

٥ - السرُّ مَا أَسْرَرْتَ به. والسريرةُ: عَمَلُ السِّرِّ مِنْ خَيْرٍ أَو شَرٍّ. وأَسَرَّ الشَّيْءَ: كَتَمَهُ وأَظهره، وَهُوَ مِنَ الأَضداد، سرَرْتُه: كتمته، وسررته: أَعْلَنْته، وَالْوَجْهَانِ جَمِيعًا يُفَسَّرَانِ فِي قَوْلُهُ تَعَالَى: وَأَسَرُّوا النَّدامَةَ. لسان العرب (٤/ ٣٥٧).

- السِرُّ: الذي يُكْتَمُ، والجمع الأسرار. والسَريرة مثله، والجمع السَرائر. الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية (٢/ ٦٨١).

٦.(سورة النساء:٨٣).

امراء، نو تحقیق به یې شوی وي) او که نه وی فضل د الله پر تاسې (په اسلام) او رحمت د ده په (نزول د قرآن) نو هرومرو به تاسې متابعت کړی وای تاسې د شیطان مګر (متابعت به نه و ه کړی له تاسو څخه) لږو.

رسول الله ﷺ ویلي:

{عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اسْتَعِينُوا عَلَى نَجَاحِ الْحَوَائِجِ بِالْكِتْمَانِ لَهَا فَإِنَّ كُلَّ ذِي نِعْمَةٍ مَحْسُودٌ "}.(۱)

ژباړه: له معاذبن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی هغه ویلي رسول الله ﷺ فرمایلي: د حاجتونو د بریالي کولو په هکله د هغو په پټولو سره مرسته تر لاسه کړئ، ځکه د هرنعمت له څښتن سره حسد او کینه کولی شي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: {عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ :اذا حدَّث الرجل بالحديث ثم التفت فهي أمانة}. (۲)

ژباړه: له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي: کله چې یو شخص بل شخص ته خبره کوي او بیا یو او بل طرف ته وګوري پس دا خبره له دغه شخص سره امانت ده.

همدا راز د رسول الله ﷺ د راز ساتونکی حضرت حذیفه ابن الیمان هېڅکله هم د هغه ﷺ راز ونه چاته افشا نه کړل، ځکه هغه ته یې د ټولو منافقینو نومونه ښوولي وو، خو حذیفه رضی الله عنه هېچاته افشاء نه کړل، بلکې یوازې د منافقینو په جنازو کې یې خپله شرکت نه کولو.(۳)

---

۱ – شعب الإيمان (۹/ ۳٦).

۲.سنن أبي داود (٤/ ۲٦۷) رقم الحديث ٤۸٦۸. – سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ۳٤۱) رقم الحديث ۱۹٥۹.

۳وَحَاصِل معنى هَذَا الحَدِيث أَن حُذَيْفَة بن الْيَمَان رَضِي الله عَنهُ، كَانَ صَاحب سر رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فِي شَأْن الْمُنَافِقين وَكَانَ يعرفهُمْ وَلَا يعرفهُمْ غَيره بعد رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم من الْبشر، وَكَانَ النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم أسر إِلَيْهِ بأسماء عدَّة من الْمُنَافِقين وَأهل الْكفْر الَّذين نزلت فيهم الْآيَة، وَلم يسر إِلَيْهِ بأسماء جَمِيعهم. عمدة القاري شرح صحيح البخاري (۱۸/ ۲٦٤).

دوهم فصل: د جهاد او مجاهد فضیلتونه

لومړی مبحث: د جهاد فضایل

لومړی مطلب: د جهاد له نورو عملونو څخه غوره والی:

الف: جهاد له ایمان څخه وروسته غوره عمل دی:

۱ – {عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ قَالَ إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ ...}(۱)

ژباړه: له ابو ذر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه ویلي: ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وکړه، چې کوم عمل افضل دی؟ ویې فرمایل: په الله جَلَّ جَلَالُهُ ایمان او په لاره کې یې جهاد کول.

ب: د مسجد الحرام له ابادولو او حاجیانو ته له اوبو ورکولو څخه یې غوره والی:

۲ - الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: ﴿أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ﴾(۲).

ژباړه: ایا ګڼلې (ګرځولې) دي تاسې اوبه ورکولو حاجیانو ته او ودانول د مسجد حرام په مثل (دایمان) د هغه چا چې ایمان لري په الله جَلَّ جَلَالُهُ او (په) ورځې اخري (دقیامت) او جهاد یې کړی وي په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې، ندي برابر دوی په نزد د الله جَلَّ جَلَالُهُ او الله جَلَّ جَلَالُهُ نه ښیي سمه صافه لاره قوم ظالمانو ته.

۳ – نعمان بن بشیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي زه یوه ورځ د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له منبر سره په نبوي جومات کې حاضر وم، یو سړي وویل: زه که له اسلام څخه وروسته یوازې حاجیانو ته له اوبو ورکولو څخه پرته بل عمل ونه کړم پروانه کوي، او دوهم سړي وویل: چې زه که له اسلام څخه وروسته یوازې د مسجد الحرام له جوړولو څخه پرته بل عمل ونه کړم پروا نه کوي، د لومړي کس په عقیده کې حاجیانو ته اوبه ورکول افضل عمل ؤ، او د دوهم کس په عقیده د مسجد الحرام ابادول افضل عمل ؤ، دریم سړي دوی دواړو ته وویل: داسې نه ده لکه څرنګه چې تاسې وایاست، بلکې تر ټولو افضل او بهتر عمل د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې جهاد کول دي، دا درې تنه عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له دې خبرو څخه منع کړل، او دوی ته یې وویل چې تاسې خپل آوازونه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له منبر سره مه پورته کوئ، راوي وایي: دا د جمعې ورځ وه، عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دوی درې واړو ته وویل زه چې کله د جمعې لمونځ وکړم، نو بیا به د پیغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور ته ورشم، او له هغه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه به د ستاسې ترمنځ چې په کوم شي کې اختلاف دی پوښتنه وکړم، الله جَلَّ جَلَالُهُ دا آیت کریمه نازل کړ(۳).

ج: ایمان، جهاد او حج له غوره عملونو څخه دي:

۴ – رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي:

{عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ قَالَ إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ جِهَادٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ حَجٌّ مَبْرُورٌ}(٤).

---

[۱] صحيح البخاري، (۳/ ۱۴۴)، باب: أي الرقاب أفضل, رقم الحديث : (۲۵۱۸).

[۲] [سورة التوبة: ۱۹].

[۳]: عَنْ زَيْدِ بْنِ سَلَّامٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَلَّامٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي النُّعْمَانُ بْنُ بَشِيرٍ، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَجُلٌ: مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أُسْقِيَ الْحَاجَّ، وَقَالَ آخَرُ: مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أَعْمُرَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ، وَقَالَ آخَرُ: الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَفْضَلُ مِمَّا قُلْتُمْ، فَزَجَرَهُمْ عُمَرُ، وَقَالَ: لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، وَلَكِنْ إِذَا صَلَّيْتُ الْجُمُعَةَ دَخَلْتُ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فِيمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ، فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: {أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ} [التوبة: ۱۹] الْآيَةَ إِلَى آخِرِهَا، صحيح مسلم (۳/ ۱۴۹۹) ۱۱۱ – (۱۸۷۹).

[٤]: صحيح البخاري (۲/ ۱۳۳) رقم الحديث: ۱۵۱۹.

ژباړه: له ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی، هغه وايي: له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وشوه، په اعمالو کې کوم عمل غوره دی؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل: په الله جَلَّ جَلَالُهُ او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ايمان لرل، بيا ورته وويل شول، بيا کوم عمل غوره دی؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل: د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې جهاد کول، بيا ورته وويل شول، بيا کوم عمل غوره دی؟ ورته ويې وفرمايل: قبول شوی حج.

۵ – رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي:

{عَنْ مَاعِزٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سُئِلَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ قَالَ إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَحْدَهُ ثُمَّ الْجِهَادُ ثُمَّ حَجَّةٌ بَرَّةٌ تَفْضُلُ سَائِرَ الْعَمَلِ كَمَا بَيْنَ مَطْلَعِ الشَّمْسِ إِلَى مَغْرِبِهَا.}(۱).

ژباړه: له ماعز رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی، چې له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت کوي، چې له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وشوه، په اعمالو کې کوم عمل غوره دی، هغه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل: په الله جَلَّ جَلَالُهُ واحد لاشريک باندې ايمان لرل، بيا د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې جهاد کول او بيا مقبول حج پر نورو اعمالو دومره فضيلت لري لکه د مشرق او مغرب تر منځ واټن.

د: له پنځه ګونو ارکانو وروسته يې تر ټولو عملونو څخه غوره والی:

۶ – رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي:

{عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ رضي الله تعالى عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَامَ فَخَطَبَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ ذَكَرَ الْجِهَادَ فَلَمْ يَدَعْ شَيْئاً أَفْضَلَ مِنْهُ إِلاَّ الْفَرَائِضَ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، فَهَلْ ذَلِكَ مُكَفِّرٌ عَنْهُ خَطَايَاهُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم:« نَعَمْ إِذَا قُتِلَ صَابِراً مُحْتَسِباً مُقْبِلاً غَيْرَ مُدْبِرٍ إِلاَّ الدَّيْنَ، فَإِنَّهُ مَأْخُوذٌ بِهِ كَمَا زَعَمَ لِي جِبْرِيلُ »}.(۲)

ژباړه: له عبد الله د ابو قتادة له زوی څخه روايت دی هغه له خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پاڅېد د الله جَلَّ جَلَالُهُ حمد او ثنا يې وويله بيايې د جهاد يادونه وکړه يو شی يې هم له فرضي ارکانو څخه پرته له جهاد څخه غوره پرې نښود، يو سړی پورته شو او داسې يې وويل: ای د الله جَلَّ جَلَالُهُ رسوله ! خبر راکړه څوک چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې ووژل شي ايا دا د ده د ګناهونو محوه کوونکی دی؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هو؛ کله چې صبر کوونکی، ثواب غوښتونکی، مخامخ جنګ کوونکی وي او شا اړوونکی نه وي، مګر دين (پور) پرې نه محوه کېږي؛ ځکه په قرض باندې نيول کېږي لکه څنګه چې ماته جبرائيل عليه السلام ويلي.

دوهم مطلب: د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې د سهار او ماښام تېرولو او د ګرد او غبار فضيلت:

۱ – الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَلَا يُنْفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾.(۳)

ژباړه: او نه لګوي دوی (په جهاد کې) هېڅ يوه نفقه وړه او نه لويه او نه قطع کوي هېڅ يو ميدان يا کنده (ځمکه په کفارو پسې) مګر ليکلی شي هغه دوی ته لپاره د دې چې جزا ورکړي دوی ته الله جَلَّ جَلَالُهُ د هغو ډېرو ښو نېکو کارونو چې وو دوی چې کول به يې (په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې).

۲ – رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي:

۱: المسند للامام احمد بن حنبل الشيباني رَحِمَهُ اللَّهُ (۳۱/ ۳۵۰)، رقم الحديث: ۱۹۰۱۰).

۲ – سنن الدارمي–۷–۳۰۴ رقم الحديث–۲۴۶۷.

– الْمُوَاظَبَةُ عَلَى فَرَائِضِ الصَّلَاةِ فِي أَوْقَاتِهَا أَفْضَلُ مِنْ الْجِهَادِ قُلْت : وَقَدْ نَصَّ عَلَى ذَلِكَ الْإِمَامُ السَّرَخْسِيُّ فِي شَرْحِ السِّيَرِ الْكَبِيرِ حَيْثُ قَالَ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ " أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَخْطُبُ النَّاسَ ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ ذَكَرَ الْجِهَادَ فَلَمْ يَدَعْ شَيْئًا أَفْضَلَ مِنْ الْجِهَادِ إلَّا الْفَرَائِضَ " يُرِيدُ بِهِ الْفَرَائِضَ الَّتِي تَثْبُتُ فَرِيضَتُهَا عَيْنًا وَهِيَ الْأَرْكَانُ الْخَمْسَةُ ؛ لِأَنَّ فَرْضَ الْعَيْنِ آكَدُ مِنْ فَرْضِ الْكِفَايَةِ ، وَالثَّوَابُ بِحَسَبِ آكَدِيَّةِ الْفَرْضِيَّةِ ، فَلِهَذَا اسْتَثْنَى الْفَرَائِضَ. رد المحتار علي الدر المختار–٤–۲۹۵.– فتاوي كامليه جلد –۱–٤۷.

۳ – [سورةالتوبة: ۱۲۱].

{عَنْ أَنَس بْن مَالِكٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَرَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ غَدْوَةٌ خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنْ الْجَنَّةِ أَوْ مَوْضِعُ قِيدٍ يَعْنِي سَوْطَهُ خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا}.(١).

ژباړه: له انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی، چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې یو سهار یا یو ماښام وتل، له دنیا او په دنیا کې چې څه دي بهتر دي، او په جنت کې ستاسې د کمان، لیندۍ هومره ځای یا د خپلې قمچینې د ایښودلو هومره ځای له دنیا او په دنیا کې چې څه دي، له ټولو څخه غوره دي، که چېرته یوه جنتي ښځه د ځمکې خلکو ته خپل ځان ښکاره کړي نو د ځمکې او آسمان منځ به روښانه او له ښه بوی څخه ډک کړي، او د هغې په سر باندې پړونی له دنیا او هغه څه چې پدې دنیا کې دي بهتر دی.

٣ – رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي:

{عن عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جَبْرٍ رضي الله عنه قال:سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ}.(٢).

ژباړه: له عبد الرحمن بن جبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې وایی: ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلي دي، چې فرمایل یې: د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې چې د چا پښې ګرد جنې شوې، الله تعالی به هغه په اور حرام کړي.

۴ –رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي:

{عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ، وَلَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ»}.(٣).

ژباړه: له ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي: هغه تن اور ته نه داخلیږي، چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له ویرې یې ژړلي وي، څو لوشل شوې شیدې بېرته غولانځې ته ګرځېدلې نه وي، او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې ګرد او د جهنم دود نه سره یو ځای کیږي.

دریم مطلب: په جهاد کې د وېرې، ټپي کېدو او شهادت فضیلت:

په جهاد کې د وېرې، ټپي کېدو او شهادت فضیلتونو په هکله ډېر احادیث شتون لري چې یو څو یې په لنډ ډول ذکر کوو:

١ – {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ، إِلَّا جَاءَ يَوْمَ القِيَامَةِ اللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ، وَالرِّيحُ رِيحُ المِسْكِ»}.(٤)

ژباړه: له ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه وایي، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: له تاسې څخه یو تن د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې نه زخمي کیږي، او الله جَلَّ جَلَالُهُ په هغه چا ښه عالم دی، چې په لاره کې یې زخمي کیږي، مګر دا چې د قیامت په ورځ به هغه په داسې حالت کې راشي، چې له زخمونو به یې وینې روانې وي، رنګ به یې د وینې وي، خو بوی به یې د مشکو وي.

ابن دقیق العید رَحِمَهُ اللَّهُ وایي، چې د قیامت په ورځ به شیهد په داسې حالت کې راځي، چې له زخم څخه به یې وینه روانه وي، د دې حکمت دا دی، چې د ظالم دښمن پر خلاف ګواهي ده، چې دی د هغه له لاسه شهید شوی دی، او بل دا چې هلته ټولو ولاړو خلکو ته د هغه د شهادت شرف معلوم شي، چې له وینې څخه یې د مشکو بوی ځي(٥).

٢ – {عن أبي أمامة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ، قَطْرَةٌ مِنْ دُمُوعٍ فِي خَشْيَةِ اللَّهِ، وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَأَمَّا الأَثَرَانِ: فَأَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللَّهِ "}(١).

١: صحيح البخاري (٤/ ١٧)رقم الحديث: ٢٧٩٦ .

٢: صحيح البخاري (٢/ ٧)رقم الحديث: ٩٠٧.

٣: سنن الترمذي ت بشار (٣/ ٢٢٣) رقم الحديث–١٦٣٣.

٤: أخرجه البخاري برقم: ٣٨٠٣.

٥: الْكَلْمُ " الْجُرْحُ، وَمَجِيئُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ سَيَلَانِ الْجُرْحِ فِيهِ أَمْرَانِ:أَحَدُهُمَا: الشَّهَادَةُ عَلَى ظَالِمِهِ بِالْقَتْلِ.الثَّانِي: إظْهَارُ شَرَفِهِ لِأَهْلِ الْمَشْهَدِ وَالْمَوْقِفِ بِمَا فِيهِ مِنْ رَائِحَةِ الْمِسْكِ الشَّاهِدَةِ بِالطِّيبِ. إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام (٢/ ٣٠٥).

ژباړه: له ابو امامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی ، هغه له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت کوي، چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: الله جَلَّ جَلَالُهُ ته له دوو څاڅکو او له دوو اثرونو (نښو) څخه زيات بل څه ګران نه دي، لومړی له سترګو څخه هغه اوښکه ده، چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له ويرې و بهېږي، او بله د وينې هغه څاڅکی دی، چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې توييې شي، او له دوو نښو څخه لومړی هغه نښه ده، چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې رامنځ ته شوې وي(لکه زخمي کېدل، تنګاکه او داسې نورې)، او بله هغه نښه ده، چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له فرائضو څخه د يوه فرض د اداء کولو په سبب را منځ ته شوې وي (لکه په ژمي کې په يخو اوبو باندې د اودس کولو له امله لاسونه او پښې چاودې شي او داسې نورې).

حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: چې دوه څاڅکي او دوه غوړپونه داسې دي، چې هغه په الله تعالی باندې ډېر ګران دي، يو د غوسې هغه غوړپ دی، چې يو حليم او بردبار تن يې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا له امله کوي، او بل د مصيبت هغه دردوونکی غوړپ دی، چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ بنده ورباندې صبر او زغم کوي.

په الله تعالی باندې د وينې هغه څاڅکی ګران دی چې يوازې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا په خاطر د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې توييې شوی وي، او بل د اوښکې هغه څاڅکی دی، چې په نيمه شپه کې د سجدې په حالت کې د بنده له سترګو څخه توييې شي، او په خپل ځای کې له الله تعالی څخه پرته بل څوک يې ونه ويني(٢).

٣ – {وعن عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قالت: كان أبو بكر الصديق رضي الله عنه اذا ذكر يوم أحد قال: ذالک يوم كله لطلحة.يعني لطلحة بن عبيد الله. كنت أول من فاء فرأيت رجلا يقاتل مع رسول الله صلى الله عليه وسلم دونه فقلت: كن طلحة. حيث فاتني هذا الموقف. فاذا بطلحة بضع وسبعون، بين طعنة ورمية وضربة، فأصلحنا من شأنه} (٣).

ژباړه: له حضرت عائشې صديقې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا څخه روايت دی هغې ويلي: چې کله به حضرت ابو بکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د احد د غزا يادونه کوله، نو فرمايل به يې، هغه ورځ خو ټوله د حضرت طلحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وه، له ټولو نه لومړی راګرځېدونکی سړی زه وم، کله چې زه راغلم، نو مې وليدل چې يو سړی د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته له کافرانو سره په جنګ بوخت دی، ما وويل يقينا دا سړی به طلحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وي، چې هغه شرف يې ترلاسه کړ، کوم چې له ما څخه پاته شوی ؤ، په دې ورځ د حضرت طلحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پر بدن باندې له ٧٠ زيات د نيزو، غشو او تورو زخمونه وو، چې بيا يې موږ درملنه وکړه، او ملهم او پټۍ مو ورباندې ولګوله.

همدارازالله جَلَّ جَلَالُهُ د شهادت په اړه فرمايي: ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ﴾(٤)

ژباړه: او له خلکو څخه ځينې کسان داسې دي، چې د الله جل جلاله د خوښې ترلاسه کولو لپاره خپل ځان پلوري او الله جل جلاله پر بندګانو ډېر مهربان دی.

تشريح: د جمهورو علماوو په نزد دا آيت شريف د صهيب بن سنان رومي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په اړه نازل شوی دی، چې هغه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مکه مکرمه کې اسلام قبول کړی ؤ، کله چې مسلمانانو مدينې منورې ته هجرت وکړ، نو صهيب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم هجرت وکړ، په لاره کې د مشرکانو له څو کسانو سره مخامخ شو، هغوی غوښتل چې له هجرت څخه يې منع کړي، هغه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له خپلې سوارلۍ را ښکته شو، ټول غشي يې له تيکي څخه را ووېستل، او په لاس کې يې ونيول، او هغوی ته يې وويل: تاسې ما پېژنئ، چې زه په تاسې کې له ټولو څخه ښه غشي ويشتونکی يم، په الله قسم تر څو پوري چې زما په لاس کې يو غشی هم وي، تاسې به زما خوا ته راتلای نه شئ، زه به تاسې په دې ټولو غشو ولم تر څو چې زما توره زما په لاس کې وي تر هغو به زه له تاسو سره جنګېږم، اوس تاسو له ما سره څه کول غواړئ؟

مشرکانو ورته وويل: موږ تا تګ ته نه پرېږدو، ته چې کله مکې مکرمې ته راغلې، غريب وې، هيڅ درسره نه و، اوس چې مالدار شوې له دې ځای څخه تښتې؟

١: سنن الترمذي (٣/ ١٠٩)، والحديث حسن.

٢: مشارع الأشواق الى مصارع العشاق (ص: ٢٦٢).

٣: المرجع السابق (ص: ٢٦٢-٢٦٣).

٤ – [البقرة: ٢٠٧].

که ته خپل ټول هغه مال چې په مکه مکرمه کې ده، موږ ته راکړې، نو تا به خوشي کړو، د دواړو ترمنځ په همدې خبره تړون وشو، حضرت صهیب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغو ته د خپل مال ادرس او پته ورکړه، او ترې راغی، په مدینه منوره کې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څنګ ته راغی، او له هغه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره یو ځای شو الله تعالی یې په اړه پورتنی آیت شریف نازل کړ. بیا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل: اې ابو یحیی! تا د ډېرې غټې غټې تجارت وکړ، او بیا یې دا آیت شریف ورته تلاوت کړ(١).

څلورم مطلب: **د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې د نفقې فضیلت**:

١- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: ﴿مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾.(٢)

ژباړه: څوک دی هغه سړی چې قرض ور کوي الله جَلَّ جَلَالُهُ لره نیک قرض (دزړه له اخلاصه د الله په لاره په صرفولو سره) نو زیات به کړي الله جَلَّ جَلَالُهُ (ثواب) د قرض ده لره په زیاتوالي ډېر او الله جَلَّ جَلَالُهُ تنګوي (رزق) او پراخوي (رزق) او هم (خاص) بیا به ده ته بیولي کیږئ! (داعمالو دجزا لپاره).

٢- همداراز الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: ﴿مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِئَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾ (٣)

ژباړه: مثال (صفت دنفقې او ورکړې) د هغو کسانو چې صرفوي مالونه خپل په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ (په جهاد او نورو عبادتونو) کې په مثل د یوې دانې (دتخم)دی چې زرغونه کړي دا (دانه) اوه وږي، په هر یوه وږي کې سل (سل) دانې وي، او الله جَلَّ جَلَالُهُ زیاتوي (اجر) لپاره دهغه چاچې اراده وکړي(د اجر دزیاتولو) او الله جَلَّ جَلَالُهُ پراخ دی (احسان، فضل، او رحمت دده) ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

٣- {عَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَنْفَقَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ كُتِبَتْ لَهُ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ»}(٤).

ژباړه: له خریم بن فاتک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی، هغه وایي، چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: څوک چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې نفقه وکړي، د هغه لپاره به اووه سوه چنده زیات ثواب لیکل کیږي.

٤- {عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ بِنَاقَةٍ مَخْطُومَةٍ فَقَالَ هَذِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُمِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُومَةٌ »} (٥).

ژباړه: له ابو مسعود انصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی، چې وایي، یوه تن مهار کړې اوښه راوستله، او ویې ویل، چې دا د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې صدقه ده، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل: د قیامت په ورځ به د دې په بدله کې ستا لپاره اووه سوه مهار شوې اوښې وي. (یعنې د اووه سوه اوښانو ثواب به درکول کیږي).

دوهم مبحث: د مجاهد فضیلت

لومړی مطلب: **د مجاهد مقام او مرتبه**:

د الله جَلَّ جَلَالُهُ په وړاندې دمجاهد د مقام او مرتبې په اړه هم یو شمېر احادیث شتون لري چې یو څو به یې په لنډ ډول ذکر کړو:

١: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغاءَ مَرْضاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَؤُفٌ بِالْعِبادِ (٢٠٧).

ابْتِغاءَ نُصِبَ عَلَى الْمَفْعُولِ مِنْ أَجْلِهِ. وَلَمَّا ذَكَرَ صَنِيعَ الْمُنَافِقِينَ ذَكَرَ بَعْدَهُ صَنِيعَ الْمُؤْمِنِينَ. قِيلَ: نَزَلَتْ فِي صُهَيْبٍ «٣» فَإِنَّهُ أَقْبَلَ مُهَاجِرًا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّبَعَهُ نَفَرٌ مِنْ قُرَيْشٍ، فَنَزَلَ عَنْ رَاحِلَتِهِ، وَانْتَثَلَ مَا فِي كِنَانَتِهِ «٤»، وَأَخَذَ قَوْسَهُ، وَقَالَ: لَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي مِنْ أَرْمَاكُمْ، وَايْمُ اللَّهِ لَا تَصِلُونَ إِلَيَّ حَتَّى أَرْمِيَ بِمَا فِي كِنَانَتِي، ثُمَّ أَضْرِبُ بِسَيْفِي مَا بَقِيَ فِي يدي منه شي، ثُمَّ افْعَلُوا مَا شِئْتُمْ. فَقَالُوا: لَا نَتْرُكُكَ تَذْهَبُ عَنَّا غَنِيًّا وَقَدْ جِئْتَنَا صُعْلُوكًا، وَلَكِنْ دُلَّنَا عَلَى مَالِكَ بِمَكَّةَ وَنُخَلِّي عَنْكَ، وَعَاهَدُوهُ عَلَى ذَلِكَ فَفَعَلَ، فَلَمَّا قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَتْ:" وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغاءَ مَرْضاتِ اللَّهِ" الْآيَةَ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" رَبِحَ الْبَيْعُ أَبَا يَحْيَى"، وَتَلَا عَلَيْهِ الْآيَةَ، تفسير القرطبي (٣/ ٢٠).

٢: [البقرة: ٢٤٥].

٣[البقرة: ٢٦١].

٤: سنن الترمذي: (٣/ ٩٠) والحديث صحيح.

٥: أخرجه مسلم برقم: ٥٠٠٥.

١- {عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ النَّاسِ؟ رَجُلٌ مُمْسِكٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِالَّذِي يَتْلُوهُ؟ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِي غُنَيْمَةٍ لَهُ يُؤَدِّي حَقَّ اللَّهِ فِيهَا. أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِشَرِّ النَّاسِ؟ رَجُلٌ يُسْأَلُ بِاللَّهِ وَلَا يُعْطِي بِهِ»}(١).

ژباړه: له ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا څخه روایت دی، چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: آیا تاسې ته تر ټولو د غوره شخص په اړه معلومات در نه کړم؟

لومړی هغه تن چې د خپل آس قیضه یې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې نیولې وي.

او آیا د هغه شخص په اړه خبر در نه کړم، چې ورته نږدې دی (تر لومړني وروسته دی)؟

هغه تن دی، چې په یوې رمې کې له خلکو لیرې وي، او د الله جَلَّ جَلَالُهُ حق (زکوة) په کې اداء کوي، او آیا تاسې ته په خلکو کې دناوړه کس په اړه خبر در نه کړم؟ هغه کس دی چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نوم ترې غوښتنه وشي، او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نوم یې نه ورکوي.

٢- {قال أبو هريرة رضي الله عنه: أ يستطيع أحدكم أن يقوم فلا يفتر، ويصوم فلا يفطر ما كان حيا؟ قيل: ومن يطيق ذالک يا أبا هريرة؟ قال: والذي نفسي بيده ان نوم المجاهد في سبيل الله أفضل منه}(٢).

ژباړه: ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي: آیا له تاسې څخه کوم تن دا توان لري، چې تل قیام کوي او ستړی کیږي نه، او روژه نیسي، تر څو چې ژوندی وي ماته یې نه کړي. ورته وویل شول: اې ابو هریره! څوک د دې طاقت او توان لري؟

ویې ویل: زما دې په هغه ذات قسم وي، چې زما ساه یې په لاس کې ده، بېشکه چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې د مجاهد خوب ترې غوره دی.

٤ - { عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِهِ، كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْخَاشِعِ الرَّاكِعِ السَّاجِدِ» }(٣).

ژباړه: له ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه وایي: ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې: بېشکه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې د مجاهد مثال او الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه تن ښه پېژني چې په لاره کې یې جهاد کوي د هغه چا په شان دی چې ټول عمر لمونځ کوونکی روژه نیوونکی، له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه وېره کوونکی، رکوع کوونکی او سجده کوونکی وي.

٥- الله جَلَّ جَلَالُهُ مجاهد ته په جنت کې سل درجې زیاتې ورکوي، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي:

﴿فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا دَرَجَاتٍ مِنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا﴾.(٤).

ژباړه: الله جَلَّ جَلَالُهُ جهاد کوونکو ته فضیلت ورکړی په (لګولو د) مالونو خپلو سره او (په جارولو د) ځانونو خپلو سره پر کیناستونکو باندې (له معذرته) په درجه کې او له ټولو سره (که مجاهد وي که معذور ناست) وعده کړې ده الله جَلَّ جَلَالُهُ د ښې جزا (جنت) او فضیلت ورکړی دی الله جَلَّ جَلَالُهُ جهاد کوونکو ته پر کیناستونکو (له معذرته) په اجر عظیم ډېر لوی سره چې مرتبې دي (لویې چې په عزت او کرامت کې سره متفاوتې دي) له (جانبه د) الله جَلَّ جَلَالُهُ مغفرت او رحمت دی.

٦ - {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ هَاجَرَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نُنَبِّئُ النَّاسَ بِذَلِكَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللَّهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِهِ كُلُّ دَرَجَتَيْنِ مَا بَيْنَهُمَا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَسَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ وَفَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ}(٥).

١: سنن الترمذي (٤/ ١٨٢)، رقم الحديث: ١٦٥٢.

٢: مشارع الأشواق ص: ٩٠.

٣: سنن النسائي (٦/ ١٨). رقم الحديث ٣١٢٧.

٤ - [سورةالنساء: ٩٥، ٩٦].

٥: صحيح البخاري (٩/ ١٢٥)، رقم الحديث: ٧٤٢٣.

ژباړه: له حضرت ابو هريره رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ څخه روايت دی، هغه له رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ څخه روايت کوي چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمايلي دي: څوک چې په الله جَلَّجَلَالُهُ او رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ايمان ولري، لمونځ ادا کړي، د رمضان مياشتې روژه ونيسي، پر الله جَلَّجَلَالُهُ باندې يې دا حق دی، چې جنت ته يې داخل کړي، چې د الله جَلَّجَلَالُهُ په لاره کې جهاد هجرت وکړي، يا په هغه ځمکه کې کښيني، چې پکې زېږېدلی دی.

صحابه کرامو رَضِيَٱللَّهُعَنْهُمْ وفرمايل: آيا موږ خلک په دې خبر نه کړو؟

رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمايل: بېشکه په جنت کې سل درجې دي، چې الله جَلَّجَلَالُهُ د هغو مجاهدينو لپاره برابرې کړې دي، چې د الله جَلَّجَلَالُهُ په لاره کې جهاد کوي، د هرو دوو درجو ترمنځ به دومره فاصله وي، لکه د آسمان او ځمکې ترمنځ، کله چې مو له الله جَلَّجَلَالُهُ څخه سوال کا ؤ، نو د فردوس جنت غوښتنه کوئ؛ ځکه دا درميانه او اوچت جنت دی، چې له پاسه يې د الله جَلَّجَلَالُهُ عرش دی، او له همدې ځايه د جنت ويالې بهيږي.

٧ـ { عَن أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ قَالَ: قِيلَ يَارَسُولَ اللهِ أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ قَالُوا ثُمَّ مَنْ قَالَ مُؤْمِنٌ فِي شِعْبٍ مِنْ الشِّعَابِ يَتَّقِي اللهَ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ}.(١)

ژباړه: له ابو سعيد خدري رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته وويل شول: په خلکو کې څوک ډېر غوره دي؟ رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې د الله جَلَّجَلَالُهُ په لاره کې په خپل مال او نفس سره جهاد کوي بيا يې عرض وکړ چې بل څوک له ده څخه وروسته ډېر غوره دی؟ رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې په هره دره کې اوسېږي خو له الله جَلَّجَلَالُهُ څخه ويرېږي او خلک يې له شر څخه محفوظ وي.

٨ ـ {عن أبي أمامة الباهلي رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ عن رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ قال ثلاثةٌ كلُّهم ضامنٌ علَى اللَّهِ عزَّ وجلَّ: رجلٌ خرجَ غازيًا في سبيلِ اللَّهِ فَهوَ ضامنٌ علَى اللَّهِ حتَّى يتوفَّاهُ فيدخلَه الجنَّةَ أو يردَّهُ بما نالَ من أجرٍ وغنيمةٍ. ورجلٌ راحَ إلى المسجدِ فَهوَ ضامنٌ علَى اللَّهِ حتَّى يتوفَّاهُ فيدخلَه الجنَّةَ أو يردَّهُ بما نالَ من أجرٍ وغنيمةٍ. ورجلٌ دخلَ بيتَه بسلامٍ فَهوَ ضامنٌ علَى اللَّهِ عزَّ وجلَّ}. (٢)

ژباړه: د ابو امامه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمايلي: درې کسان داسې دي چې په بشپړ ډول د الله تعالی په کفالت کې دي: يو هغه کس دی چې د الله په لاره کې جهاد ته وځي، دی د الله تعالی په کفالت کې دی يا به ورته د شهادت مرګ ورکړي، جنت ته به يې داخل کړي او يا به يې له اجر او غنيمت سره ژوندی راستون کړي.او بل هغه کس دی چې مسجد ته لاړ شي دغه کس هم د الله جَلَّجَلَالُهُ په کفالت کې دی تر دې چې الله جَلَّجَلَالُهُ يې وفات کړي، جنت ته يې داخل کړي او يا يې له غنيمت او ثواب سره راستون کړي. او بل هغه کس دی چې خپل کور ته د سلام په ويلو سره داخل شي د اهم د الله جَلَّجَلَالُهُ په کفالت کې دی.

دويم مطلب: **مجاهدينو ته د سامان برابرولو او له هغوی سره د مرسته کولو فضيلت**:

په پورتني مطالبو کې دجهاد او مجاهد فضايل ذکر شول دلته به د هغو کسانو فضايل په لنډ ډول بيان کړو چې له مجاهدينو سره مرسته کوي

١ – {عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي لِحْيَانَ مِنْ هُذَيْلٍ فَقَالَ « لِيَنْبَعِثْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا وَالأَجْرُ بَيْنَهُمَا »}.(٣).

ژباړه: له ابو سعيد خدري رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ څخه روايت دی هغه وايي: رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د هزيل قبيلې شاخ بنو لحيان پر ضد د جهاد کولو لپاره لښکر وليږو او د نورو قبيلو مجاهدينو ته يې دا پيغام واستاوو، چې له هرو دوو تنو څخه دې يو تن جهاد ته ووځي، او اجر به د دواړو ترمنځ شريک وي.

---

١. صحيح البخاري (٤/ ١٥) رقم الحديث ٢٧٨٦ –.

٢.(سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٤/ ١٤٩)٢٤٩٤ –.

٣: صحيح مسلم للنيسابوري (٦/ ٤٢)، رقم الحديث: ٥٠١٣.

۲ – {عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ « مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَهُ فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا »}. (۱).

ژباړه: له زید بن خالد الجهني رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي، چې هغه صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: چا چې د الله جل جلاله په لاره کې غازي ته د جهاد سامان ورکړ؛ نو هغه غزا وکړه، او چا چې په ښه ډول د غازي د کورنۍ سرپرستي وکړه نو هغه هم غزا وکړه.

۳ – {عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، أَنَّ سَهْلًا، حَدَّثَهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَعَانَ مُجَاهِدًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، أَوْ غَازِيًا فِي عُسْرَتِهِ، أَوْ مُكَاتَبًا فِي رَقَبَتِهِ، أَظَلَّهُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ، يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ»}.(۲).

ژباړه: له عبد الله بن سهل بن حنیف رضي الله عنه څخه روایت دی، چې سهل رضي الله عنه ورته حدیث شریف بیان کړی دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: چا چې د الله جل جلاله په لاره کې له مجاهد سره مرسته وکړه، او یا یې له کوم غازي سره په سختۍ کې مرسته وکړه، یا یې له مکاتب غلام سره د هغه په آزادولو کې مرسته وکړه؛ نو الله جل جلاله به هغه ته تر خپل سیوري لاندې په هغه ورځ ځای ورکړي، چې بل سیوری به نه وي.

۴- {وقال عبد الله بن مسعود رضي الله عنه : لأن أجهز سوطا في سبيل الله أحب من حجة بعد حجة الاسلام}.(۳).

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي: که زه د الله جل جلاله په لاره کې یوه قمچینه مجاهد ته ورکړم؛ نو دا ما ته له نفلي حج څخه غوره ده.

۵- {عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفْضَلُ الصَّدَقَاتِ ظِلُّ فُسْطَاطٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَمَنِيحَةُ خَادِمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ}.(٤)

ژباړه: له ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: تر ټولو غوره صدقه د الله جل جلاله په لاره کې د خیمې سیوری ورکول دي، یا غلام (خادم) ورکول دي، یا د هم د ځوانې اوښې ورکول دي.

د پورتني حدیث شریف مطلب دا دی، چې خلکو ته له مجاهدینو سره د مرستې کولو ترغیب ورکوي، تر څو د الله جل جلاله په لاره کې خېمه ، یا خادم ورکړي، یا له مجاهدینو سره مدد او مرسته وکړي، یا له دریو کلونو څخه د زیات عمر درلودونکې اوښه ورکړي، چې مجاهدین ورباندې سپاره شي، او دا درې واړه د الله جل جلاله په لاره کې له غوره صدقاتو څخه دي.

دریم مطلب: په جهاد کې د ځوانۍ تېرولو او مخکې کېدو فضیلت:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي:

{من شاب شيبة في سبيل الله عز وجل كانت له نورا يوم القيامة}.(٥)

ژباړه: د چا چې د الله جل جلاله په لاره کې وېښتان سپین شي، د قیامت په ورځ به د هغه لپاره نور (روښنایي) وي.

دریم مبحث: له جهاد سره مینه

لومړی مطلب: په جهاد کې د مجاهدینو ترمنځ ایثار او همدردي:

۱ - الله جل جلاله فرمایي: ﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾. (٦)

ژباړه: او غوره کوي (مهاجران) مقدموي یې پر خپلو ځانونو او اګر که وي پر دوی باندې تنګي.

---

[۱]: صحيح مسلم للنيسابوري (٦/ ٤١)، رقم الحديث: ٥٠١١.

[۲]: مسند ابن أبي شيبة (١/ ٦٦).

[۳]: مشارع الاشواق الى مصارع العشاق (ص: ١٨٠).

[٤]: سنن الترمذي ت بشار (٣/ ٢٢٠).

[٥]: سنن البيهقي (٩/ ١٦١).

[٦] – [سورة الحشر: ٩].

۲ – { عَنْ أَبِي الْجَهْمِ بْنِ حُذَيْفَةَ الْعَدَوِيِّ قَالَ: «انْطَلَقْتُ يَوْمَ الْيَرْمُوكِ أَطْلُبُ ابْنَ عَمِّي , وَمَعِي شَنَّةٌ مِنْ مَاءٍ وَإِنَاءٍ، فَقُلْتُ: إِنْ كَانَ بِهِ رِمَاقٌ سَقَيْتُهُ مِنَ الْمَاءِ، وَمَسَحْتُ بِهِ وَجْهَهُ، فَإِذَا أَنَا بِهِ يَنْشَغُ، فَقُلْتُ: أَسْقِيكَ؟ فَأَشَارَ أَنْ نَعَمْ. فَإِذَا رَجُلٌ يَقُولُ: آهٍ فَأَشَارَ ابْنُ عَمِّي أَنِ انْطَلِقْ إِلَيْهِ، فَإِذَا هُوَ هِشَامُ بْنُ الْعَاصِ أَخُو عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: أَسْقِيكَ؟ فَسَمِعَ آخَرَ يَقُولُ: آهٍ فَأَشَارَ هِشَامٌ أَنِ انْطَلِقْ بِهِ إِلَيْهِ، فَجِئْتُهُ، فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ، ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَى هِشَامٍ، فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ، ثُمَّ أَتَيْتُ ابْنَ عَمِّي فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ»}.(۱).

ژباړه: له ابو جهم بن حذیفه عدوي څخه روایت دی، چې وایي: زه د یرموک د غزا په ورځ د خپل تره زوی پسې وګرځېدم، چې له ما سره د اوبو ژی او یو لوښی ؤ، او ومې ویل که د ژوندانه له څه برخې څخه برخمن وي، نو اوبه به پرې وڅښم، او مخ ته به یې ور وشیندم، چې نا څاپه مې وموند، چې وروستۍ سلګۍ یې وې، ما ورته وویل: آیا اوبه درکړم؟ نو اشاره یې را ته وکړه، چې هو، چې په دې وخت کې نا څاپه یو بل زخمي آه وکړ، نو زما د تره زوی را ته اشاره وکړه، چې هغه ته ورشه او هغه ته اوبه ور وړه، چې هغه هشام بن العاص د عمرو بن العاص ورور ؤ، ما ورته وویل اوبه درکړم؟ چې بل زخمي دا خبره واورېده، او آه یې وکړ، هشام را ته اشاره وکړه، چې هلته ورشه، کله چې ورغلم، هغه شهید شوی ؤ، بېرته هشام ته راغلم، هغه هم شهید شوی ؤ، او بیا خپل د تره زوی ته راغلم، چې هغه هم شهید شوی ؤ.

دوهم مطلب: له جهاد سره د رسول الله ﷺ مینه:

د رسول الله ﷺ له جهاد سره ډېره مینه وه چې لاندې احادیث پرې دلالت کوي:

۱ – {عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو صَالِحٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ، وَلَكِنْ لاَ أَجِدُ حَمُولَةً، وَلاَ أَجِدُ مَا أَحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ، وَيَشُقُّ عَلَيَّ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي، وَلَوَدِدْتُ أَنِّي قَاتَلْتُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقُتِلْتُ، ثُمَّ أُحْيِيتُ ثُمَّ قُتِلْتُ، ثُمَّ أُحْيِيتُ»}(۲)

ژباړه: له یحیی بن سعید الانصاري څخه روایت دی هغه وایي ماته ابو صالح حدیث بیان کړی دی هغه وایي ماله ابو هریرة رضی الله عنه څخه اورېدلي دي چې ویل به یې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: که زما په امت باندې نه سختېدلای زه به له یوې سرییې څخه هم وروسته نه وای پاتې شوی، خو زه سورلۍ نه مومم او هغه څه نه مومم چې هغوی پرې سواره کړم او دا په ما سخته تمامېږي چې دوی له ما څخه وروسته پاتې شي او زه هرومرو دا خوښوم چې د الله جل جلاله په لاره کې جهاد وکړم او ووژل شم بیا را ژوندی کړل شم بیا ووژل شم او بیا را ژوندی کړل شم.

۲ – {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ وَدِدْتُ أَنِّي أُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَأُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ فَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يَقُولُهُنَّ ثَلَاثًا أَشْهَدُ بِاللَّهِ}. (۳).

ژباړه: له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په هغه ذات مې قسم دی چې زما ساه یې په لاس کې ده، زه دا خوښوم، چې د الله جل جلاله په لاره کې جهاد وکړم او شهید شم، بیا ژوندی شم، بیا شهید شم، بیا ژوندی شم، بیا شهید شم.

۳ – **رسول الله ﷺ فرمایلي:** {« عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ قَالَ: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ جَبَلَةَ قَالَ: حَدَّثَنِي طَاوُسٌ الْيَمَانِيُّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ بَعَثَنِي بِالسَّيْفِ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ، وَجَعَلَ رِزْقِي تَحْتَ ظِلِّ رُمْحِي، وَجَعَلَ الذُّلَّ وَالصَّغَارَ عَلَى مَنْ خَالَفَنِي، وَمَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ»}.(٤)

---

[۱]: الجهاد لابن المبارك (ص: ۹۷).

[۲] – صحيح البخاري (٤/ ٥٣) رقم الحديث –٢٩٧٥.

[۳]: صحيح البخاري (٩/ ٨٢).

[٤]: الجهاد لابن المبارك (ص: ٨٩)

ژباړه: له امام اوزاعي رَحِمَهُ اللَّهُ څخه روايت دی هغه وايي مونږ ته سعيدبن جبلة حديث بيان کړی هغه وايی ماته طاوس يماني رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث بيان کړی هغه وايي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: الله جَلَّ جَلَالُهُ زه تر قيامت مخکې له تورې سره رالېږلی يم، او زما روزي يې د تورې تر سيوري لاندې کړځولې ده.

دريم مطلب: **له جهاد سره د صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ مينه**:

صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ هم له جهاد سره زياته مينه لرله چې لاندې آياتونو او حديث څخه څرګندېږي:

۱ – {عَنِ الضَّحَّاكِ فِي قَوْلِهِ: « {كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ} [البقرة: ۲۱٦] . قَالَ: فَنَزَلَتْ آيَةُ الْقِتَالِ فَكَرِهُوهَا , فَلَمَّا بَيَّنَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ثَوَابَ أَهْلِ الْقِتَالِ , وَفَضِيلَةَ أَهْلِ الْقِتَالِ , وَمَا أَعَدَّ اللَّهُ لِأَهْلِ الْقِتَالِ مِنَ الْحَيَاةِ وَالرِّزْقِ لَهُمْ، لَمْ يُؤْثِرْ أَهْلُ الْيَقِينِ بِذَلِكَ عَلَى الْجِهَادِ شَيْئًا، فَأَحَبُّوهُ وَرَغِبُوا فِيهِ, حَتَّى أَنَّهُمْ يَسْتَحْمِلُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , فَإِذَا لَمْ يَجِدْ مَا يَحْمِلُهُمْ {تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ} [التوبة: ۹۲] , وَالْجِهَادُ فَرِيضَةٌ مِنْ فَرَائِضِ اللَّهِ»}.(۱)

ژباړه: امام ضَحّاک د دې آيت شريف ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ﴾. (۲) لاندې فرمايي:

کله چې د جهاد آيت شريف نازل شو، نو دوی بد وګاڼه، خو کله چې الله جَلَّ جَلَالُهُ د مجاهدينو ثواب او فضيلت بيان کړ، او هغه څه يې هم بيان کړل، چې الله جَلَّ جَلَالُهُ مجاهدينو ته د ژوند او رزق په اړه چمتو کړي دي، نو بيا د يقين څښتنانو پر جهاد باندې هيڅ شی هم غوره ونه ګاڼه، او له جهاد سره يې ډېره مينه کوله، او شوق او رغبت يې ورته ؤ، تر دې چې جهاد ته د وتلو له امله يې له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه سوارلی او د جهاد وسايل غوښتل، خو کله چې به ورته پيدا نه شول، نو بيا به ببرته داسې پرېشانه او نا اميده ستانه شول چې له سترګو به يې اوښکې روانې وې او جهاد د الله جَلَّ جَلَالُهُ له فرايضو څخه يوه فريضه ده.

څلورم مطلب: **له مجاهد سره د جها له امله د حورو مينه**:

د جهاد له امله له مجاهد سره حورې زياته مينه لري له لاندې احاديثو څخه څرګندېږي:

۱ – {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «ذُكِرَ الشُّهَدَاءُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:» لَا تَجِفُّ الْأَرْضُ مِنْ دَمِهِ حَتَّى تَبْتَدِرَهُ زَوْجَتَاهُ كَأَنَّهُمَا ظِئْرَانِ أَضَلَّتَا فَصِيلَهُمَا فِي بَرَاحٍ مِنَ الْأَرْضِ بَيْدَاءَ، وَفِي يَدِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا حُلَّةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا "}.(۳).

ژباړه: له ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی هغه وايي: د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وړاندې د شهيدانو يادونه وشوه، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د شهيد له وينو څخه ځمکه لا نه وي وچه شوې، چې دوې حورې يې ډېر په تلوار سره ورته راشي، لکه دوه تي ورکوونکي اوښې، چې خپل بچي يې په لويه دښته کې ورک کړي وي، او د هرې يوې حورې په لاس کې داسې جامې وي، چې له دنيا او هغه څه څخه غوره دي چې په دې دنيا کې دي.

۲ – {عنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَرَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ غَدْوَةٌ خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ مِنْ الْجَنَّةِ أَوْ مَوْضِعُ قِيدٍ يَعْنِي سَوْطَهُ خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا}.(٤)

ژباړه: له انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی هغه وايي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې يو سهار يا يو ماښام وتل له دنيا او هغه څه چې په دنيا کې دي بهتر دي، او په جنت کې ستاسې د کمان (ليندۍ) هومره ځای يا د خپلې قمچينې د ايښودلو هومره ځای له دنيا او هغه څه چې په دنيا کې، له ټولو څخه غوره دی، که چېرته يوه جنتي ښځه د ځمکې خلکو ته خپل ځان ښکاره کړي نو ټوله ځمکه به روښانه او له خوش بويي څخه ډکه کړي، او د هغې پړونی له دنيا او د دنيا له ټولو شيانو څخه غوره دی.

---

[۱]: المرجع السابق (ص: ٦٦).

[۲] – سورة[البقرة: ۲۱٦].

[۳]: الجهاد لابن المبارک (ص: ۳۷).

[٤]: صحيح البخاري (٤/ ۱۷)– برقم: ۲۷۹٦ ومسلم برقم: ۱۸۸۰.

دویم باب: اسلامي حکومتولي

لومړی فصل: امارت

لومړی مبحث: د امارت او امیر تعریف، اهمیت او دټاکلو شرطونه یې

لومړی مطلب: د امارت او امیر تعریف:

په اسلام کې د اسلامي ټولنې لومړی درجه مشر ته امام، امیر یا خلیفه وایي، امام په لغت کې پیشوا، رئیس ته ویل کېږي.(۱) امام نووي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ویلي: امام، خلیفه او امیر المومنین درې واړه مترادف الفاظ دي. (۲)

د امامت د اصطلاحي معنی په هکله د علماوو مختلف نظرونه دي: ځینې علماوو د علامه ابن خلدون قول غوره ګڼلی چې وایي:

[والخلافة هي حمل الكافّة على مقتضى النّظر الشّرعي في مصالحهم الأخرويّة والدّنيويّة الرّاجعة إليها إذ أحوال الدّنيا ترجع كلّها عند الشّارع إلى اعتبارها بمصالح الآخرة فهي في الحقيقة خلافة عن صاحب الشّرع في حراسة الدّين وسياسة الدّنيا به] (۳)

ژباړه: د خلکو ټولې چارې له شرعي غوښتنو سره سم اخروي او دنیوي مصلحتونو ته په کتو پرمخ بیولو ته "امامت یا خلافت" وایي، دا ځکه چې دنیوي احوال هم د شارع په نزد هغه معتبر دي چې اخروي مصالحو سره په توافق کې وي، نو خلافت او امامت په حقیقت کې د دین په نګهبانۍ او د دیني اصولو له مخې دنیوي سیاسي چارو پر مخ بیولو کې د شریعت له څښتن څخه نیابت او خلافت دی.

دا چې د امامت او خلافت څومره تعریفونه علماوو کړي دي څو لاندې خبرې ترې څرګندیږي:

۱- دیني امورو او د هغو اهتمام ته لومړیتوب ورکول او بیا د دنیوي امورو ساتنه کول.

۲- دنیوي سیاست د دیني اصولو او تعلیماتو په مټ پرمخ بیول.

۳- دین له سیاست څخه جلا نه ګڼل.

۴- د وضعي قوانینو او شهواني تقاضاوو په اساس سیاست مخ ته نه وړل.

د خلیفه او امیر المومنین اطلاق له راشده خلفاوو څخه پرته:

د اهل السنة والجماعة په نزد د خلیفه کلمه کارول هغو بادشاهانو ته هم روا دي چې تر خلفاء راشدینو وروسته راغلي دي که څه هم هغوی ملوک وو، له ګڼو احادیثو څخه د دې خبرې جواز څرګندیږي. (٤)

[قال الإمام أبي محمد البغوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ : لا بأسَ أن يُسمَّى القائم بأمر المسلمين: أمير المؤمنين، والخليفة، وإن كان مخالفاً لسيرة أئمة العدل، لقيامه بأمر المؤمنين وسمع المؤمنين له.قال: ويُسمَّى خليفة لأنه خلفَ الماضي قبلَه، وقام مقامه. قال: ولا يُسمى أحدٌ خليفة الله تعالى بعد آدم وداود عليهما الصلاة والسلام].(۱)

---

(۱). الإمَام: هو الذي له الرياسة العامة في الدين والدنيا جميعاً في الإمامة الكبرى، وهو الخليفةُ عند المتكلمين ومن يُقتدى به في الصلاة في الإمامة الصغرى. التعريفات الفقهية (ص: ٣٤).

– والأَميرُ: المِلِكُ لنَفاذِ أَمْرِه بَيْنَ الإمارة والأَمارة، والجمعُ أُمَراءُ. وأَمَرَ عَلَيْنَا يَأْمُرُ أَمْراً وأَمُرَ وأَمِرَ: كوَلِيَ. لسان العرب (٤/ ٣١).

– والأميرُ: المَلِكُ، وهي بهاءٍ، بَيْنُ الإمارَةِ، ويفتحُ، ج: أُمَراءُ.القاموس المحيط (ص: ٣٤٤).

– والخِلافَةُ: الإمارةُ وَهِيَ الخِلِّيفَى. وإنه لخَلِيفةٌ بَيِّنُ الخِلافةِ. لسان العرب (٩/ ٨٣).

– قالَ الزَّجَّاجُ جَازَ أَنْ يُقَالَ للأَئمة خُلفاء اللهِ فِي أَرْضِه بقوله عز وجل: يا داوُدُ إِنَّا جَعَلْناكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ. وَقَالَ غَيْرُهُ: الخَليفةُ السلطانُ الأَعظم. لسان العرب (٩/ ٨٤).

(۲) الثَّالِثَةُ: يَجُوزُ أَنْ يُقَالَ لِلْإِمَامِ: الْخَلِيفَةُ وَالْإِمَامُ وَأَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ.روضة الطالبين وعمدة المفتين، ليحيى بن شرف الدين النووي (١٠/ ٤٩).

(۳) المقدمة للعلامة ابن خلدون (ص ١٩٠))

(٤) عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أَبِي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: «إِنَّ هَذَا الْأَمْرَ لَا يَنْقَضِي حَتَّى يَمْضِيَ فِيهِمِ اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً»، قَالَ: ثُمَّ تَكَلَّمَ بِكَلَامٍ خَفِيَ عَلَيَّ، قَالَ: فَقُلْتُ لِأَبِي: مَا قَالَ؟ قَالَ: «كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ». صحيح مسلم (٣/ ١٤٥٢) رقم الحديث٥ – (١٨٢١).

ژباړه: امام بغوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمايي: د مسلمانانو چارې سمبالوونکي ته که امير المؤمنين يا خليفه وويل شي پروا نلري که څه هم سيرت يې د عادلانو امامانو خلاف وي؛ ځکه چې د مؤمنانو چارې سمبالوي او مسلمانان يې خبره اوري. دی وايي خليفه ځکه خليفه ويل کيږي چې د مخکني ځای ناستی وي، اوهېڅ چا ته هم له آدم او داود عليهما السلام څخه وروسته خليفة الله نشي ويلی، خو دا په دې شرط چې د ديني شعائرو تقويه به کوي، که څه هم په خپله يې اعمالو کې تقصير وي او يا ظلم کوي او يا مالونو سره بيباکي کوي، او که څوک د دين حکمونه نه پلي کوي او يا دومره ترې منحرف شوی وي چې خبره کفر ته رسيږي، هغوی ته بيا د امام يا خليفه القاب ورکول روا نه دي، بلکې د دوی هېڅ ډول ولايت او واک په مسلمانانو نه چليږي؛ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَن يَجْعَلَ اللهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً﴾(۲) .

ژباړه: او له سره به ونه ګرځوي الله جَلَّجَلَالُهُ لپاره د کافرانو پر مؤمنانو باندې هيڅ لاره (د حجت او د بري).

دوهم مطلب: **د شرعي امير او امام د ټاکلو اهميت**:

ټول مسلمان ملت په دې متفق دی چې د امير ټاکل واجب دي.

امام قرطبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: په دې کې هېڅ اختلاف نشته نه د امت تر منځ او نه د امامانو تر منځ چې: د عادل امام ټاکل او د هغه اطاعت کول واجب دي.(۳)

اهل السنة والجماعة په دې عقيده لري چې د امامت او امارت مسئله وجوبي ده، خامخا به مسلمانان له امام سره بيعت او ورڅخه اطاعت کوي چې هغه به د دين شعائر ساتي او لوړوي به يې او د مظلومانو حق به له ظالمانو څخه اخلي، او دوی په دې خبره څلور ګوني دلائل: (کتاب الله، سنت رسول الله، د امت اجماع او فقه) لري:

لومړی: **له کتاب الله څخه**:

۱- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ﴾.(٤)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی(اې مؤمنانو)! حکم ومنئ تاسې د الله جَلَّجَلَالُهُ او حکم ومنئ تاسې د رسول (د الله) او (حکم ومنئ) د خاوندانو د حکم له تاسې (مسلمانانو يعني حاکمانو او مشرانو !).

د استدلال طريقه: الله تعالی په مسلمانانو د اولی الامر اطاعت واجب کړی دی، چې له دې امر څخه د ولي الامر نصب او ټاکنه معلومېږي؛ ځکه چې الله تعالی خو په اطاعت د هغه چا امر نه کوي چې اصلاً موجود نه وي، او نه د هغه چا اطاعت واجبوي چې وجود يې مستحب وي، نو امر په اطاعت د اولی الامر سره دا د اولی الامر د ټاکلو مقتضي دی او پر دې دلالت کوي چې د امام ټاکل پر مسلمانانو واجب دي.

همدا راز الله تعالی خپل رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په خطاب کې فرمايلي دي:

۲- ﴿فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ عَمَّا جَاءكَ مِنَ الْحَقِّ﴾.(٥)

ژباړه: نو له دې کبله ته د خدای له نازل کړي قانون سره سمې د خلکو چارې فيصله کړه او کوم حق چې تاته راغلی دی، له هغه څخه په مخ اړولو سره د هغو د غوښتنو پيروي مه کوه.

۳- ﴿أَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللهُ إِلَيْكَ﴾.(۱)

---

(۱) روينا في " شرح السنّة " للإمام أبي محمد البغوي رضي الله عنه قال رحمه الله: لا بأسَ أن يُسمَّى القائم بأمر المسلمين: أمير المؤمنين، والخليفة، وإن كان مخالفاً لسيرة أئمة العدل، لقيامه بأمر المؤمنين وسمع المؤمنين له. قال: ويُسمَّى خليفة لأنه خلفَ الماضي قبلَه، وقام مقامه.قال: ولا يُسمى أحدٌ خليفة الله تعالى بعد آدم وداود عليهما الصلاة والسلام. الأذكار للنووي ت الأرنؤوط (ص: ٣٦١).

(۲) سورة النساء، آيت: ۱۴۱.

(۳) ﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾. هَذِهِ الْآيَةُ أَصْلٌ فِي نَصْبِ إِمَامٍ وَخَلِيفَةٍ يُسْمَعُ لَهُ وَيُطَاعُ، لِتَجْتَمِعَ بِهِ الْكَلِمَةُ، وَتَنْفُذُ بِهِ أَحْكَامُ الْخَلِيفَةِ. وَلَا خِلَافَ فِي وُجُوبِ ذَلِكَ بَيْنَ الْأُمَّةِ وَلَا بَيْنَ الْأَئِمَّةِ. تفسير القرطبي (۱/ ۲٦٤).

(٤) سورالنساء، ايت: ۵۹.

(۵) سورة المائده: ۴۸.

ژباړه: او(ته لیږلی یې موږ اودغه حکم مو فرمایلی دی تاته) چې حکم کوه! په منځ د دوی کې په هغه شي چې نازل کړی(لیږلی) دی الله جَلَّجَلَالُهُ او مه کوه متابعت د خواهشاتو د دوی او ویره کوه! (ځان ساته) له دوی نه چې وا(نه) اړوي (ونه ګرځوي) تا له ځینې هغه شي څخه چې نازل کړی(لیږلی) دی الله جَلَّجَلَالُهُ تاته (اې محمده!).

دا امر د الله تعالی له لوري خپل رسول صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ ته دی چې د مسلمانانو تر منځ به فیصله د الله جَلَّجَلَالُهُ له لوري په نازل شوي حکم باندې کوي یعني په شریعت باندې، او رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ ته دا خطاب د هغه امت ته خطاب دی تر څو چې د خصوصیت دلیل یې شتون ونلري، او دلته د تخصیص دلیل وجود نلري، نو دا خطاب ټولو مسلمانانو ته متوجه دی، چې دوی به خپلې فیصلې تر قیامته پورې د الله جَلَّجَلَالُهُ په نازل شویو حکمونو باندې کوي، د احکامو تنفیذ او تطبیق هغه مهال ممکن دی چې امام او امیر یوځل وټاکل شي؛ ځکه د احکامو تطبیق د همده له دندو څخه دی په بشپړه توګه د احکامو تطبیق پرته له دې لارې په بله هېڅ طریقه متصور نه دی، دقرآنکریم په څومره آیاتونو کې چې حکم په (مآ أَنزَلَ الله) باندې شوی دی هغه د امام د ټاکنې د وجوب دلائل دي چې هغه به دا احکام عملي کوي. (۲)

دوهم: له سنت رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ څخه:

۱- رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ فرمایلي دي: «وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً».(۳)

ژباړه: او څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې په غاړه کې یې بیعت نه وي، هغه د جاهلیت په مرګ مړ شو.

له همدې څخه مراد هم له امام سره بیعت دی، چې دا په واضحه توګه د امام په ټاکنه باندې دلیل دی؛ ځکه چې کله بیعت د مسلمانانو په ذمه واجب دی بیعت خو نه وي مګر له امام سره نو د امام ټاکل واجب دي.

۲- « عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا خَرَجَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ».(٤)

له ابو سعید الخدري رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُ څخه روایت دی هغه ویلي: رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ فرمایلي: چې کله درې تنه په سفر ووځي یو دې له هغوی څخه امیر وټاکي.

چې کله په دومره کوچني ټولي او لنډ مهالی جماعت باندې لازم شول چې امیر باید ولري نو دا یو ډول تنبیه ده چې تر دې په ستر ټولي او ټولنې باندې د امیر ټاکنه تر دې هم زیات واجب دي.

۳- له ګڼو احادیثو څخه د حاکمانو د اطاعت وجوب او له دوی څخه د مخالفت منع څرګنده ده: لکه د بیعت احادیث، تر ټولو د لومړي امیر په بیعت وفا، د مسلمانانو دامیر په خلاف د پاڅون حرمت، د هغه چا د څټ په قطع کولو حک چې د مسلمانانو د حق امام څخه بغاوت کوي، چې دا ټول حدیثونه د امام او خلیفه د وجود تقاضا کوي چې دا یې په وجوب دلالت کوي والله اعلم.

دریم: د امت اجماع:

له صحابه کرامو رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُمۡ څخه په تواتر سره ثابت دي چې دوی د رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ تر رحلت وروسته له حضرت ابوبکر الصدیق رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُ سره بیعت وکړ بیا حضرت ابوبکرالصدیق رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُ حضرت عمرفاروق رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُ خپل ځای ناستی او خلیفه وټاکه او بیا حضرت عمرفاروق رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُ د وفات پر مهال شپږو تنو صحابه کرامو رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُمۡ ته واک وسپاره چې په خوښه دې یو تن امیر شي چې بیا هغوی حضرت عثمان رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُ غوره کړ، چې د هغه تر شهادت وروسته بیا صحابه کرامو رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُمۡ له حضرت

---

(۱) سورةالمائده، آیت ۴۹.

(۲) هذا الأمر من الله تعالى لرسوله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ بأن يحكم بين المسلمين بما أنزل الله – أي بشرعه – ، وخطاب الرسول صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ خطاب لأمته ما لم يرد دليل يخصصه به ، وهنا لم يرد دليل على التخصيص ، فيكون خطابًا للمسلمين جميعًا بإقامة الحكم بما أنزل الله إلى يوم القيامة، ولا يعني إقامة الحكم والسلطان إلا إقامة الإمامة، لأن ذلك من وظائفها ولا يمكن القيام به على الوجه الأكمل إلا عن طريقها، فتكون جميع الآيات الآمرة بالحكم بما أنزل الله دليلاً على وجوب نصب إمام يتولى ذلك... والله أعلم .(الإمامة العظمى عند أهل السنة والجماعة لعبدالله بن عمر بن سليمان الدميجي، ص۴۸).

(۳)صحيح مسلم (۳/ ۱٤۷۸).

(٤) سنن ابي داود، برقم: ۲۲٤۲.

علي رضي الله عنه سره بيعت وکړ، نو د خلافت په چارو کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم دا طريقه وه، هېڅ ډول سستي يې نه کوله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په امر دوی پسې اقتداء واجب ده.

په دې هکله له مهمو دلائلو څخه د امت تعامل دی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر تدفين د مخه يې د خلافت او امارت چارو ته توجه وکړه او تر ټولو غوره امير او د رسول الله صلى الله عليه وسلم خليفه يې د ځان لپاره وټاکه، له دې څخه څرګندېږي چې د هغوی په نزد د امام ټاکل ضروري او واجب ؤ، په موجودو صحابه کرامو رضي الله عنهم کې هېچا هم ورڅخه مخالفت نه دی کړی، غائبو صحابه کرامو رضي الله عنهم هم د دوی په دې تعامل نيوکه نه ده کړې چې اجماع وربانديې نقض شي.

حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه د خپل وفات په مهال خلکو ته د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه اوصاف بيان کړل د هغه په هکله يې د امورو د تفويض او دوی ته يې د هغه د اطاعت سپارښتنه وکړه.

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه هم تر وفات د مخه د شپږو تنو نومونه واخيستل چې په دوی کې دې يو رامخته کړل شي او د خلافت چارې دې سمبال کړي، چې د حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه او حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دغه اقدامات د ټولو له لوري تائيد شوي؛ ځکه چې هېڅوک هم په دې عقيده نه ؤ او نه د دې خبرې په جواز قائل ؤ چې حتی د يوې لحظې لپاره دې اسلامي نړۍ د خليفه له شتون څخه خالي وي.(۱)

د حضرت عثمان رضي الله عنه تر شهادت وروسته سمدستي مسلمانانو حضرت علي رضي الله عنه سره بيعت وکړ.(۲)

دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم شاګردان او د صدر اسلام په دين پوه او په دين مين شخصيتونه دي د دوی دا اجماع هم د امامت په وجوب قاطع دليل دی.

څلورم فقهي دليل:

۱- شرعي قاعده دا ده چې: [مَا لَا يَتِمُّ الْوَاجِبُ إِلَّا بِهِ فَهُوَ وَاجِبٌ].(۳) ژباړه: هر هغه څه واجب دي چې پرته له هغه واجب نه پوره کيږي؛ ځکه چې الله جل جلاله په ځينو داسې چارو امر کړی دی چې د هغو تر سره کول د هر چا په جلاجلا توګه په وس کې نشته لکه:

د حدودو اقامت او اسلامي احکامو تنفيذ.

د لښکر تجهيز، تنظيم، سوق او اداره.

د زکات، عشر او نورو روا او جائزو طريقو سره ماليات را جمع کول، او بيا د اسلامي امت په ګټه مصرفول.

اعلاء کلمة الله، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر له لارې د اسلامي قوانينو تطبيق.

د اسلامي سرحدونو ساتنه.

د ظلم مخنيوی او د عدل رامنځ ته کول.

د خلکو تر منځ د دعواګانو او د نورو ټولنيزو مسائلو حل او اصلاح.

د دې ډول چارو لپاره سلطنت او قوت ته ضرورت دی چې هغه د دغو واجباتو تنفيذ وکړي او دغه طاقت او سلطنت د امامت دی.

نو د امام ټاکل واجب شول تر څو خلک ورته سر ښکته کړي او اطاعت يې پر ځان لازم کړي، هغه د مسلمانانو د امورو د تدبير په اړه د تصرف حق ولري.

۲- د امير او امام په نه شتون کې اسلامي ټولنه له اضرارو څخه محفوظه نه وي، د شريعت له سترو مقاصدو او عليا منافعو څخه د پنځو اهمو او ضروري شيانو ساتنه ده: (دين، نفس، عزت، مال او عقل) د شرعي حدودو په اقامت او د جرائمو د مخنيوي په صورت کې د دغو پنځو شيانو ساتنه اړينه ده.

---

(۱) الإمامة العظمى عند أهل السنة والجماعة لعبد الله بن عمر بن سليمان الدميجي).

(۲) الإمامة العظمى عند أهل السنة والجماعة لعبد الله بن عمر بن سليمان الدميجي).

(۳) العناية شرح الهداية (٦/ ٣٤٧).

امام غزالي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ليکلي دي: د انسانانو د سرونو او مالونو امن د هغه بادشاه په شتون کې رامنځ ته کيږي، چې خلک يې اطاعت کوي د دې خبرې ثبوت د فتنو رامنځ ته کېدو او د سلاطينو د وفات له حالاتو څخه څرګند دی؛ ځکه که د امام نشتوالی دوامدار شي او بل دا ډول بادشاه رامنځته نه شي نو ناخوالې به زياتې او دائمي شي؛ له همدې امله ويل شوي: دين تعمير دی او بادشاه يې ساتندوی دی، څوک چې تعمير نه لري نو خراب حالت سره مخ دی او چې د ماڼۍ لپاره ساتندوی ونلري نو بيا يې ماڼۍ شته خو د ضائع کېدلو شونتيا يې زياته ده.

لنډه دا چې د هېڅ هوښيار کس په دې کې شک نه کوي، چې د خلکو طبقات او طبائع مختلف دي، غوښتنې يې يو له بله جلا دي، نظرونه يې بېل بېل دي، نو که دوی داسې څوک پر سر ونلري چې ټول يې خبره ومني نو ښکاره ده چې ټول به د خپلو اغراضو، شهواتو او د نظر اختلاف له امله په لانجو، او جنجالونو کې ښکېل شي، چې د دې مرض او وباء يوازينی علاج امام او امير دی؛ داسې امام چې د دين تابع او په حالاتو مسلط وي خلک يې تابعدار وي او اختلافات ختموي، نو واضح شوه چې امير د دين او دنيا د نظام لپاره ضروري دی او د دين د نظام لپاره د دنيا نظام ضروري دی او د دين نظام د اخروي سعادت تر لاسه کولو لپاره ضروري دی، چې دا په ګلي توګه د انبياء عليهم السلام مقصد ؤ، نو د امام او امير وجوب د هغه شريعت له ضروريا تو څخه شو چې هېڅکله يې پرېښودل ممکن نه دي. (۱)

د اسلامي نظام د قيام او تکميل لپاره بنسټيز اقدامات:

کله چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مدينه منوره کې د اسلامي نظام د بنسټ ډبره کېښوده، لومړنی امام او زعيم يې همدی ؤ، چې په سمدستي توګه يې د خلکو او ولسونو د ناخوالو ختمولو، لارو او ښارونو کې امن او ډاډمن حالت را منځته کولو، اقتصادي ستونزو حل کولو او عادلانه غښتلي سياسي نظام حاکم کولو په موخه د لاندې چارو په هکله مدبرانه اقدامات تر سره کړل:

رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوس او خزرج د قبيلو تر منځ هغه دښمني ختمه کړه چې په لسګونو کلونو يې دوی تباه کړي وو.

د انصارو او مهاجرينو تر منځ يې د ورورګلوۍ او په ټوله کې يې د اسلامي ټولنې د ټولو افرادو تر منځ دالفت، محبت، ايثار او اعتماد فضا را منځته کړه.

د دين د حمايت او نشر لپاره يې اسلامي لښکر په غښتلې امتيازي روحيه سنبال او منظم کړ.

غاصبو، داړه مارو، او امن ګواښونکو ډلو ټپلو باندې يې ځپونکي بريالي عمليات ترسره کړل.

د نړۍ همجوارو هېوادونو او بادشاهانو ته يې د امن، سلامتيا، صلحې او يو والي دعوت ورکړ.

له يهودو او ځينو نورو ملتونو سره يې د ځينو مسائلو په اړه معاهدې او توافقات تر سره کړل.

د جنګ، جنګي کافرانو، ذميانو او جنګي اسيرانو په اړه يې اصول او احکام واضح کړل.

د بيت المال د ساتنې او عادلانه وېش په اړه يې پرېکنده او صريح وضاحتونه وکړل.

د اسلامي امت د حالاتو د سمون په موخه يې قاضيان، واليان او عاملان وټاکل.

د شرعي حدودو د تنفيذ او جرائمو د ثبوت طريقې او سزاګانې يې په قول او عمل سره واضح کړې.

امام شاطبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمايلي: رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دخپل وفات تر مخه ټول هغه دنيوي او اخروي امور چې ورته اړتيا وه بيان او واضح کړل.

---

(۱) وهو أن الدنيا والأمن على الأنفس والأموال لا ينتظم إلا بسلطان مطاع فتشهد له مشاهدة أوقات الفتن بموت السلاطين والأئمة، وإن ذلك لو دام ولم يتدارك بنصب سلطان آخر مطاع دام الهرج وعم السيف وشمل القحط وهلكت المواشي وبطلت الصناعات، وكان كل غلب سلب ولم يتفرغ أحد للعبادة والعلم إن بقي حياً، والأكثرون يهلكون تحت ظلال السيوف، ولهذا قيل: الدين والسلطان توأمان، ولهذا قيل: الدين أس والسلطان حارس وما لا أس له فمهدوم وما لا حارس له فضائع.

وعلى الجملة لا يتمارى العاقل في أن الخلق على اختلاف طبقاتهم وما هم عليه من تشتت الأهواء وتباين الآراء لو خلوا وراءهم ولمي كن رأي مطاع يجمع شتاتهم لهلكوا من عند آخرهم، وهذا داء لا علاج له إلا بسلطان قاهر مطاع يجمع شتات الآراء، فبان أن السلطان ضروري في نظام الدنيا، ونام الدنيا ضروري في نظام الدين، ونظام الدين ضروري في الفوز بسعادة الآخرة وهو مقصود الأنبياء قطعاً، فكان وجوب نصب الإمام من ضروريات الشرع الذي لا سبيل إلى تركه فاعلم ذلك.

الاقتصاد في الاعتقاد للغزالي (ص: ۱۲۸).

او دا خبره روښانه ده چې د رسول الله ﷺ دا دولتي او زعامتي چارې او په هکله يې اقدامات د هغوی له ذات سره تړلي نه دي، دا ټولې چارې د دين له لوازمو څخه دي چې په کامله توګه يې تعلق له دين سره دی، رسول الله ﷺ ته قريشو آن له هجرت څخه وړاندې په مکي دور کې د بې محنته حکومت ورسپارلو او ترتيب برابرولو وړانديز کړی ؤ، چې يوازې پر باطلو خدايانو له رد څخه د پټه خوله پاته کېدو په بدل کې دوی دې ته تيار وو، چې رسول الله ﷺ دا ډول هېڅ هم ورسره ونه منل، يوازېنی هدف يې دا ؤ چې هغه ټول مسائل امت ته ورسوي چې په مرسته يې د اسلامي دولت قيام راځي، له همدې امله يې رسول واجب او د دين له لوازمو و څخه دي.

دوهم مبحث: د امير د ټاکلو شرطونه او څرنګوالی

لومړی مطلب: د شرعي امير د ټاکلو شرطونه:

د امام ټاکلو لپاره فقهاوو ځينې شرطونه ټاکلي، چې ځينې يې اتفاقي او ځينې يې اختلافي دي.(۱)

هغه شرطونه چې اتفاقي دي په لاندې ډول دي:

۱ : – اسلام: دا د شهادت د جواز لپاره شرط دی حال دا چې د امامت مسئله خو تر شهادت لوړه ده، چې کافر ته د شهادت ولايت نه دی حاصل نو د امامت عظمی ولايت خو په هېڅ صورت ورته نه دی حاصل، الله تعالی فرمايلي دي:﴿ وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً ﴾.(۲) ژباړه: او له سره به ونه ګرځوي الله جَلَّجَلَالُهُ لپاره د کافرانو پر مؤمنانو باندې هېڅ لاره (د حجت او د بري).

---

(۱) – شُرُوطُ الإِمَامَةِ: يَشْتَرِطُ الْفُقَهَاءُ لِلإِمَامِ شُرُوطًا، مِنْهَا مَا هُوَ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَمِنْهَا مَا هُوَ مُخْتَلَفٌ فِيهِ.

فَالْمُتَّفَقُ عَلَيْهِ مِنْ شُرُوطِ الإِمَامَةِ:

أ – الإِسْلاَمُ: لأَنَّهُ شَرْطٌ فِي جَوَازِ الشَّهَادَةِ. وَصِحَّةُ الْوِلاَيَةِ عَلَى مَا هُوَ دُونَ الإِمَامَةِ فِي الأَهَمِّيَّةِ. قَال تَعَالَى: {وَلَنْ يَجْعَل اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً}وَالإِمَامَةُ كَمَا قَال ابْنُ حَزْمٍ: أَعْظَمُ (السَّبِيل)، وَلِيُرَاعَى مَصْلَحَةُ الْمُسْلِمِينَ.

ب – التَّكْلِيفُ: وَيَشْمَل الْعَقْل، وَالْبُلُوغَ، فَلاَ تَصِحُّ إِمَامَةُ صَبِيٍّ أَوْ مَجْنُونٍ، لأَنَّهُمَا فِي وِلاَيَةِ غَيْرِهِمَا، فَلاَ يَلِيَانِ أَمْرَ الْمُسْلِمِينَ، وَجَاءَ فِي الأَثَرِ تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ رَأْسِ السَّبْعِينَ، وَإِمَارَةِ الصِّبْيَانِ.

ج – الذُّكُورَةُ: فَلاَ تَصِحُّ إِمَارَةُ النِّسَاءِ، لِخَبَرِ: لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً وَلأَنَّ هَذَا الْمَنْصِبَ تُنَاطُ بِهِ أَعْمَالٌ خَطِيرَةٌ وَأَعْبَاءٌ جَسِيمَةٌ تَتَنَافَى مَعَ طَبِيعَةِ الْمَرْأَةِ، وَفَوْقَ طَاقَتِهَا. فَيَتَوَلَّى الإِمَامُ قِيَادَةَ الْجُيُوشِ وَيَشْتَرِكُ فِي الْقِتَال بِنَفْسِهِ أَحْيَانًا. د – الْكِفَايَةُ وَلَوْ بِغَيْرِهِ، وَالْكِفَايَةُ هِيَ الْجُرْأَةُ وَالشَّجَاعَةُ وَالنَّجْدَةُ، بِحَيْثُ يَكُونُ قَيِّمًا بِأَمْرِ الْحَرْبِ وَالسِّيَاسَةِ وَإِقَامَةِ الْحُدُودِ وَالذَّبِّ عَنِ الأُمَّةِ.

هـ – الْحُرِّيَّةُ: فَلاَ يَصِحُّ عَقْدُ الإِمَامَةِ لِمَنْ فِيهِ رِقٌّ، لأَنَّهُ مَشْغُولٌ فِي خِدْمَةِ سَيِّدِهِ.

و– سَلاَمَةُ الْحَوَاسِّ وَالأَعْضَاءِ مِمَّا يَمْنَعُ اسْتِيفَاءَ الْحَرَكَةِ لِلنُّهُوضِ بِمَهَامِّ الإِمَامَةِ. وَهَذَا الْقَدْرُ مِنَ الشُّرُوطِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

أَمَّا الْمُخْتَلَفُ فِيهِ مِنَ الشُّرُوطِ فَهُوَ:

أ – الْعَدَالَةُ وَالاِجْتِهَادُ: ذَهَبَ الْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ إِلَى أَنَّ الْعَدَالَةَ وَالاِجْتِهَادَ شَرْطَا صِحَّةٍ، فَلاَ يَجُوزُ تَقْلِيدُ الْفَاسِقِ أَوِ الْمُقَلِّدِ إِلاَّ عِنْدَ فَقْدِ الْعَدْل وَالْمُجْتَهِدِ.

وَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى أَنَّهُمَا شَرْطَا أَوْلَوِيَّةٍ، فَيَصِحُّ تَقْلِيدُ الْفَاسِقِ وَالْعَامِّيِّ، وَلَوْ عِنْدَ وُجُودِ الْعَدْل وَالْمُجْتَهِدِ.

ب – السَّمْعُ وَالْبَصَرُ وَسَلاَمَةُ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ: ذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ إِلَى أَنَّهَا شُرُوطُ انْعِقَادٍ، فَلاَ تَصِحُّ إِمَامَةُ الأَعْمَى وَالأَصَمِّ وَمَقْطُوعِ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ ابْتِدَاءً، وَيَنْعَزِل إِذَا طَرَأَتْ عَلَيْهِ، لأَنَّهُ غَيْرُ قَادِرٍ عَلَى الْقِيَامِ بِمَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ، وَيَخْرُجُ بِهَا عَنْ أَهْلِيَّةِ الإِمَامَةِ إِذَا طَرَأَتْ عَلَيْهِ.

وَذَهَبَ بَعْضُ الْفُقَهَاءِ إِلَى أَنَّهُ لاَ يُشْتَرَطُ ذَلِكَ، فَلاَ يَضُرُّ الإِمَامَ عِنْدَهُمْ أَنْ يَكُونَ فِي خَلْقِهِ عَيْبٌ جَسَدِيٌّ أَوْ مَرَضٌ مُنَفِّرٌ، كَالْعَمَى وَالصَّمَمِ وَقَطْعِ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ وَالْجُدَعِ وَالْجُذَامِ، إِذْ لَمْ يَمْنَعْ ذَلِكَ قُرْآنٌ وَلاَ سُنَّةٌ وَلاَ إِجْمَاعٌ.

ج – النَّسَبُ: وَيُشْتَرَطُ عِنْدَ جُمْهُورِ الْفُقَهَاءِ أَنْ يَكُونَ الإِمَامُ قُرَشِيًّا لِحَدِيثِ: الأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ وَخَالَفَ فِي ذَلِكَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ مِنْهُمْ أَبُو بَكْرٍ الْبَاقِلاَّنِيُّ، وَاحْتَجُّوا بِقَوْل عُمَرَ: لَوْ كَانَ سَالِمٌ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ حَيًّا لَوَلَّيْتُهُ، وَلاَ يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ هَاشِمِيًّا وَلاَ عَلَوِيًّا بِاتِّفَاقِ فُقَهَاءِ الْمَذَاهِبِ الأَرْبَعَةِ، لأَنَّ الثَّلاَثَةَ الأُوَل مِنَ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ لَمْ يَكُونُوا مِنْ بَنِي هَاشِمٍ، وَلَمْ يَطْعَنْ أَحَدٌ مِنَ الصَّحَابَةِ فِي خِلاَفَتِهِمْ، فَكَانَ ذَلِكَ إِجْمَاعًا فِي عَصْرِ الصَّحَابَةِ. الموسوعة الفقهية الكويتية (٦/ ٢١٨).حاشية الطحطاوي على الدر ١/ ٢٣٨، حاشية ابن عابدين ١ / ٣٨، و ٤ / ٣٠٥، والأحكام السلطانية للماوردي ص ٦.

(۲) سورة النساء / ١٤١.

۲ : – بلوغ: د صبي امامت نه صحيح کېږي؛ ځکه هغه پخپله د بل په سرپرستۍ کې دی پر مسلمانانو د ولايت حق نلري. په حديث کې راغلي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: ﴿تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ رَأْسِ السَّبْعِينَ، وَإِمَارَةِ الصِّبْيَانِ﴾.(۱)
ژباړه: د اوومې لسيزې او د ماشومانو له مشرتوب څخه په الله تعالی پناه وغواړئ.
۳ : عقل: مجنون هم همدا راز د بل په سرپرستۍ کې دی، دی په نورو د ولايت حق نه لري.
۴ : نارينتوب: دمېرمنو امارت صحيح نه دی؛ ځکه په حديث کې راغلي دي:
﴿ لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً ﴾.(۲) ژباړه: هېڅکله به هغه قوم بريالی نشي چې د خپلو چارو واږې ښځې ته سپارلې وي.
او بل دا چې امارت ستر او له خطرونو څخه ډک منصب دی، له دې امله چې د ښځو په طبيعت کې نرمښت او نازکتوب دی او همدا راز په نورو صفاتو کې هغه د نارينه وو په څېر غښتلې نه دي نو ورسره نه ښايي.
امير به د لښکر قيادت کوي پخپله به جنګي محاذونو ته هم ځي چې دا د دوی له وس او توان څخه بهر او لوړ دی.
۵– حريت: په دې معنی چې غلام به نه وي، د مريي لپاره نه دي روا چې د مسلمانانو امير وټاکل شي؛ ځکه هغه د خپل مولا او بادار په خدمت کې مصروف وي.
هغه شرطونه چې اختلافي دي په لاندې ډول دي:
۱– د حواسو او اندامونو سلامتيا: يعني د سترګو، غوږونو، لاسونو او پښو جوړوالی: دا هم جمهورو علماوو د امارت د انعقاد لپاره شرط کړي دي:
د ړانده، ګونګي، بې لاسو او بې پښو سړي، په پيل کې امارت ته مخته کول ناسم دي او که دا عيبونه پکې را پيدا شول دوی وا يې بايد معزول شي؛ ځکه چې داسې تن د مسلمانانو د چارو پر مخ بيولو توان نلري، په دې عيبونو سره د امارت له اهليت څخه محرومېږي.
۲: – کفايت: يعني جرئت، شجاعت، چې جنګ، سياست، د حدودو اقامت او د خلګو دفاع ته رسېدګي کولای شي، اګر که دا د نورو همکارانو په مرسته هم وي.
۳ – عدالت او اجتهاد: دا هم د امام شافعي او امام مالک صاحب په نزد شرط دي: دوی وا يې چې د فاسق او داسې چا چې د مسائلو را وېستلو په چارو برلاسی نلري امارت يې روا نه دی، احناف علماء وا يې چې دا شرطونه که په امير کې وو، ډېر ښه دي او که نه وو، بيا دې درجه کې نه دي چې د فاسق او عامي سړي امارت صحيح نه شي.
ځينو فقهاوو ويلي دي چې دا پورته صفات لازمي شرطونه ندي، پروا نلري چې په امير کې بدني عيب او يا د کرکې وړ مرض وجود ولري لکه: ګونګتوب، د لاسونو او پښو پرېکېدل، د پوزې پرېکېدل او جذام؛ ځکه دا عيبونه په قران حديث او اجماع سره منع نه دي.
۴– نسب: د جمهورو په نزد شرط دی چې عمومي امير به د دې حديث له امله قريشي وي چې {الأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ}.(۳)
مګر ځينې علماء بيا وايي چې نسب شرط نه دی، د حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا وينا يې دليل ګڼلی دی چې که د حذيفه ازاد کړل شوی غلام، سالم ژوندی وای نو امير به مې ټاکلی ؤ.
دوهم مطلب: د شرعي امير د ټاکلو څرنګوالی:
هغه څوک شرعي امير ګڼل کېږي چې په لاندې طريقو سره وټاکل شي:

---

(۱) مسند أحمد ۲ / ۳۲٦ .

(۲) صحيح البخاري (۹/ ۵۵). باب الفتنة اللتي تموج كموج البحر.

(۳) حَدَّثَنَا سَيَّارُ بْنُ سَلَامَةَ، سَمِعَ أَبَا بَرْزَةَ يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ: إِذَا اسْتُرْحِمُوا رَحِمُوا، وَإِذَا عَاهَدُوا وَفَوْا، وَإِذَا حَكَمُوا عَدَلُوا فَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ مِنْهُمْ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ, مسند أحمد ط الرسالة (۳۳/ ۲۱), رقم الحديث: ۱۹۷۷۷.

– وَيُشْتَرَطُ كَوْنُهُ مُسْلِمًا حُرًّا ذَكَرًا عَاقِلًا بَالِغًا قَادِرًا، قُرَشِيًّا لَا هَاشِمِيًّا عَلَوِيًّا، مَعْصُومًا. وَيُكْرَهُ تَقْلِيدُ الْفَاسِقِ وَيُعْزَلُ بِهِ إلَّا لِفِتْنَةٍ. الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۱/ ۵٤۸– ۵٤۹). – حاشية الطحطاوي على الدر ۱ / ۲۳۸.

۱- د پوهانو، غوره، دین دارو، با احساسه، ځیرکو، خیر خواه او شریفو خلکو له لوري ټاکل شوی وي، او هغوی بیعت ورسره کړی وي،(۱) لکه ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې د حضرت رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له وفات وروسته وټاکل شو.

همدا راز فقهي کتابونو کې راغلي: [من ولي الخلافة واجتمع عليه الناس ورضوا به وجبت طاعته].(۲)

ژباړه: څوک چې خلیفه شو، خلکو بیعت ورسره وکړ او پرې را ټول شول اطاعت یې واجب دی.

همدا راز د الاشباه والنظائر مصنف ویلي: [ثُمَّ إذَا وَقَعَتْ الْبَيْعَةُ مِنْ أَهْلِ الْحَلِّ وَالْعَقْدِ صَارَ إمَامًا يُفْتَرَضُ إطَاعَتُهُ].(۳)

چې کله اهل الحل و العقد له چا سره بیعت وکړ هغه امیر شو اطاعت یې فرض دی.

د احنافو په نزد شرط دا دی چې اهل الحل والعقد به جماعت وي، معین تعداد ورته ضروري نه دی، د مالکیه او حنابله فقهاوو په نزد د جمهورو اهل الحل و العقد رایه ورته ضروري ده.

۲- امیر د مخکني خلیفه له لوري وټاکل شي او خلکو ته معرفي شي لکه حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ معرفي کړ، او ټول امت پرته له څه ویلو قبول کړ او بیعت یې ورسره وکړ. (٤)

۳- یا به د علماوو او د نظر او تدبیر خاوندانو د ډلې له لوري ورسره بیعت شوی وي:

څوک چې په خپل زور او ځواک سره واک تر لاسه کړي، اسلامي قوانین پلي کوي، بیا یې له نه منلو څخه په منلو کې د امت خیر دی اطاعت به یې کوي. (٥)

هغه څوک چې په خپل ځواک غالب وګرځېد تر دې چې خلیفه شو اطاعت یې واجب دی په خلاف یې پاڅون حرام دی.(٦)

امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ ویلي: [ومن غلب عليهم بالسيف حتى صار خليفة وسمي أمير المؤمنين فلا يحل لأحد يؤمن بالله واليوم الآخر أن يبيت ولا يراه إماماً، براً كان أو فاجراً].(۷)

ژباړه: څوک چې په زور واک ته ورسېد او خلیفه شو او امیر المؤمنین ورته وویل شول هېڅ مسلمان ته روا نه دی چې یوه شپه داسې ورباندې تېره شي چې خپل امام یې ونه ګڼي، هغه امیر که نېکوکار او که بدکار وي. (۸)

حافظ ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ ویلي دي:

[وقد أجمع الفقهاء على وجوب طاعة السلطان المتَغلب، والجهاد معه، وأن طاعته خير من الخروج عليه؛ لما في ذلك من حقنِ الدماء، وتسكين الدهماء]. (۹)

د ټولو فقهاوو په دې اتفاق دی چې د متغلب سلطان اطاعت او په امر یې جهاد کول واجب دي، اطاعت یې تر مخالفته په ګټه دی ځکه چې دې سره د وینو تویولو مخه نیول کېږي او په موجودیت یې زیاتې او خطرناکې فتنې آرامېږي.

---

(۱) وَإِمَّا بِبَيْعَةِ جَمَاعَةٍ مِنْ الْعُلَمَاءِ أَوْ جَمَاعَةٍ مِنْ أَهْلِ الرَّأْيِ وَالتَّدْبِيرِ.الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۱/ ٥٤٩).

(۲) «الأحكام السلطانية » ، لأبي يعلى : ص۲۳.

(۳) البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (۷/ ٥۳).

(٤) وَيَثْبُتُ عَقْدُ الْإِمَامَةِ إمَّا بِاسْتِخْلَافِ الْخَلِيفَةِ إيَّاهَا كَمَا فَعَلَ أَبُو بَكْرٍرَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ. الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۱/ ٥٤٩)

(٥) (قَوْلُهُ وَتَصِحُّ سَلْطَنَةُ مُتَغَلِّبٍ) أَيْ مَنْ تَوَلَّى بِالْقَهْرِ وَالْغَلَبَةِ بِلَا مُبَايَعَةِ أَهْلِ الْحَلِّ وَالْعَقْدِ وَإِنْ اسْتَوْفَى الشُّرُوطَ الْمَارَّةَ. الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۱/ ٥٤٩) باب شروط الامامة.

(٦) من غلبهم بسيفه حتى صار خليفة، وجبت طاعته وحرم الخروج عليه. الأحكام السلطانية، لأبي يعلى : ص۲۳.

(۷) المرجع السابق.

(۸) المرجع السابق).

(۹) فتح الباري، ج ۱۳ ، ص۹.

دریم مبحث: د شرعي امیر عمده وظائف

لومړی مطلب: د امر بالمعروف او نهي عن المنکرترسره کول:

د هر شرعي امیر یوه له اهمو او عمده دندو څخه داهم ګڼل کیږي چې امربالمعروف او نهي عن المنکر به تر سره کوي:

۱ – رسول الله ﷺ فرمایلي:{عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ اليَمَانِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلاَ يُسْتَجَابُ لَكُمْ}.(۱)

ژباړه: له حذیفة بن الیمان رضي الله عنه څخه روایت دی هغه ویلي: رسول الله ﷺ فرمایلي:قسم مې دې په هغه ذات وي چې زما ساه د هغه په لاس کې ده یا خوبه تاسو امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ او یا به الله جل جلاله په تاسو باندې عذاب را ولیږي بیابه تاسو له الله جل جلاله نه سوالونه کوئ خو ستاسو دعاګانې به نه قبلیږي.

د اسلامي زعامت وظائف، کتابونو په تفصیلي ډول بیان کړي دي موږ یې دلته څو اجمالا ذکر کوو:

د اسلامي حکومت له عمده دندو او اولویتونو څخه دا دي چې هغه چا سره به دوستي نه کوي او نه به د هغوی دوستي د ځان او اسلامي امت په خیر ګڼي کوم چې الله تعالی د اسلام او مسلمانانو دښمنان ګڼلي دي.

اسلامي حکومت به د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو دسیسو ته لاس تر زنې نه وي ناست، بلکې د هغوی ظلم، زور، غرور او شوکت ختمولو هڅې به روانې ساتي. (۲)

اسلامي حکومت به د دیني شعائرو حفاظت کوي.

اسلامي حکومت به مظلوم انسانان له ظلم څخه ژغوري.

اسلامي حکومت سره به د مسلمانانو، بلکې عام انسانیت رښتینې د خیر غوښتنې جذبه وي.

هېڅکله هم شریعت دا اجازه نه ورکوي چې اسلامي حکومت دې بې موجبه د انسانیت په ضرر اقدامات تر سره کړي.

اسلامي حکومت به د خپل رعیت د دنیوي او اخروي خیرونو او ښېګڼو په دوامداره توګه غوښتونکی وي او په هکله به یې لاس په کار وي.

دوهم مطلب: د اسلامي نظام پنځه ګوني عمده مقاصد:

د اسلام سپېڅلی دین چې الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته د لوړینې او مهربانۍ له کبله رالېږلی دی له فطرت سره موافق، د هدایاتو له کبله د انساني ژوندانه په ټولو برخو مشتمل دی. او د انسان هر اړخیز بریالیتوبونه او نیکمرغۍ پکې نغښتې دي، په کومه ټولنه کې چې خلک د شریعت مطابق عمل کوي او یا د هغوی ټولنېز او فردي نظام اسلامي شریعت وي نو حتمي ده چې هغه ټولنه به له هر ډول ناولتیا، انحراف، اخلاقي او مذهبي خرافاتو او ستونزو څخه په امن وي او وګړي به یې له سیاسي، اقتصادي، فرهنګی، ټولنیزو مادي او معنوی امتیازاتو او بریاوو څخه برخمن وي، په شرعي احکامو باندې د عمل کولو او د شرعي نظام پر ګټو او حکمتونو باندې بې شمېره کتابونه ډک دي دلته موږ د شرعي نظام له پنځو عمده فوائدو څخه اجمالي بحث کوو چې د شرعي احکامو د تطبیق په صورت کې وګړي ورڅخه برخمن کېدای شي:

۱- د خلکو د دین او ایمان ساتنه:

دا یو څرګند حقیقت دی چې د انسان د تخلیق مطلب په دنیا کې د خلیفة الله او بنده په توګه ژوند تېرول دي چې د هر دور انسانان د خپلې زمانې له مشروع دین سره په تړاو په خپل ژوند کې د هغه د حکمونو په عملي کولو مکلف دي، چې د همدې اړتیا او تړاو په مناسبت الله تعالی پیغمبران را استولي، د یقین او باور لرلو په موخه یې انسانانو ته د خپلو عقلونو او فکرونو د استعمال بلنه ورکړې، پرېکنده دلیلونه، واضح بیانات او حیرانوونکې معجزې یې هغوی ته وړاندې کړي، د شرعي حکمونو

---

۱ – سنن الترمذي ت بشار (٤/ ٣٨) رقم الحديث ٢١٦٩ . – كنزالعمال، ج:٣،ص:٣٢،مطبعه:رحمانية).

۲– وعلى الإمام أن يتقي الله في الرعية، ويعلم أنما هو أجيرٌ استأجره الله تعالى على الأمة لرعايتها، ولخدمة دين الله وشريعته، ولتنفيذ حدوده على العام والخاص، وعلى الإمام أن يكون قويا لا تأخذه في الله لومة لائم، أمينا على الأمة، وعلى دينهم، ودمائهم وأموالهم، وأعراضهم ومصالحهم، وأمنهم، وشأنهم، وسلوكهم، وأن لا ينتقم لنفسه، ويكون غضبه لله تعالى. الوجيز في عقيدة السلف الصالح أهل السنة والجماعة (١/ ١٦٤).

د زده کړې بلنه يې ورکړې او د عملي ميدان برابرولو سپارښتنه يې ورته کړې، چې پايله يې د انساني او اخلاقي معيارونو مطابق يوه سوچه اونېکمرغه ټولنه را منځته کېدل دي، له دې امله چې داسې يوې سالمې ټولنې ته فساد او ارتداد سرايت ونکړي شريعت مطهره امر کړی: ﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾.(۱)

ژباړه: او وي دي(تل) له تاسې څخه يوه ډله چې بولي (خلک) په طرف دخير (اسلام) او امر (حکم) کوي(خلکو ته) په معروف(نيکۍ) سره او منع کوي(خلک) له منکر (بدۍ) نه او دغه (آمرين بالمعروف ناهين عن المنکر) همدوی دي په مراد رسېدلي او کامياب.

په هغه صورت کې چې د حاسدانو او معاندينو د محنت او فتنه اچونې له کبله د دې ټولنې ځينې ساده او ناخبره خلک د هغوی د دسيسو او فريبونو ښکار کېږي د خپل دين په هکله د تغافل او يا هم د طمعو له امله د ارتداد په جال کې راځي، نو شريعت امر کوي چې اسلامي حکمرانان دې د هغوی د غفلت او ناپوهۍ د ازالې کوښښ وکړي او که بېرته يې اسلام ته رجوع ونکړه نو د مرګ په سزا دې محکوم کړل شي تر څو د غليمانو د انحراف هڅې ناکامې او دا پاکه ټولنه د ارتداد له اغيزو څخه په امن شي.

۲ – د نفسونو حفاظت او ساتنه:

انسان او د هغه حيات د الله تعالی په نزد ډېر ارزښت لري، د انسان د زېږون او تناسل په منظور يې د نر او ښځې تر منځ د مينې او مهربانۍ اړيکه پيدا کړې ده او د هغوی لپاره يې ګډ ژوند د سکون ذريعه ګرځولې ده، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي:

﴿ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً﴾.(۲)

او (ځينې) له نښو د دغه (الله جَلَّجَلَالُهُ) دادي چې پيدا کړي يې دي تاسې ته له نفسونو ستاسې ښځې(جوړه) لپاره د دې چې په ارام شئ له دوی سره (او مطمين اوسئ) او ګرځولې يې ده په منځ ستاسې(او د ښځو) کې دوستي او مهرباني بېشکه په دغه (پيداکول د مودت او رحمت په منځ د ازواجو) کې خامخا ډېري نښې دقدرت دي لپاره دي (هغه) قوم چې فکر کوي (دالله جَلَّجَلَالُهُ په صنع کې).

د هغوی د دوام او بقاء لپاره يې خوراک، څښاک، لباس او استوګنځايونه پيداکړي دي، انسان ته يې امر کړی دی چې د خپلې بقاء په خاطر به دا شيان خامخا استعمالوي، حکومتونه يې مکلف کړي دي چې هغوی ته به د فردي او ټولنيز باامنه او سوکاله ژوند برابرولو په باب هلې ځلې کوي، ټينګار يې کړی تر څو يو د بل مقابل کې داسې عمل ونکړي چې هغه د انساني حياتي حقوقو او کرامت خلاف وي، او يا د چا د فکر او عمل آزادي ورڅخه کېږي اغيزمنه کېږي:

﴿وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا﴾.(۳)

ژباړه: او هغه کسان چې ضرر رسوي مؤمنانو نارينوو ته او مؤمنانو ښځو ته (په اتهام) په غير دهغه کار چې کړی وي دوی(په نا کړي کار) پس په تحقيق باروي دوی په خپل ځان غټ دروغ او ګناه ښکاره (چې دسزا موجب ده).

بلکې د ضرورت او معذرت په احوالو کې له دې امله چې ژوند يې مشقت سره مخ نشي الله جَلَّجَلَالُهُ د ځينې عبادتونو په هکله رخصت ورکړی لکه د مرض، حيض او نفاس په حالت کې د روژې او لمانځه رخصت او يا په سفر کې د لمانځه قصر.

د انسان وژل که پخپله ځان ووژني يا يې بل ووژني حرام کړي دي، د يو انسان وژل يې د ټول انسانيت له وژلو سره برابر ګرځولي، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي: ﴿مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا﴾.(٤)

ژباړه: هر څوک چې ووژني يو نفس بې له (عوض، بدل د) بل نفس نه (يا بې) له فساد په ځمکه کې چې په ملک کې يې فساد کړی وي نو ګواکې وژلي يې دي خلک ټول او هر چاچې ژوندی کړ دغه(يو نفس چې سبب شي د ژوندن يې) نو ګواکې ژوندي کړي يې دي خلک ټول.

---

(۱) [آل عمران: ۱۰٤].

(۲) [الروم: ۲۱].

(۳) [الاحزاب: ۵۸].

(٤) [المائده: ۳۲].

د مؤمن د ناحقه وژنې په هکله الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾. (۱)

ژباړه: او څوک چې مړ کړي کوم مؤمن په قصد سره (او د مسلمان دغه قتل روا هم وګڼي) نو جزا د ده دوزخ دی، (په داسې حال کې) چې تل به وي دی (دغه حلال ګڼونکی د قتل) په هغه «دوزخ» کې او غضب(قهر) کړی دی الله جَلَّ جَلَالُهُ په ده باندې او لرې کړی دی(الله جَلَّ جَلَالُهُ)دا (قاتل) له خپل رحمت څخه او تیار کړی یې دی ده ته عذاب ډیر لوی.

یا لکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: {عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا»»}.(۲)

ژباړه: له عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت هغه وایي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: چاچې یو تن معاهد غیر مسلم چې اسلامي هېواد ته د معاهدې له مخې راغلی وي وواژه د جنت بوی به هم محسوس نکړي بېشکه د جنت بوی د څلوېښت کاله لرې مسافې څخه هم محسوسېږي.

د قصدي قتل په صورت کې یې قصاص او د خطا یې قتل په صورت کې یې دیت او کفاره لازمه کړې ده، د ظالمانو له منګولو څخه د خپل ژوند د ژغورنې په خاطر یې مظلوم ته د دفاعي اقداماتو حق ورکړی دی تر دې چې د دفاع په صورت کې د یرغلګر او حمله کوونکي په وژلو مسئول او ماخوذ هم نه دی، د مظلومو او کمزور انسانانو د ژغورنې په خاطر یې جهاد فرض کړی:

﴿وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا ﴾.(۳)

او څه شوي دي پر تاسې چې جنګ نه کوئ تاسې په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې (د دین د ترقۍ لپاره) او په (خلاصولو) د ضعیفانو کې چې سړي، ښځې او هلکان دي هغه کسان چې وایي دوی: «ای ربه زموږه! وباسه موږ له دې کلي (مکې) څخه! چې ظالمان دي او سېدونکي د هغې وګرځوه موږ ته له خپله درباره کوم ولي (حامي، ساتونکی)! او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم مددګار!».

په کومه ټولنه کې چې شرعي نظام وي د هغو خلکو ژوند ته به د کافرانو او ظالمانو له لوري څه ګواښ نه وي؛ ځکه چې د یرغل او تیري په صورت کې به د جهادي اقداماتو په ترڅ کې د هغوی دا د ظلم اراده تر عمل د مخه ورخنثی کولای شي، او همدا راز د اسلامي هېواد او ددې ډول ټولنې په داخل کې به هم د خلکو ژوند ته حفاظت حاصل وي؛ ځکه چې د قصاص او اسلامي جزائي احکامو د تنفیذ له امله به هېچا سره هم د بل انسان د ژوند ختمولو فکر نه پیدا کېږي.

او د بې موجبه قتلونو د مخنیوي په خاطر یې د قاتل لپاره سزا ټاکلې ده، که یو چا یو مسلمان قصدا قتل کړ نو سزا یې قصاص دی د اسلامي حکومت له لوري به هغه ته د مرګ سزا ورکولی شي:

﴿ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾. (٤)

ژباړه: او تاسې لره دی په قصاص کې (لوی) ژوندون ای خاوندانو د عقلونو! لپاره د دې چې تاسې ځان وساتئ (له ناحقو وینو څخه).

الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ...﴾(۵).

ژباړه: او هر څوک چې مړ کړي کوم مؤمن په خطا سره نو (شته پر قاتل) ازادول د غاړې (دمریي) مؤمن او(بل) دیت دی سپارلی شوی اهل(وارثانو) د مقتول ته مګر دا که معاف کړي دا (وارثان دغه)، پس که ؤ (دامقتول) له (هسې) قوم څخه چې

---

(۱) [سورة النساء: ۹۳]

(۲) [صحيح البخاري باب اثم من قتل معاهدا بغير جرم].

(۳) [سورة النساء: ۷۵].

(٤) [سورة البقرة، ايت: ۱۷۹].

(٥) [سورة النساء، آيت: ۹۲].

دښمن وي تاسې لره، حال دا چې دا (مقتول) مؤمن وي؛ نو (شته پر قاتل تش) ازادول د غاړې (دمريي) مؤمن (بې له ديته) او که ؤ دامقتول له (هسې) قوم څخه چې په منځ ستاسې او په منځ دهغه قوم کې عهد وي، نو (شته پر قاتل يو) ديت سپارلی شوی اهل (وارثانو) دمقتول ته او (بل) ازادول دغاړې (د مريي) مؤمن دي...

۳ - د خلکو د عقلونو حفاظت او ساتنه

د عقل په اسلام کې ډېر لوړ حيثيت دی، انسان ته پر نورو مخلوقاتو د عقل له امله امتياز حاصل دی په همدې اساس ورته د ځمکې د خلافت عهده ورسپارل شوې او د مکلفيت او مسئوليت مدار هم همدا عقل ګڼل کېږي، انسان هڅول شوی تر څو د خپل عقل د روغتيا او د هغه مادي او معنوي پالنې او ارتقاء ته ځير واوسي، داسې خوراک به استعمالوي چې بدن ته تقويت او ذهن ته نشاط ورکوي، له دې امله چې د قهر او غضب په حالت کې عقل اغېزمن وي فهم او ادراک يې ناقص وي نو قاضي منع شوی دی چې فيصله به نه کوي او که يو چا باندې سخته لوږه وه او جماعت ودرېد نو ښه داده چې لومړی ډوډۍ وخوري بيا ځانته لمونځ وکړي تر څو له عقل څخه د غضب او شهوت پرده لرې شي، د عقل د خاوندانو په ګڼو آياتونو او حديثونو کې ستاينه شوې ده، د کامل او سالم عقل استعمال کمال ګڼل شوی، له آياتونو او حديثونو څخه د استنباط په خاطر د اجتهاد دروازه په مخ ورته خلاصه شوې ده، هر هغه څه چې عقل ترې اغېزمن کېږي، لکه سحر، کهانت، خرافات او وهمياتو پسې کېدل او يا د نشه يي توکو استعمال حرام ګرځول شوي دي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾.(۱)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (اې مؤمنانو!): بېشکه همدا خبره ده چې شراب، قمار، بوتان او غشي (د فال، دا څلور واړه شيان) پليت دي له کار د شيطان څخه دي؛ نو ځان وساتئ تاسې له دې څخه لپاره د دې چې نجات ومومئ تاسې (پدې ځان ساتلو سره).

۴ - د خلکو د مالونو او شتمنيو حفاظت او ساتنه:

د ژوند سامان برابرول، او د ضرورت او سهولت په خاطر مالونه ګټل مباح عمل دی الله تعالی انسانان هڅولي دي چې مال وګټي ﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ...﴾.(۲)

ژباړه: نو هرکله چې ادا کړی شي لمونځ (د جمعې)؛ پس خواره شئ تاسې په ځمکه کې (خپلو حوائجو ته که يې لرئ) او ولټوئ تاسې له فضله د الله جَلَّجَلَالُهُ.

د کار او مشقت وېستلو فضيلت بيان شوی دی: {«مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ، خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ، وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ»}.(۳)

د خپل لاس له ګټې څخه غوره روزي هېڅا هم نه ده خوړلې بېشکه د الله پيغمبر حضرت داود عليه السلام ځانته پخپل لاس روزي ګټله. د راکړې ورکړې او د مالونو د ګټلو ټولې روا او ناروا طريقې شريعت په تفصيل بيان کړې دي، په ناحقه د يو چا د مال تر لاسه کولو يا مالي تاوان ور رسولو ټولې لارې چارې يې حرامې ګرځولې دي، کوم ځای چې شريعت نافذ وي له دې امله چې غلو او اختطاف ګرو ته شرعي سخته سزا ورکول کېږي لازمي ده چې د خلکو مالونو ته به تحفظ حاصل وي.

۵ - د خلکو د عزت او ابرو حفاظت او ساتنه:

د اسلام سپېڅلي دين د انسان پت، عزت او آبرو ته ډېر د اهميت په سترګه کتلي دي ټول هغه بې حيا او ناوړه اعمال يې ناروا اعلان کړي چې د انسان کرامت او عزت ته پرې زيان رسېږي، د زنا او نورو ناوړو اعمالو سزا لکه چې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي:

﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ﴾. (٤)

---

(۱) [سورة المائده ۹۰].

(۲) [سورة الجمعه ۱۰ ايت].

(۳) [صحيح البخاري: باب كسب الرجل وعمل يده, برقم: ۱۹۳۰].

(٤) [النور: ۲]

ژباړه:هغه ښځه او هغه سړی چې زنايې کړې وي(او محصنان نه وی، او ثابته شي زنا پر دوی په اقرار یا په شهادت) پس وهئ تاسو اې (قاضیانو او حاکمانو) هر یو له دغو دواړو سل درې. او نه دې نیسې تاسو لره په دغو(دواړو زناکارانو) زړه سوی(او مهرباني) په (انفاذ د) حکم د الله جَلَّجَلَالُهُ کې.

﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾. (۱)

ژباړه: او هغه کسان چې وولي محصنې ښځې(یا محصن سړي چې نسبت د زنا ورته وکړي) بیا را نه ولي(په مخ د قاضي حاکم کې) څلور تنه ګواهان؛ ووهئ تاسو (اې حاکمانو) دغه (قاذفان که اصیلان وي) اتیا درې او مه قبلوئ تاسو له دوی څخه ګواهي هېڅکله(تر وخته د مرګه پورې).

له همدې کبله څرګنده ده چې د شرعي حدودو په تنفیذ سره به خلک د فردي او اجتماعي عزت، آبرو او حیا داری څخه برخمن وی.

کومه ټولنه چې له شریعت او آسماني دین سره یې تړاو نه وي نو بیا شونې نه ده چې د پورته یادو شویو ارزښتونو څخه دې کما حقه برخمنه وي بلکې هغه اسلامي ټولنه چې پخپل دین پوره عمل نلري او واکمن یې شریعت نه تطبیقوي هغوی ته دا ارزښتمن مقاصد حاصل نه وي ډېر ځله غلیمان په قصدي توګه له دې ګټورو مقاصدو او تحفظاتو څخه د هغوی د محرومیت هڅې کوي، د بېلګې په توګه د افغانستان اسلامي هېواد چې د اشغال یې شل کاله وشول سره له دې چې د انساني حقوقو دعوه لرونکو او د بشري ثقافت ټېکه دارانو ولکه ورباندې لګولې وه ګورو چې دا تحفظات یې څومره ټکني کړي وو او د دې ډول ارزښتونو ختمولو په هکله څومره لاس په کار وو، او که کله کوم هېواد کې شرعي حدود نافذ وي نو بدناموي یې تحقیر یې کوي او د بشري حقونو خلاف یې ګڼي.

د اسلامي نظام او شرعي امیر د نشتوالي تاوانونه:

په دې هکله بهترین دلیل له افغانستان څخه پرته د نور اسلامي امت دا موجوده حالت دی چې ورسره لاس او ګریوان دی: دا قاطع دلیل دی چې د اسلام د قیام تعلق په رجوع الی الله کې دی او په دویم قدم کې د اسلامي خلافت په احیاء او اسلامي نظام په حاکمیت کې دی، هغه چې د اسلام دښمنان یې تل مخالف او خنډ دي، له هغه مهاله چې اسلامي ټولنه له اسلامي خلافت او رښتیني اسلامي نظام څخه محرومه شوې ګورو چې: مسلمان ولسونه وېشل شوي، د سمتي، لساني او مذهبي نفرتونو له امله له ذات البیني بې شمېره ناخوالو سره مخ دي.

د خپل منځي تفرقو او جنجالونو له امله ډېرو مسلمانو ولسونو د کافرانو دوستۍ ته مخه کړې او د هغوی د سیاسي او نظامي حمایت په طمع یې د هغوی هر ډول فرمایشونو او باج ورکولو ته غاړه ایښې.

د تعلیمي، حقوقي او بشري پروګرامونو په ترڅ کې د منظمو توطئو له مخې د ارتداد د طوفانونو څپې د مسلمانو ولسونو په لور توجیه کړل شوي، د نوي نسل او ښځینه طبقې د بې لارې لپاره بې شمېره ذرائع په کار اچول شوي چې د مخنیوي چارې یې د نشت برابر دي.

حدود معطل دي د خلکو وینې، مالونه او عزتونه تر پښو لاندې دي، د جهاد جذبه د خلکو له زړونو څخه وتلې ده، له ګټو او حیاتي ارزښت څخه یې ناخبره دي، له دې امله استعماري قوتونه په بشپړه بې پروایۍ خپلو شومو او ظالمانه پلانونو ته په اسانه د عمل جامه ور اغوندي.

اسلامي نړۍ د پرمختګ پر ځای له په ټپه ولاړ حالت سره مخ ده. د خیر، فلاح، برکت او خوښیو قافلو ترې کوچ کړی.

اسلامي تمدن او ثقافت له خاورو سره خاورې، او تشه یې کفري او مبتذلو کلتورو نو او ثقافتونو ډکه کړې.

په اسلامي هېوداونو له هر لوري د کافرانو بې رحمانه حملې او یرغلونه په دوامداره توګه روان دي.

په ټوله کې د اسلامي امت د صنعتي او اقتصادي پرمختیا او پراختیا په وړاندې بې شمېره خنډونه پراته دي.

د علمي او څېړنیزو انکشافاتو په برخه کې فرصتونه او تسهیلات په اختیار کې نه لري.

](۱النور: ٤]

له یادو او سلګونو نورو ناخوالو سره چې امت مخ دی د هغو ټولو ستر او عمده لامل د اسلامي خلافت له قیام څخه د امت غفلت او د شرعي امیر نشتوالی دی، حال دا چې د دین د نورو احکامو لکه: لمونځ، روژه زکات او حج په څېر د امام ټاکنه هم په دوی واجب او ضروري ده؛ له همدې امله که څوک د اسلامي هېوادونو د حالاتو سمون او بریالیتوب د اسلامي امت د یو والي او خلافت له قیام څخه پرته په بل څه کې ګوري نو هغوی تېروتلي دي. له دې ټولو ذلتونو، غلامیو او تکلیفونو څخه د خلاصون لاره د الله تعالی دې حکم ته متوجه کېدل او په هکله یې لازم اقدامات کول دي چې هغه د شرعي امیر ټاکل او له هغه څخه اطاعت کول دي.

لومړی مبحث: د امیر د اطاعت حکم، د سرغړوونکي سزا او د اطاعت ځایونه

لومړی مطلب: د شرعي امیر د اطاعت حکم:

د شرعي امیر اطاعت واجب دی چې له لاندې نصوصو څخه څرګندېږي(۱)

۱ - الله تعالی فرمایلي:﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ﴾. (۲)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی(اې مؤمنانو)! حکم ومنئ تاسې د الله جَلَّجَلَالُهُ او حکم ومنئ تاسې د رسول (د الله) او (حکم ومنئ) د خاوندانو د حکم له تاسې (مسلمانانو یعني حاکمانو او مشرانو !).

د ایت تشریح:

الله جَلَّجَلَالُهُ په قرآن کریم کې له دې ذکر شوي آیت نه مخکې دغه آیت:

﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾. (۳)

ذکر کړی چې په مخکني آیت کې حاکمانو ته خطاب شوی دی او په وروستني آیت کې محکومینو (رعیت) ته خطاب دی.

او همدا شان په دې وروستني آیت کې د الله جَلَّجَلَالُهُ د اطاعت او د رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د اطاعت حکم شوی دی د الله جَلَّجَلَالُهُ او د رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ اطاعت مقصود بالذات دی، نو ځکه له دواړو سره لفظ د (أطیعوا) ذکرشوی، که له (أولی الامر) څخه مراد حاکمان شي، بیاهم د دوی اطاعت مستقل بالذات نه دی، بلکې که حاکمان د الله جَلَّجَلَالُهُ او د رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ تابع وي او د دوی حکمونه د الله جَلَّجَلَالُهُ او د رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د تعلیماتو موافق وي، نو بیا به د دې حاکمانو اطاعت کولی شي او که دوی تابع نه وي او حکمونه یې د تعلیماتو مطابق نه وي بیا به اطاعت نشي کولای، د دغې نکتې له امله په قرآن کریم کې له أولی الامر سره لفظ د (أطیعوا) ندی ذکر شوی.

له اولي الامر نه مراد څوک دي؟

د دې آیت په تفسیر کې مفسرینو یوولس زیات اقوال نقل کړي دي په دې کې ځینې اقوال ډېر مشهور دي: د مقاتل رَحِمَهُ ٱللَّهُ کلبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ او مهران رَحِمَهُ ٱللَّهُ قول دی: له دې څخه مراد مشران او امیران دي، د ابو العالیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ او جابر بن عبد الله رَضِيَٱللَّهُعَنْهُمَا په قول له دې څخه مراد علماء او فقهاء دي، امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ دې قول ته ترجیح ورکړې ده، امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمایي: له دې څخه مراد امیران دي، د امام نووي رَحِمَهُ ٱللَّهُ میلان هم دې طرفته دی، امام قرطبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم دا خبره اصح ګڼلې ده. (٤)

۲ - رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمایي:

{«مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ، وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي ...»} (٥)

---

۱ – ثُمَّ إِذَا وَقَعَتْ الْبَيْعَةُ مِنْ أَهْلِ الْحَلِّ وَالْعَقْدِ مَعَ مَنْ صِفَتُهُ مَا ذُكِرَ صَارَ إمَامًا يُفْتَرَضُ إطَاعَتُهُ كَمَا فِي خِزَانَةِ الْأَكْمَلِ. الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (٦/ ٤٦٠).

۲ – (سورة النساء:٥٩).

۳ – (سورة النساء:٥٨).

٤ – (روضة الصالحين شرح رياض الصالحين، ج:٢،ص:٤٤١،باب وجوب طاعة ولاة الأمرفى غير معصية وتحريم طاعتهم فى المعصية،مطبع:رشيدية).

٥ – مستخرج أبي عوانة (٤ / (٣٩٩) رقم الحديث (٧٠٨٧).

ژباړه: څوک چې زما اطاعت وکړي، یقینا هغه د الله اطاعت وکړ او څوک چې زما نافرماني وکړي یقینا هغه د الله نافرماني وکړه څوک چې زما د امیر اطاعت وکړي، په حقیقت کې یې زما اطاعت وکړ.

له پورتني حدیث څخه څرګندېږي چې د امیر اطاعت په حقیقت کې د رسول الله ﷺ اطاعت دی او د هغه اطاعت د الله جَلَّ جَلَالُهُ اطاعت دی که موږ غواړو په صحیح معنا د شریعت پای بند او اسلامی نظام مو غښتلی شي باید په بشپړه توګه د خپل امیر اطاعت وکړو، که الله مه کړه) د اطاعت کمی راشي، له یوې خوا به مو د نظام د استحکام ستنې لړزېدلې وي او له بلې خوا به مو د الله جَلَّ جَلَالُهُ او د هغه د رسول ﷺ نافرماني کړې وي.

۳ – {عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا، وَإِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ، كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ»}. (۱)

ژباړه: له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه ویلي: رسول الله ﷺ فرمایلي: په تاسو باندې (د امیر د امر) اورېدل او منل لازم دي اګر چې په تاسو باندې حبشي غلام هم حاکم مقرر شي اګر چې د هغه سر د ممیز د دانې په اندازه وي.

د حدیث تشریح: وان استعمل علیکم عبد حبشی: اګر چې په تاسو باندې یو حبشي غلام حاکم مقرر شي نو بیا به هم د هغه اطاعت ضروري وي. محدثین فرمایي: په حدیث کې مبالغه ده که چېرته په تاسو باندې یو حبشي غلام هم حاکم مقرر شي نو د هغه اطاعت ضروري دی د هغه خلاف بغاوت جائز نه دی، د دې مثال داسې دی لکه په یو روایت کې چې راځي څوک د مرغۍ د ځالې په اندازه جومات جوړ کړي نو هغه ته هم په جنت کې کور جوړېږي نو د مرغۍ د ځالې برابر جومات له جوړولو نه مقصد د جومات اهمیت څرګندول دي په حدیث کې هم د حبشي غلام ذکر کول د هغه د تابعدارۍ اهمیت څرګندول مقصود دي.

۴ – وَكَذَلِكَ إِنْ أَمَرُوهُمْ بِشَيْءٍ لَا يَدْرُونَ أَيَنْتَفِعُونَ بِهِ أَمْ لَا، فَعَلَيْهِمْ أَنْ يُطِيعُوهُ، لِأَنَّ فَرْضِيَّةَ الطَّاعَةِ ثَابِتَةٌ بِنَصٍّ مَقْطُوعٍ بِهِ. وَمَا تَرَدَّدَ لَهُمْ مِنَ الرَّأْيِ فِي أَنَّ مَا أُمِرَ بِهِ مُنْتَفَعٌ أَوْ غَيْرُ مُنْتَفَعٍ بِهِ لَا يَصْلُحُ مُعَارِضًا لِلنَّصِّ الْمَقْطُوعِ. (۲)

ژباړه: امیر که خلک په کوم کار مأمور کړل او دوی نه پوهېدل چې په دې کې ګټه ده او که تاوان دی بیا هم پر هغوی لازمه ده چې اطاعت یې وکړي، ځکه د امیر د اطاعت فرضیت په قطعي نص (دلیل) ثابت دی، او دوی ته چې په دې کې شک دی چې ایا دا کار به مو په ګټه وي او که په تاوان دغه تردد او شک د قطعي نص د مقابلې وړتیا نه لري.

په هرحال کې د توان په اندازه د امیر اطاعت ضروري دی:

۱ – {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكَ السَّمْعَ وَالطَّاعَةَ فِي عُسْرِكَ وَيُسْرِكَ، وَمَنْشَطِكَ وَمَكْرَهِكَ، وَأَثَرَةٍ عَلَيْكَ»}. (۳)

ژباړه: له ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه ویلي: رسول الله ﷺ فرمایلي: په تا باندې (د امیر د خبرې) اورېدل او منل لازم دي، که د سختۍ حالت وي او که د آسانۍ، که ستا د خوښۍ حالت وي او که د ناخوښۍ او یا په تا باندې بل کس ته ترجیح ورکړل شي. (٤)

۲ – {عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كُنَّا إِذَا بَايَعْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، يَقُولُ لَنَا: «فِيمَا اسْتَطَعْتُمْ»} (۱)

---

۱ – صحيح البخاري (۹/ ٦٢) رقم الحديث ۷۱٤۲.

-مشكوة المصابيح،كتاب الأمارة والقضاء،ج:۲،ص:۳۲۹،مطبع:یادگارشیخ).(وأيضاًفی رياض الصالحين، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفی غير معصية وتحريم طاعتهم فی المعصية،ص:۲۴۲ ج:۱،مطبع:رشيدية). كنزالعمال،باب النصيحة،ج:۵،ص:۳۰۹،مطبع:رحمانية).

۲ – شرح السير الكبير (ص: ١٦٥).

۳ – صحيح مسلم (۳/ ١٤٦٧) رقم الحديث (١٨٣٦). باب وجوب طاعة الامراء في غير معصية. رياض الصالحين، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفی غير معصية وتحريم طاعتهم فی المعصية،ص:۲۴۲ ج:۱،مطبع:رشيدية).(وأيضاًفی كنزالعمال،كتاب الخلافة مع الإمارة،ج:۵،ص:۳۱۴،مطبع:رحمانية).

٤ – (روضة الصالحين شرح رياض الصالحين،ج:۲،ص:۴۴۴،باب وجوب طاعة ولاة الأمرفی غير معصية وتحريم طاعتهم فی المعصية).

ژباړه:له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه ويلي: چې مونږ به کله له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په دې خبره بيعت کاوه چې ستاسو حکم به اورو او تابعداري به يې کوو موږ ته به يې فرمايل:د اورېدلو او منلو دا بيعت په هغو کارونو کې دی چې تاسو يې توان ولرئ.

د حديث تشريح: علماءکرام فرمايي:که يو طرفته په دې حديث کې عام ولس ته حکم دی چې تاسو به د مسلمانانو مشرانو اطاعت کوئ، په دې شرط چې دوی به د شريعت مخالف امر نه کوي، بل طرف حاکمانو ته هم حکم دی چې تاسو به هم عوام دومره په تکليف کې نه اخته کوئ چې د دوی په توان کې نه وي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشادات جوامع الکلم دي،ځکه چې دواړو طرفو ته يې ډېر زيات خيال ساتلی دی.

د امير اطاعت د امتيازاتو تر لاسه کولو په بدل کې:

حضرت أبو هريرة رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

{«تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ، وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ، وَعَبْدُ الخَمِيصَةِ، إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ، تَعِسَ وَانْتَكَسَ، وَإِذَا شِيكَ فَلاَ انْتَقَشَ، طُوبَى لِعَبْدٍ آخِذٍ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، أَشْعَثَ رَأْسُهُ، مُغْبَرَّةٍ قَدَمَاهُ، إِنْ كَانَ فِي الحِرَاسَةِ، كَانَ فِي الحِرَاسَةِ، وَإِنْ كَانَ فِي السَّاقَةِ كَانَ فِي السَّاقَةِ، إِنِ اسْتَأْذَنَ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ، وَإِنْ شَفَعَ لَمْ يُشَفَّعْ»}. (۲)

ژباړه: هلاک دې وي د دينار او درهم مريی، همدارنګه دښو مزينو جامو مريی، هغه ته که څوک څه ورکوي نو خوښ وي او که يې نه ورکوي نو په قهر وي، هلاک او سرښکته دې وي که اغزی يې په بدن کې لاړ شي هغه دې ترې ونه وېستل شي، نېکمرغي او بشارت هغه چا لپاره دی چې د الله تعالی په لار کې يې د آس واګې نيولې وي ببر سر، ګردجنې پښې،که يې په څار وګوماري نو پيره کوي،که يې د لښکر وروستۍ برخې ته استوې هلته ځي،که اجازه وغواړي نه ورکول کېږي او که د چا سپارښتنه کوي نه منل کېږي.

دويم مطلب: د شرعي امير بيعت ماتول او له اطاعت څخه د سرغړوونکي سزا:

الف: له امير سره د کړي بيعت نقض:

له امام سره چې بيعت وشي، هغه بيا د ماتولو قابل نه دی، بيعت کونکی نشي کولای چې د امام له بيعت څخه ځان وباسي او که څوک له بيعت څخه د وتلو هڅه کوي نو دا هڅه يې ستره ګناه او ناروا ده.

۱ – الله جل جلاله فرمايي:﴿إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ فَمَنْ نَكَثَ فَإِنَّمَا يَنْكُثُ عَلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ (۳)

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې بيعت کوي له تاسره بېشکه بيعت کوي له الله جل جلاله سره او لاس د الله جل جلاله له پاسه له لاسونو د دوی دی، پس هغه چا چې مات کړ دا بيعت بېشکه چې ماتوي به دی بيعت په ځان خپل (او ضرر يې همده ته راجع کېږي) او هغه څوک چې وفا وکړي په هغه شي چې عهد او اقرار يې کړی دی پر هغه له الله جل جلاله سره پس ژر ده چې وربه کړي الله تعالی ده ته اجر او بدل ډېر زيات(چې د جنت عطاء او د الله جل جلاله لقاء ده).

همدا راز رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

۲ – {عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قال: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ، لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ، وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»}. (٤)

---

۱ – صحيح البخاري (۹/ ۷۷) رقم الحديث۷۲۰۲. باب كيف يبايع الإمام الناس. رياض الصالحين، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفى غير معصية وتحريم طاعتهم فى المعصية،ص: ۲۴۱ ج: ۱،مطبع:رشيدية).(وأيضاً فى مشكوة المصابيح،كتاب الأمارة والقضاء،ج: ۲،ص: ۳۲۹،مطبعه: يادگـارشيخ).

۲ – صحيح البخارى،ج: ۱،ص: ۵۱۱،رقم الحديث،۲۸۸۶،مطبعه:رحمانية.

۳ – [سورة الفتح: ۱۰].

٤ – صحيح مسلم (۳/ ۱٤۷۸)كتاب الإمارة، باب الأمر بلزوم الجماعة عند ظهور الفتن .... رقم الحديث (۵۸– ۱۸۵۱).

ژباړه: له عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه وایي: ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې: چا چې (د امیر) له اطاعت څخه لاس واخیست، د قیامت په ورځ به له الله جَلَّ جَلَالُهُ سره په داسې حال کې مخامخ شي چې هیڅ دلیل به نلري او څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې په غاړه کې یې بیعت نه وي، هغه د جاهلیت په مرګ مړ شو.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بل ځای کې فرمایي:

۳ – {إِنَّ الْغَادِرَ يُنْصَبُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُقَالُ: هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانٍ "، وَإِنَّ مِنْ أَعْظَمِ الْغَدْرِ أَنْ لَا يَكُونَ الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ تَعَالَى، أَنْ يُبَايِعَ رَجُلٌ رَجُلًا عَلَى بَيْعِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ، ثُمَّ يَنْكُثَ بَيْعَتَهُ}.(۱)

ژباړه: د قیامت په ورځ به د غدر کونکي لپاره بیرغ درول کېږي، او داسې به ویل کېږي دا د فلاني غدر دی او تر شرک وروسته تر ټولو لوی غدر دا دی چې څوک له چا سره (پدې شرط) چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ او د هغه د رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر دی بیعت وکړي او بیا یې مات کړي.

۴ –{عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ: أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الإِسْلاَمِ، فَأَصَابَ الأَعْرَابِيَّ وَعْكٌ بِالْمَدِينَةِ، فَأَتَى الأَعْرَابِيُّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَقِلْنِي بَيْعَتِي، فَأَبَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ: أَقِلْنِي بَيْعَتِي، فَأَبَى، ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ: أَقِلْنِي بَيْعَتِي، فَأَبَى، فَخَرَجَ الأَعْرَابِيُّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا الْمَدِينَةُ كَالْكِيرِ، تَنْفِي خَبَثَهَا، وَيَنْصَعُ طِيبُهَا»} (۲)

ژباړه: جابر بن عبد الله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وایي: یو صحرایي له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره پر اسلام بیعت وکړ، بیا یخې تبې ونیولو، ویل یې له ما سره مې بیعت مات کړه، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انکار وکړ، بیا راغی ویل یې له ما سره مې بیعت مات کړه، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انکار وکړ، بیا هغه (له مدینې) څخه و ووت، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: مدینه لکه د اهنګر د داش بنې داسې ده چې بد خلک لرې کوي او ښه خلک پاکوي.

۵ – {عن أبي ذرٍّ، قال: قال رسولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ فارقَ الجماعةَ شِبراً، فقد خَلَع رِبْقَةَ الإسلام من عُنُقِهِ"}. (۳)

ژباړه: څوک چې د مسلمانانو له جماعت څخه یوه لوېشت لرې شو، د هغه له خپلې غاړې د اسلام کړۍ و وېستله.

لنډه دا چې له بیعت څخه وتل که له یوې خوا ستره ګناه ده، له بلې خوا یو څوک نشي کولای چې پخپل سر له بیعت څخه ځان خلاص او له بیعت څخه ووځي (٤)

ب: د شرعي امیر په اطاعت صبر او د سر غړوونکي سزا:

۱ – {عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَنْ كَرِهَ مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا فَلْيَصْبِرْ، فَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ السُّلْطَانِ شِبْرًا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»}. (٥)

ژباړه: له عبد الله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا څخه روایت دی هغه له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روایت کوي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي :کوم کس چې په امیر(مشر)کې داسې خبره ووینې چې هغه یې بده ګڼي نو باید چې صبر وکړي دا ځکه؛ چې څوک د امیر(مشر) له تابعدارۍ څخه یوه لوېشت هم خارج شي هغه د جاهلیت په مرګ مړ شو.

د حدیث تشریح: په ګڼ شمېر حدیثونو کې د امیرانو او مشرانو حکم منل ذکر شوي دي لیکن یاد ساتل پکار دي چې د امیر خبره منل به د شریعت په حدودو کې وي که امیر یا حاکم داسې یو عمل ترسره کړي چې هغه له شریعت څخه بهر وي نو انسان ته پکار ده چې په زړه کې ورسره نفرت وکړي او صبر وکړي که په زړه کې یې هم بد نه ګڼي نو بیا به ورسره په ګناه کې برابر شریک

۱– مسند أحمد مخرجا (۹/ ۱۰۵). السنن الكبرى للبيهقي (۸) (۲۷۵) ، جماع أبواب الرعاة، باب إثم الغادر للبر والفاجر، رقم الحديث (۱٦٦۳۱).

۲ – صحيح البخاري (۹/ ۷۹). كتاب الأحكام، باب بيعة الأعراب، رقم الحديث) ۷۲۰۹.

۳ – سنن أبي داود (٤/۲٤۱) ،كتاب السنة، باب في قتل الخوارج، رقم الحديث (٤۷٥۸).

٤ – يحرم على المسلم إذا بايع الإمام أن ينقض بيعته أو يترك طاعته إلا لموجب شرعي يقتضي انتقاض البيعة، كردة الإمام ونحو ذلك من الأسباب التي تقدم ذكرها في مبحث الإمامة الكبرى فإن نقض البيعة لغير ذلك فهو حرام. الموسوعة الفقهية الكويتية، ج ۹، ص ۲۸۰، ط: مكتبة ميا عبد الحكيم صاحب، قندهار.

٥ – صحيح البخاري (۹/ ٤۷) قم الحديث ۷۰٥۳ . رياض الصالحين،باب وجوب طاعة ولاة الأمرفى غير معصية وتحريم طاعتهم فى المعصية،ص:۲٤۳ ج:۱ ،مطبع:رشيدية).

وي په داسې صورت کې به د امير خبره نه شي منلی چې له شريعت څخه خارج عمل وي ليکن عدم اطاعت په بغاوت کې داخل نه دی ځکه چې د بغاوت کوونکي لپاره سخت وعيدات راغلي دي.

۲ – {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: ... وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي»}. (۱)

ژباړه: له أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کوم کس چې زما د امير (مشر) نافرماني وکړه هغه زما نافرماني وکړه.

دريم مطلب: د امير د اطاعت کولو او يا نه کولو ځايونه:

الف: دامير داطاعت ځايونه: د امير امر او منعه منل او اطاعت په ټولو هغه کړنو کې لازم دی چې د مطهره شريعت خلاف نه وي، په ځانګړي ډول په جهادي امورو کې د امير اطاعت ډېر لازم دی؛ دا ځکه چې په جهادي امورو کې د امير له امر يا منعي څخه سرغړونه، د اخروي عذابونو تر څنګ د دنيوي ستونزو او سختيو لامل هم ګرځي.

تر دې چې د امير په امر يا منعې کې له ځانه تأويلونه کول او يا اجتهادونه کول هم د سترې ناکامۍ لامل کېدای شي، لکه د احد په غزا کې څو صحابه کرامو رضي الله عنهم د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خبره کې اجتهاد وکړ، په نتيجه کې يې د مسلمانانو فتحه پر شاتګ بدله او د ډېرو صحابه کرامو رضي الله عنهم د شهادت سبب شو او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم غاښ مبارک شهيد او مخ مبارک يې زخمي شو.

براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي:

۱ – {عَنِ البَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: لَقِينَا المُشْرِكِينَ يَوْمَئِذٍ، وَأَجْلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا مِنَ الرُّمَاةِ، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللَّهِ، وَقَالَ: «لاَ تَبْرَحُوا، إِنْ رَأَيْتُمُونَا ظَهَرْنَا عَلَيْهِمْ فَلاَ تَبْرَحُوا، وَإِنْ رَأَيْتُمُوهُمْ ظَهَرُوا عَلَيْنَا فَلاَ تُعِينُونَا» فَلَمَّا لَقِينَا هَرَبُوا حَتَّى رَأَيْتُ النِّسَاءَ يَشْتَدِدْنَ فِي الجَبَلِ، رَفَعْنَ عَنْ سُوقِهِنَّ، قَدْ بَدَتْ خَلاَخِلُهُنَّ، فَأَخَذُوا يَقُولُونَ: الغَنِيمَةَ الغَنِيمَةَ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: عَهِدَ إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لاَ تَبْرَحُوا، فَأَبَوْا، فَلَمَّا أَبَوْا صُرِفَ وُجُوهُهُمْ، فَأُصِيبَ سَبْعُونَ قَتِيلًا}. (۲)

ژباړه: په هغه ورځ د احد په ورځ له مشرکانو سره مخ شوه، رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ډله غشي ويشتونکي مجاهدين د رماة پر غونډۍ کېنول او عبد الله رضي الله عنه يې د هغوی رضي الله عنهم مشر وټاکه او ورته يې وويل: تاسو له ځايه مه ښورئ که موږ مو وليدوو چې پر هغوی بريالي شوو، تاسو له ځايه مه ښورئ او که هغوی مو وليدل چې پر موږ غالب شول بيا هم زموږ مرسته مه کوئ کله چې ورسره مخ شوو، هغوی (کفار) و تښتېدل، تردې چې د هغوی مېرمنې مې ولېدلې په غره کې يې منډې وهلې پايڅې يې ورپورته کړې وې او پايل يې ښکارېدل، هغوی د عبد الله رضي الله عنه ملګرو وويل: هلئ ! غنيمت دی غنيمت ! عبد الله رضي الله عنه ورته وويل: ما ته رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي له دې ځايه مه ښورئ، هغوی انکار وکړ، کله چې هغوی انکار وکړ حيران شول او لاره ترې ورکه شوه، او يا کسان شهيدان شول.

لنډه دا چې:

مجاهدين به د امير په امر يا منعه کې تاويلونه نه کوي، بلکې تر څو چې ښکاره خطا يې نه وي ليدلې د امير امر امر ته دې غاړه ږدي او په همدې کې بريالیتوب او خير دی.

په اسلامي نظام کې د جهادي چارو اختيار يوازې له امام سره دی

په اسلامي نظام کې د اجتماعي کارونو واک له امام سره دی، هيڅا ته نه ښايي چې په داسې کارونو کې د امام له مشورې او مصلحت پرته ګام واخلي.

۲- **حاکمان چې ترڅو لمونځ کوي:**

---

۱ – صحيح مسلم (۳/ ۱٤٦٦) رقم الحديث ۳۳– ۱۸۳۵.

– مشكوة المصابيح، كتاب الأمارة والقضاء، ج:۲، ص: ۳۲۹، مطبعه: يادگارشيخ).

– رياض الصالحين، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفي غير معصية وتحريم طاعتهم في المعصية، ص:۲۴۳ ج:۱، مطبع: رشيدية.

۲– صحيح البخاري (٥/ ۹٤). كتاب المغازي، باب غزوة أحد، رقم الحديث (٤٠٤٣).

{عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «سَتَكُونُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ عَرَفَ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ» قَالُوا: أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ: «لَا، مَا صَلَّوْا»}. (۱)

ژباړه: د ام المؤمنین ام سلمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي: په تاسو باندې به داسې امیران مقرر شي چې د هغوی ځینې خبرې به تاسو ته ښې معلومېږي او ځینې به درباندې بدې لګېږي چاچې په دغو خبرو نا خوښې ښکاره کړه د هغه غاړه خلاصه شوه او چاچې هغه خبرې بدې وګڼلې هغه محفوظ شو خو کوم کس چې پرې راضي شو او تابعدار شو هغه کس به په هغوی کې شامل وي صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وفرمایل: ایا له هغوی سره جګړه ونه کړو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: نه ترڅو پورې چې لمونځ کوي ترهغه پورې ورسره جهاد مه کوئ.

د حدیث تشریح: {سَتَكُونُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ}: په تاسو باندې به ځینې داسې مشران مقرر شي چې تاسو به د هغوی ځینې کارونه خوښوئ او ځینې به یې بد ګڼئ مطلب دا چې د امیر څخه کله کوم قبیح او خلاف شریعت کار ظاهر شي په زړه کې به یې بد ګڼئ او په مناسب توګه به د هغه د اصلاح کوښښ کوئ کوم کس چې قلباً او عملاً د هغوی په حرکاتو موافق شي دی هم په دې ګناه کې ورسره شریک دی.

امام سرخسي رَحِمَهُ اللهُ لیکي:

۳- {ما یکون مرجعه إلى عامة المسلمین في النفع والضرر فالإمام هو المنصوب للنظر في ذلك، فالافتیات علیه في ذلك یرجع إلى الاستخفاف بالإمام}.(۲)

ژباړه: د کوم کار ګټه یا تاوان چې عامو خلکو ته رسېږي، د هغه واک امام ته سپارل شوی نو د امام له رایې و تل، د امام سپکاوی دی

او همدار از علامه ماوردي رَحِمَهُ اللهُ لیکي:

{فعلى كافة الأمة تفویض الأمور العامة إلیه من غیر افتیات علیه ولا معارضة له؛ لیقوم بما وكل إلیه من وجوه المصالح وتدبیر الأعمال}(۳).

ژباړه پر ټولو خلکو لازمه ده چې د عامه کارونو واک امام ته پرېږدي، او د هغه له رایې ونه وځي او نه ورسره مخالفت وکړي، ترڅو نوموړی ورسپارل شوې چارې په سمه توګه پر مخ بوځي.

او د همدې اجتماعي کارونو له ډلې یو هم جهاد دی، چې په اسلامي نظام کې یې د چارو واک او اختیار امام ته سپارل شوی، که امام د جهاد امر وکړي، پر مسلمانانو جهاد فرض دی او د امام امر به مني او که نوموړی له چا سره صلحه یا ډزبندي کوي، بیا د مسلمانانو مکلفیت دا دی چې د امام د امر د موافقت پابندي وکړي.

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ﴾(٤)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (اې مؤمنانو!) څه باعث دی په تاسې کله چې وویل شي تاسې ته چې ووځئ تاسې په لاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ کې (غزا ته) درانه (او مائل) کېږئ ځمکې ته (او غزا ته نه ځئ) ایا راضي شوي یئ تاسې پدې حیات دنیوي (ژوندون لږ خسیس تېرېدونکي) له (نعمتونو) د اخرت نه؟ او نه دي نفع اخیستل د دې حیات دنیوي (ژوندون لږ خسیس) په (مقابل د نعمتونو) د اخرت کې مګر لږ (حقیر) دي.

ابن قدامه رَحِمَهُ اللهُ لیکي:

---

۱ - صحیح مسلم (۳/ ۱٤۸۰) رقم الحدیث - ۱۸٥٤. باب وجوب الانكار علي الامراء. ریاض الصالحین، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفی غیر معصیة وتحریم طاعتهم فی المعصیة،ص:۲۴۲ ج:۱ ،مطبعه:رشیدیة.

۲شرح السیر الكبیر (ص: (٥٧٦) [باب من الأمان بغیر إذن الإمام وبعد نهي الإمام].

۳- الأحكام السلطانیة للماوردي (ص: (۳۹) الباب الأول في عقد الامامة، فصل: "في وجوب معرفة الأمة لمن تولى أمرها."

٤ - [سورة التوبة: ۳۸ ، ۳۹].

[وأمرالجهاد موكول إلى الإمام واجتهاده، ويلزم الرعية طاعته فيما يراه من ذلك].(١)

ژباړه: د جهاد چارې امام ته سپارل شوې دي او پر رعیت باندې په دې چارو کې د امام د نظر اطاعت کول لازم دي.

او همدا راز علامه کرابیسي رحمه الله لیکي:

[الإمام لما وادعهم صاروا ذمة لنا، فوجب على جميع المسلمين الذب عنهم]. (٢).

ژباړه: که امام له هغوی (کافرانو) سره صلحه وکړي؛ نو هغوی زموږ په ذمه کې دي او پر ټولو مسلمانانو واجب ده چې له هغوی دفاع وکړي.

له پورتنیو نصوصو څخه څرګندیږي چې د جهاد کولو یا نه کولو، له کافرانو سره د صلحې کولو یا نه کولو او دې ته ورته د نورو جهادي امورو واک او اختیار یوائې له امام سره دی، هغه چې څرنګه پرېکړه وکړي، په رعیت او مجاهدینو واجب ده چې د هغه د امر اطاعت وکړي، د پرېکړې مصلحت یا ګټې ته د هغوی ذهن ورسیږي یا و نه رسیږي پرې خوښ وي یا نا خوښ په هر حالت کې به یې اطاعت کوي.

ب: د امیر د اطاعت نه کولو ځایونه:

١- که ظاهراً په امیر کې کفر ولیدل شي:

اسلامي حکومت سره به د بقاء، استحکام، اصلاح او عدل پلي کولو په برخه کې مرسته کولی شي، په معمولي خبرو به نه نېټه ورکولی شي او نه به یې د را پرځولو او متزلزل کولو هڅه کېږي، تر هغه چې کفر ور څخه څرګند شوی نه وي اطاعت یې په خلکو واجب ګرځولی شوی دی.

له عباده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عنه څخه روایت دی هغه ویلي رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي:{« عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ... فَقَالَ فِيمَا أَخَذَ عَلَيْنَا... وَأَنْ لاَ نُنَازِعَ الأَمْرَ أَهْلَهُ، إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا، عِنْدَكُمْ مِنَ اللَّهِ فِيهِ بُرْهَانٌ»}.(٣)

ژباړه: له عبادة بن الصامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه وایي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغه بیعت کې چې له مونږ څخه یې واخیست دا ؤ چې مونږ به له هغه چا سره چې د امامت وړتیا لري ورسره جګړې نه کوو، تر څو مو چې ښکاره کفر ور څخه نه وي لیدلی چې په هغه باندې ستاسو لپاره دالله له لوري دلیل موجود وي.

د امیر اطاعت خو له دې امله واجب شوی و چې باید د مسلمانانو چارو ته رسیدګي وکړي د هغوی ستونزې حل کړي، د دین ساتنه وکړي او نشریې کړي، د احکامو تنفیذ وکړي، اسلامي سرحدونو ساتنه وکړي، د اسلام له دښمنانو سره چې اسلامي بلنه یې رد کړې جهاد وکړي، له مسلمانانو سره دوستي ولري او د دین له دښمنانو سره دښمني کوي.

که کله د دین ساتنه نه کوي، د مسلمانانو غمخوري نه کوي نو بیا خو یې د امامت حق ضائع کړی دی په امت واجب دی چې په دې مهال د اهل الحل والعقد شورا را وبلي او معزول یې کړي او بل داسې څوک وټا کي چې د امامت مقاصدو ته ژمن وي او حق یې ادا کوي.

د ظلم او فسق له امله د شرعي امیر په خلاف پاڅون:

اهل السنة والجماعة یوازې د ظلم او فسق له امله د حاکمانو په خلاف پاڅون او بغاوت نه دی روا کړی؛ ځکه چې دوی دا د دین ضیاع نه ګڼي، هغه امام ټاکي چې فیصله په شریعت کوي؛ ځکه چې زموږ اسلافو داسې حکومت نه پېژانده چې د دین محافظت نه کوي د دوی په نزد هغه حکومت نه ګڼل کېده چې د دین محافظ نه وي.(٤)

«عن على بن أبي طالب أنه قال: لا بد للناس؛ من إمارة برة كانت أو فاجرة، قيل له: هذه البرة عرفناها فما بال الفاجرة ؟! قال: يُؤمن بها السبُل وتُقام بها الحدود ويُجاهد بها العدو ويُقسم بها الفيء »(١).

١- المغني لابن قدامة (٩/٢٠٢) ، كتاب الجهاد، فصل وأمر الجهاد موكول إلى الإمام واجتهاده.

٢- الفروق الأسعد بن محمد الكرابيسي النيسابوري الحنفي(المتوفى: ٥٧٠هـ) (١) ٣٢٧)، كتاب السير.

(٣) صحيح البخاري (٩/ ٤٧) رقم الحديث- ٧٠٥٦ .

(٤) منهاج السنة ، لابن تيمية : ج ١ ص١٤٦).

ژباړه: حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايلي: خلکو لپاره امارت ضروري دی که ښه وي او که بد وي، چا ورڅخه پوښتنه وکړه نېک خو پېژنو او دا بد امارت څنګه وي؟ ويې فرمايل: د هغه موجوديت سره هم لارو باندې امن وي اسلامي حدود نافذ وي له دښمن سره جهاد جاري وي له بيت المال څخه دخلکو حقوق ورکول کېږي.

{عَنْ عُبَادَةَ بن صامت قَالَ: «بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ، وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ، وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا، وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ، وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا، لَا نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ»}.(۲)

ژباړه: له عبادة بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی هغه فرمايي: چې موږ له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره بيعت وکړ چې د هغه خبره به اورو او د هغه تابعداري به کوو د سختۍ او اسانۍ حالت، د خوښۍ او ناخوښۍ حالتونو کې به د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تابعداري کوو که څه هم بل کس ته يې په موږ باندې ترجيح ورکړې وي او موږ به د خپلو حاکمانو سره جګړې نه کوو او هر چيرته چې يوو حق وينا به کوو او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په باره کې به د ملامته کوونکو له ملامتيا څخه نه ډارېږو.

د حديث تشريح: د حديث مطلب دادی چې کله په يو اميرکې د امارت شرطونه موجود شي او هغه امير وټاکل شي له هغه سره جګړه جائز نه ده خو که په دې امير کې ښکاره کفر وليدل شي نو بيا ورسره جګړه جائز ده.

له بواح کفر څخه مراد دادی چې ظاهراً داسې کفري خبرې يا کړنې ترسره کړي، **په داسې حالت کې د هغه له امارت څخه معزول کول واجب دي او جګړه ورسره روا ده.**

علامه قرطبي رَحِمَهُ اللهُ د بواح کفر مطلب دا بيان کړی دی چې ستا يقين وي چې دا کفر دی د هغه په کفر کې شک نه وي په داسې صورت کې هغه د امارت څخه ليرې کول جائز او جنګ ورسره کول واجب دي.

علامه نووي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: له بواح کفر څخه مراد دا دی چې هغه په ظاهره داسې ګناه کوي چې په حرمت يې دليل موجود وي او د هغې په ګناه کې هېڅ شک نه وي، کله چې په امير کې داسې کارونه څرګند شي چې هغه صراحتاً کفر بلل کېږي لکه له غيرالله څخه غوښتنې نذر، غيرالله ته سجده، له قبرونو څخه طوافونه کول او داسې نور...

په دغه حالت کې په مسلمانانو واجب دي چې هغه له امارت څخه معزول(ليرې) کړي. (۳)

۲- **که د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نافرمانۍ امر ورته وکړي:**

{عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: «عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ، إِلَّا أَنْ يُؤْمَرَ بِمَعْصِيَةٍ، فَإِنْ أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ، فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ»،(٤){عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ»}.(٥)

ژباړه: له عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی هغه ويلي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: په مسلمان باندې اورېدل او اطاعت کول لازم دي په هر ډول حکم کې که ښه ورباندې لګېږي او که بد مګر کله چې د شريعت خلاف حکم ورته وکړل شي نو بيا په دې حالت کې نه اورېدل لازم دي او نه يې تابعداري لازمه ده.

د حديث تشريح: علامه نووي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: په دې خبره د علماوو اتفاق دی چې کله کوم امير يا حاکم شرعي طريقې سره مشر جوړ شي نو د ده اطاعت به په جائزو کارونو کې کېږي خو که هغه په ناجائزو کارونو امر درته کوي نو بيا به د هغه اطاعت نه کېږي.

---

(۱) شرح صحيح البخاری لابن بطال (۱۰/ ۹).

(۲)– صحيح مسلم (۳/ ۱٤۷۰) رقم الحديث ٤۱–۱۷۰۹. مشكوة المصابيح، كتاب الأمارة والقضاء، ج:۲، ص:۳۲۹، مطبع: يادگارشيخ).

۳ – (روضة الصالحين شرح رياض الصالحين، ج:۲، ص:۴۴۶، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفى غير معصية وتحريم طاعتهم فى المعصية).

٤ – متفقٌ عَلَيْهِ. صحيح مسلم (۳/ ۱٤٦۹) رقم الحديث –۱۸۳۹ باب وجوب طاعة الامراء في غير معصية. رياض الصالحين، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفى غير معصية وتحريم طاعتهم فى المعصية، ص: ۲۴۱ ج: ۱، مطبع: رشيدية).

٥ – المعجم الكبير للطبراني (۱۸/ ۱۷۰).

–كنزالعمال، ج:۵، ص:۳۱۵، مطبع: رحمانية).

دوهم مبحث: په ځانګړو حالاتو کې مجاهدینو ته د امیر امر

په ځانګړو حالاتو کې د امیر اطاعت په لاندې مطالبو کې ذکر کوو:

لومړی مطلب: د ځانګړي ترتیب په هکله د امیر اطاعت کول:

امیر که د مجاهدینو لپاره ځانګړی ترتیب جوړ کړي د هغه ترتیب عملي کول پر مجاهدینو واجب دی، د بېلګې په ډول: امیر امر وکړي چې فلانی او د هغه ملګري به نن شپه مثلا د فلانی سیمې ګزمه کوي او فلانی او ملګري به یې پر ځنځیر(د تالاشي پر ځای) درېږي، فلانی او ملګري به یې د غټو موټرانو تلاشي اخلي، نو پر ټولو لازمه ده چې دغه امر به مني او هر څوک به خپله ورسپارل شوې دنده پر مخ بیایي هیچا ته روا نه ده چې له دې ترتیب څخه سرغړونه وکړي؛ ځکه دا یو ډول تدبیر دی چې امیر یې جوړ وي او ګټه یې په امر منلو سره جوتېږي.

علامه سرخسي رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکي:

[وإذا نادى الأمير أن يكون فلان وجنده في الميمنة، وفلان وجنده في المقدمة، وفلان وجنده في الميسرة، وفلان وجنده في الساقة، فلا ينبغي لأحد أن يترك الموضع الذي أمره بالكون فيه، لأن هذا من التدبير الحسن في أمر الحرب، فإنما تظهر فائدته بالطاعة... وإذا نادى منادي الأمير أن الساقة غداً على أهل الكوفة، فلا يتخلفنّ رجل من أهل الديوان ولا من المطوعة لأنهم جميعاً رعيته حين خرجوا للجهاد تحت رايته فعليهم طاعته].(۱)

ژباړه: که امیر اعلان وکړي چې فلانی او ملګري به یې میمنه (ښي لوري) کې وي، فلانی او ملګري به یې مقدمه (مخ) کې وي فلانی او ملګري به یې میسره (چپ لوري) کې وي، او فلانی او ملګري به یې ساقه (شا لوري) کې وي، هیچا ته نه ښایي هغه ځایونه چېرې چې د اوسېدلو ورته ویل شوي دي خوشې کړي، ځکه دا د جګړې د ښه نظم او ترتیب برخه ده، چې ګټه یې په اطاعت کې جوتېږي او که امیر اعلان وکړي چې د کوفې خلګ به سبا ته د ساقې(دلښکر په وروستنۍ برخه) کې وي، نو ټول مجاهدین (رسمي او یا غیر رسمي) به یو هم مخالفت نه کوي؛ ځکه هغوی ټول د ده تر بیرغ لاندې جهاد ته راوتلي، د ده تر لاس لاندې دي، اطاعت یې پرې واجب دی.

دویم مطلب: له کوم ښار یا سیمې څخه د منعې حالت کې:

امام که مجاهدین ځانګړې سیمې ته له ورتګ یا کوم کار څخه منع کړي اطاعت یې واجب او هغې سیمې ته تګ او هغه کار پرې حرام دی.

په فتاوی تاتارخانیه کې راغلي:

[وإذا نهى الإمام اهل العسكر عن الخروج للعلاقة لا ينبغي لهم أن يخرجوا... وإن كان الإمام نهى عن الخروج للبراز، فهذا على وجهين: إما أن يكون النهي عاما ؛ بأن قال لا يخرج رجل منكم للبراز. فهذا النهي عام. وإن ذكر منكم، وإن كان النهي خاصا في حق شخص بعينه لا يخرج هو لكن يخرج غيره].(۲)

ژباړه: امام که خپل عسکر کو مې سیمې ته له تللو منع کړل هغوی ته په کار نه ده چې هلته ولاړ شي او که امام له مبارزې څخه خلک منع کړل دا دوه ډوله ده: یو دا چې وایي له تاسو څخه هیڅوک نشي کولای چې مبارزې ته ور وړاندې شي. دا عامه منعه ده که څه هم نسبت یې هغوی ته کړی او که کوم معلوم شخص یې له مبارزې څخه منعه کړی ؤ. بیا یوازې همدا شخص مبارزې ته نشي و تلای نور کسان و تلی شي.

په دې صورت کې پر مجاهدینو واجب ده چې هغې سیمې ته لاړ نشي او نه هم هغه کار تر سره کړي؛ ځکه چې په تنظیمي امورو کې د امام اطاعت واجب دی او کېدای شي د دې کار مصلحت امام ته څرګند وي او نه غواړي چې مجاهدین پرې خبر کړي.

۱- شرح السير الكبير، ج ۱، جزء ۱ ، ص ۱۱۹، ۱۲۰، ط: مكتبه سبحانيه، كويتا.

۲- الفتاوى التاتارخانية، ج ۷، ص ٥٤، ٥٨ ، ط: مكتبه حنفيه، كويتا.

دریم مطلب: د نورو مجاهدینو له مرستې څخه د منع کولو حالت کې:

که امام مجاهدینو ته وویل: تاسو به له خپلو مرکزونو بهر نه ځئ یا یې یو د بل له کومک او مرستې څخه منع کړل، بیا هم اطاعت واجب دی، یو د بل مرستې ته به نه ځي او نه به هم له خپلو مرکزونو څخه وځي که څه هم له خطر سره مخ وي، بیا هم دوی ته نه ښایي چې تر خطر لاندې سپمې مجاهدینو ته کومک ورکړي:

علامه سرخسي رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکي:

[وإن أمرهم الإمام أن لا يبرحوا من مراكزهم، ونهى عن أن يعين بعضهم بعضاً فلا ينبغي لهم أن يعصوه، وإن أمنوا من ناحيتهم وخافوا على غيرهم ؛ لأن طاعة الإمام فرض عليهم، بدليل مقطوع به، وما يخافونه موهوم... والأصل فيه ما روي أن النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أمر الرماة يوم أحد أن يقوموا بموضع ولا يبرحوا من مراكزهم، فلما نظروا إلى المشركين، وقد انهزموا، ذهبوا يطلبون الغنيمة فكانت هزيمة المسلمين في ناحيتهم]. (۱)

ژباړه: امام که هغوی مامور کړل چې خپل مرکزونه مه پرېږدئ او له دې یې منعه کړل چې یوه ډله د بلې مرسته وکړي، هغوی ته په کار نه ده چې د امام نافرماني وکړي، که څه هم د خپلې سیمې له امنیت ډاډمن وي او پر نورو مجاهدینو وېرېږي، دا ځکه چې د امام اطاعت په قطعي دلیل فرض دی او دوی چې له کوم څه وېرېږي هغه تش ګومان او وهم دی، د دې خبرې شرعي دلیل دا دی چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احد په ورځ څو (۵۰) مجاهدین مامور کړل چې دلته اوسېږئ له خپله ځایه مه خوځېږئ، هغوی چې کله مشرکین و لیدل چې مات شوي، نو ولاړل د غنیمت په را غونډولو بوخت شول او د مسلمانانو شکست او ماته له هماغې نقطې رامنځ ته شوه.

څلورم مطلب: د کار په ګټه د نه پوهېدلو حالت کې اطاعت:

امیر که خپل افراد په کوم کار مامور کړل او هغوی نه پوهېدل چې په دې کې به ګټه وي که نه بیا هم د امیر امر منل او اطاعت کول ورباندې لازم دي یوا ځې په دې پلمه د امیر له امر څخه سرغړونه نشي کولای چې زه د دې امر په ګټه او حکمت نه پوهېدلم.

علامه سرخسي رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکي:

[إن أمروهم بشيء لا يدرون أينتفعون به أم لا فعليهم أن يطيعوه، لأن فريضة الطاعة ثابتة بنص مقطوع وما تردد لهم من الرأي في أن ما أمر به منتفع أو غير منتفع به لا يصلح معارضاً للنص المقطوع]. (۲)

ژباړه: امام که هغوی په کوم کار مامور کړي او هغوی نه پوهېږي چې په دې کې به ګټه وي او که تاوان بیا هم پرې واجب ده چې اطاعت یې وکړي؛ ځکه د امیر د اطاعت فرضیت په قطعی دلیل ثابت دی او دوی ته چې کوم شک دی چې ایا په دې کار کې به خیر وي او که نه، دا د قطعي دلیل په مقابل کې نشي واقع کیدای.

پنځم مطلب: د مجاهدینو له امام څخه د فرمانونو د دلائلو غوښتنه:

امام که مجاهدین له جګړې او قتال څخه منع کړي. هغوی نشي کولای چې له امام څخه د خپلې منعې دلیلونه وغواړي؛ ځکه د امام امر او منع اکثره وخت پر داسې مصالحو بناء وي چې امام ته معلومېږي؛ خو عام مجاهدین نه پر پوهېږي او امام نه غواړي چې هغه مصلحت دې له ټولو خلکو او عامو مجاهدینو سره شریک کړي.

علامه سرخسي رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکي:

[وقد تكون طاعة الأمير في الكف عن القتال خيراً من كثير من القتال وقد يكون الظاهر الذي يعتمده الجند يدلهم على شيء. والأمر في الحقيقة بخلاف ذلك عند الأمير، ولا يرى الصواب في أن يطلع على ما هو الحقيقة عامة الجند. فلهذا كان عليهم الطاعة، ما لم يأمرهم بأمر يخافون فيه الهلكة، وعلى ذلك أكثر رأي جماعتهم، لا يشكون في ذلك]. (۳)

۱- شرح السير الكبير، ج ۱ ، جزء اول، ص ۱۵٦ ، ط: مكتبه سبحانيه كويتا.

۲- شرح السير الكبير، ج ۱، جزء ۱، ص ۱۱٦، ۱۲۲، ۱۲٦، ط: مكتبه سبحانيه، كويتا.

۳- شرح السير الكبير، ج ۱، جزء اول، ص ۱۰۹، ط: مكتبه سبحانيه كويتا.

ژباړه: کله په جګړه نه کولو کې اطاعت کول تر ډېرو جګړو غوره وي او کله بیا لښکر ته د هغوی په باور یو شی ښکاري خو امام چې څه غواړي هغه په حقیقت کې بل څه وي او امام نه غواړي چې ټول لښکر په هغه حقیقت خبر کړي؛ ځکه پر هغوی یې تر هغه پورې اطاعت واجب دی تر څو د ټولو په باور په داسې څه یې مامور نه کړي چې په هغه کې د دوی د هلاکت وېره وي.
خلاصه دا که موږ غواړو چې موجوده اسلامي نظام مو بقاء پیدا کړي او د روانو مشکلاتو څخه یې وباسو، نو باید د خپل امیر هر هغه امر ته لبیک ووایو چې ښکاره د مطهره شریعت پر خلاف نه وي.
د امام د منعي یا امر په مقابل کې د نورو ټیټ رتبه امیرانو منعه یا امر هېڅ معنا نه لري؛ ځکه تر امام لاندې ټول امیران د امام د امر یا منعي تابع دي.

دریم مبحث: د شرعي امیر درناوی خیرخواهي او بې عزتي

لومړی مطلب: دامیر درناوی:

دامیر د درناوي په اړه رسول الله ﷺ فرمایلي:

{عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : السُّلْطَانُ ظِلُّ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ يَأْوِي إِلَيْهِ الضَّعِيفُ وَبِهِ يَنْتَصِرُ الْمَظْلُومُ وَمَنْ أَكْرَمَ سُلْطَانَ اللَّهِ فِي الدُّنْيَا أَكْرَمَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ}.(۱)

ژباړه: ابوهریرة رضي الله عنه روایت نقل کړی هغه وایي: مسلمان پادشاه په ځمکه کې، د الله تعالی رحمت دی ضعیف او کمزوری پناه ور وړي، او په هغه سره مظلوم مرسته تر لاسه کوي، چا چې په دنیا کې د مسلمان پادشاه درناوی وکړ الله تعالی به یې د قیامت په ورځ درناوی وکړي.

دوهم مطلب: له امیرانو سره خیر خواهي:

{عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ» قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ»}. (۲)

ژباړه: له تمیم داري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: رسول الله ﷺ فرمایلي: دین ټوله خیرخواهي ده مونږ پوښتنه وکړه چې یا رسول الله ﷺ د چا لپاره؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: د الله جل جلاله لپاره او د هغه د کتاب لپاره او د هغه د رسول ﷺ لپاره د مسلمانانو د حاکمانو لپاره او د عامو مسلمانانو لپاره(کوم خلیفه چې د شریعت سره مطابق وي د هغه اطاعت باید وشي د هغه خلاف له بغاوت څخه باید ځان وژغورل شی).

دریم مطلب: په امیر او مسؤل نېک ګمان کول:

ټول عامه ولس او په ځانګړې توګه مجاهدینو ته پکاردي چې په امیر او نورو مسؤلینو نېک ګمان ولري او د هغوی کړه وړه په فاسد تأویل سره ونه ارزوي، بلکې تر خپله وسه دې د دوی کړنې په سم لوري توجیه کوي.

الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ﴾. (۳)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (اې مؤمنانو!) ځان وساتئ تاسو له ډېرو بدګمانیو او تهمتونو نه(په خلګو باندې) بېشکه ځینې بد ګمانونه او تهمتونه ګناه ده او مه لټوئ تاسې پټ عیبونه د مسلمانانو او نه دې کوي غیبت ځینې ستاسې د ځینو نورو . آیا خوښوي یو له تاسې څخه دا چې وخوري غوښې د ورور خپل، حال دا چې مړ وي، پس بد ګڼئ تاسې هغه؛ نو همدارنګه بد وګڼئ د مسلمان ورور غیبت او عیب لټول.

---

[۱] ذیل تاریخ بغداد«: ۷۲/۲ ، »الجامع الصغیر«: ۷۰۹۵. مرقات المفاتیح :۶-۲۴۱۹.

۲ – صحیح مسلم (۱/ ۷۴) رقم الحدیث(۵۵) باب بیان ان الدین النصیحة. ریاض الصالحین، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفی غیر معصیة وتحریم طاعتهم فی المعصیة،ص:۹۲،ج:۱،مطبع:رشیدیة. کنزالعمال،باب النصیحة ،ج:۳، ص:۳۱۷،مطبعه:رحمانیة. صحیح البخاري،ج:۱،ص:۱۷،مطبعه رحمانیة.

۳ – (سورة الحجرات:۱۲).

څلورم مطلب: د ظالم بادشاه په وړاندې حقه خبره:

۱- { عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ» }. (۱)

ژباړه: له ابو سعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه ویلي: چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي: غوره جهاد دا دی چې د ظالم پادشاه په وړاندې د انصاف خبره وکړي.

د حدیث تشریح: د جهاد مختلف مراتب دي: د نېک عمل حکم هم جهاد دی د نفس خلاف عمل کول هم جهاد دی او د دښمن په وړاندې مبارزه کول هم جهاد دی خو په دې حدیث کې غوره جهاد هغه ته وویل شو چې د ظالم حاکم په وړاندې د حق خبره وکړي د دې وجه علامه خطابي رَحِمَهُ اللَّهُ داسې بیان کړې ده چې د دښمن په وړاندې قتال کې په دوه کارونو کې یو کار ضرور وي. لومړی دا چې د ځان بچ کېدو امید یې وي دویم دا چې شهادت ورته نصیب شي خو د ظالم پادشاه په وړاندې حق خبره کوونکي ته یوازې خپل مرګ ښکاري.

ملا علی قاري رَحِمَهُ اللَّهُ د دې وجه داسې بیان کړې ده چې د ظالم بادشاه په وړاندې حق خبره کولو ته ځکه افضل جهاد وویل شو چې د پادشاه له مشرۍ لاندې عوام وي که هغه د خپل ځان خیال له ساتلو پرته ظالم پادشاه له ظلم څخه منع کړ هغه له ټولو خلکو سره احسان وکړنو ځکه ورته افضل جهاد وویل شو.

۲- { عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَقَدْ وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ: أَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ» }. (۲)

له طارق بن شهاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه وایي: یو کس له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه په داسې حال کې پوښتنه وکړه چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله پښه مبارکه د اوښ په رکاب کې ایښې وه، کوم جهاد ډېر غوره دی؟ نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د ظالم بادشاه په وړاندې حق خبره کول غوره جهاد دی.

د حدیث تشریح: (غرز) رکاب دپښې دایښوودلو ځای ته ویل کېږي یعني د اوښ یا آس رکاب چې پښه پکې ایښودل کېږي کله چې هغه له لرګي یا د څرمنې څخه جوړ وي او ځینو ویلي چې غرز هر رکاب ته ویل کېږي هغه که د څرمنې وي او که د لرګي او یا هم له دې څخه پرته له بل شي څخه جوړ وي.

(جائر): ظالم ته ویل کېږي په لغت کې ظلم بې اعتدالۍ ته ویل کېږي بیا دا په هر هغه ځای کې استعمالېږي چې بې انصافي او بې اعتدالي پکې کېږي ظالم یا جائر هغه پادشاه ته ویل کېږي چې د خپل ولس سره ظلم او بې انصافي کوي ظالم او جائر پادشاه ته هغه څوک حق خبره کولی شي چې ایمان یې کامل وي د خپل ځان غم ورسره نه وي د دښمن سره په مقابله کې د دومره سختې سزا امید نه وي لکه څومره چې د ظالم بادشاه په وړاندې حق خبره کولو کې یې امید وي.

---

۱ - سنن ابن ماجه (۲/ ۱۳۲۹).

-مشکوة المصابیح، کتاب الأمارة والقضاء، ج:۲،ص:۳۳۲،مطبعه: یادگـارشیخ). کنزالعمال، ج:۳،ص: ۳۰،مطبع:رحمانیة.

۲ - مسند أحمد مخرجا (۳۱/ ۱۲۶) رقم الحدیث - ۱۸۸۳۰.

- مشکوة المصابیح، کتاب الأمارة والقضاء، ج:۲،ص:۳۳۲،مطبعه: یادگـارشیخ.

پنځم مطلب: د امیر بې عزتي:

دشرعي حاکم هر ډول بې عزتي او یا هم توهین کول ناروادي:

۱ – {عن أبي بكرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال: سمعت رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول: من أهان السلطان أهانه الله}. (۱)

ژباړه: د ابوبکرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه ویلي: ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې: کوم کس چې د بادشاه سپکوالی کوي الله جَلَّ جَلَالُهُ به هغه سپک کړي.

د حدیث تشریح: چاچې د حاکم بې عزتي وکړه الله جَلَّ جَلَالُهُ به یې سپک کړي مطلب دا چې کوم کس امیر یا حاکم وټاکل شي د هغه اطاعت به په جائزو کارونو کې کېږي که د هغه نا فرماني وشي دا په حقیقت کې د هغه سپکاوی دی، بیا به خلک د حاکم هېڅ خبرې ته غاړه نه ږدي؛ ځکه د حاکم رعب به د خلکو په زړونو کې نه وي په داسې حال کې به مجرمان له دې موقعې څخه استفاده وکړي او په خپلو غلطو کارونو کې به نورهم زړورشي، ترڅو چې له حاکم څخه په څرګنده کفر لیدل شوی نه وي او د اسلام ټول حکمونه پر ځای کوي، د داسې حاکم خبره منل واجب دي؛ ځکه چې په دې سره به د حاکم رعب د خلکو په زړونو کې وي او مجرمان به په خپلو جرمونو کې نه جرأتمند کېږي.

۲ – {من اهان سلطان الله فی الدنیا اهانه الله یوم القیامة}. (۲)

ژباړه: چا چې په دنیا کې د حاکم بې عزتي وکړه الله جَلَّ جَلَالُهُ به یې د قیامت په ورځ ذلیله کړي.

---

۱ – مشکوة المصابیح، کتاب الأمارة والقضاء، ج:۲، ص:۳۳۲، مطبع: یادگارشیخ). (وأیضاً فی ریاض الصالحین، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفی غیر معصیة وتحریم طاعتهم فی المعصیة، ص:۲۴۳ ج:۱، مطبع: رشیدیة).

۲ – کنزالعمال، ج:۶، ص:۳، مطبع: رحمانیة، باب: کتاب الإمارة). (روضة الصالحین شرح ریاض الصالحین، ج:۲، ص:۴۴۹، باب وجوب طاعة ولاة الأمرفی غیر معصیة وتحریم طاعتهم فی المعصیة).

دریم باب: عدل او انصاف

لومړی فصل: عدل او انصاف د اسلام له نظره

لومړی مبحث: د عدل تعریف، د اثبات دلائل او مظاهر یې

لومړی مطلب: د عدل او انصاف پېژندنه:

عدل په لغت کې په کارونو کې میانه روی، ته وایي یعني د ظلم ضد دی.

په اصطلاح کې په خپلو ځایونو، وختونو، طریقو، اندازو کې پرته له کوم زیاتوالي او کم والي، وړاندې والي او شاته والي څخه د چارو او وسایلو کارونې ته عدل ویل کیږي. (۱)

په تفسیر معارف کې د ابن عربي رَحِمَهُ اللَّهُ څخه د عدل معنی داسې رانقل ده: د عدل اصل معنی د برابرۍ کولو ده، چې بیا په مختلفو نسبتونو سره د ده مطلب مختلف کیږي مثلاً:

لومړی معنا د عدل دا ده چې انسان د خپل نفس او د خپل رب په مینځ کې عدل کوي نو د دې معنی به دا شي چې د الله تعالی حق د خپل نفس په لذت او د هغه رضا حاصلول په خپلو خواهشاتو مقدم وګڼي او د هغه د احکامو په منلو کې د هغه د منع شوو او حرام شوو څخه مکمل ځان وساتي.

دویمه معنا د عدل دا ده چې د خپل نفس او ټول مخلوق په منځ کې د عدل رویه کوي. د ټول مخلوق سره د خیر خواهۍ او همدردۍ معامله کوي او په څه وړه یا لویه معامله کې له چا سره خیانت نه کوي، د ټولو خلکو لپاره له خپل ځان څخه د انصاف مطالبه کوي، چې یو انسان ته هم د ده له قول او فعل څخه ازار ونه رسیږي.

دریمه معنا د عدل دا ده چې د دوو ډلو تر منځ د انصاف فیصله وکړي، کله چې دوه فریقه د خپلې معاملې فیصله ده ته راوړي نو دی دې ورته د حق فیصله وکړي.

څلورمه معنا د عدل دا ده چې د افراط او تفریط څخه ځان وساتي او په هر څه کې میانه روي وکړي[۲].

الله تعالی د خپل عدل په هکله فرمایي:

﴿وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ (۳)

. ژباړه: ستا د رب وینا د ریښتنولۍ او عدالت په اعتبار بشپړه ده، هیڅوک د هغه د فرمانونو بدلوونکی نه دی او هغه د هرڅه اورېدونکی او پر هر څه پوهېدونکی دی.

دویم مطلب: د عدل د اثبات دلائل:

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾(٤).

---

[۱] – الْعَدْل: خِلاَفُ الْجَوْرِ، وَهُوَ فِي اللُّغَةِ: الْقَصْدُ فِي الأُمُورِ، وَهُوَ عِبَارَةٌ عَنِ الأَمْرِ الْمُتَوَسِّطِ بَيْنَ طَرَفَيِ الإِفْرَاطِ وَالتَّفْرِيطِ، وَالْعَدْل مِنَ النَّاسِ: هُوَ الْمَرْضِيُّ. قَوْلُهُ وَحُكْمُهُ، وَرَجُلٌ عَدْلٌ: بَيِّنُ الْعَدْل، وَالْعَدَالَةُ وَصْفٌ بِالْمَصْدَرِ مَعْنَاهُ: ذُو عَدْلٍ. وَالْعَدْل يُطْلَقُ عَلَى الْوَاحِدِ وَالاِثْنَيْنِ وَالْجَمْعِ، وَيَجُوزُ أَنْ يُطَابِقَ فِي التَّثْنِيَةِ وَالْجَمْعِ فَيُقَال: عَدْلاَنِ، وَعُدُولٌ، وَفِي الْمُؤَنَّثَةِ: عِدْلَةٌ.

وَالْعَدَالَةُ: صِفَةٌ تُوجِبُ مُرَاعَاتُهَا الاِحْتِرَازَ عَمَّا يُخِل بِالْمُرُوءَةِ عَادَةً فِي الظَّاهِرِ. وَالْعَدْل فِي اصْطِلاَحِ الْفُقَهَاءِ: مَنْ تَكُونُ حَسَنَاتُهُ غَالِبَةً عَلَى سَيِّئَاتِهِ. وَهُوَ ذُو الْمُرُوءَةِ غَيْرُ الْمُتَّهَمِ . الموسوعة الفقهية الكويتية (۳۰/ ۵)

العدل: القصد في الامور. –: المثل والنظير.–: الانصاف، وهو ضد الجور.–: استواء السر والعلانية.

وهو في اصطلاح الفقهاء: من اجتنب الكبائر، ولم يصر على الصغائر، وغلب صوابه على خطئه، واجتنب الافعال الخسيسة. القاموس الفقهي (ص: ۲٤٤).

[۲]– معارف القران، ج ۵، ص ۱۰۴، سورة النحل آية (۹۰)، مكتبة حنفية كانسي روډ كوېټه.

[۳] سورة الأنعام، آية (۱۱۵).

[٤] سورة النحل، آية (۹۰).

ژباړه: بیشکه الله دعدل، ښیګڼې او خپلوۍ پالنې حکم کوي او له بدۍ بې حیایۍ، زور او ظلم څخه منع کوي. هغه تاسي ته نصیحت کوي تر څو درس(پند) واخلئ.

حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي: چې د قرانکریم جامع ترین آیت په سورة النحل کې همدغه پورته ذکر شوی آیت دی. همدارنګه د حضرت اکثم بن صیفي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ایمان راوړلو سبب هم همدغه آیت دی. امام ابن کثیر د حدیثو د حافظ ابو یعلی په کتاب معرفة الصحابة کې په سند سره دا واقعه نقل کړې ده چې اکثم بن صیفي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل قوم سردار ؤ، کله چې ده ته د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نبوت دعوه او د اسلام د اشاعت خبر ورسېدلو نو ده اراده وکړه چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر شي، مګر د قوم خلکو ورته وویل چې ته زمونږ د ټولو مشر یې، ستا په خپله تلل مناسب نه دي، اکثم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې ښه ده نو د قبیلې دوه تنه سړي یې غوره کړل چې هلته لاړ شئ او د حالاتو معاینه وکړئ. دا دواړه د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شول او عرض یې وکړ چې مونږ د اکثم بن صیفي له طرفه د دوو خبرو معلومولو لپاره راغلي یو چې هغه دوه خبرې دا دي: مَنْ أَنْتَ وَبِمَاجِئْتَ؟ ته څوک یې او څه یې؟. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل: د اول سوال ځواب مو دا دی چې زه محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عبدالله زوی یم او د دوهم سوال ځواب دا دی چې زه د الله تعالی بنده او د هغه رسول یم. د دې څخه وروسته یې سورة النحل دا آیت تلاوت کړ، ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ...﴾، دواړو استازو غوښتنه وکړه چې دا آیت بیا تکرار کړي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر هغه پورې تکرارولو چې دوی یاد کړ.

کله چې استازي بیرته اکثم بن صیفي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راغلل، ورته یې وویل چې مونږ په اول سوال کې دا غوښتل چې د ده نسب معلوم کړو، نو ده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوازې د پلار په نوم کفایت وکړ او مخکې نسب یې بیان نکړ، خو بیا کله مو چې د نورو خلکو څخه پوښتنه وکړه نو معلومه شوه چې د ډیر لوی نسب یو شریف سړی دی. او بیا دې استازو وویل چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته څو کلمات هم اورولي دي، هغه مونږ بیانوو. ذکر شوی آیت یې اکثم بن صیفي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته واورولو، د آیت اورېدلو سره سم اکثم بن صیفي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل: له دې څخه معلومیږي چې دوی د مکارمو اخلاقو هدایت کوي او د بدو او رذیلو اخلاقو څخه منع کوي، تاسې ټول د ده په دین کې ډیر ژر داخل شئ چې تاسې د نورو خلکو څخه مخکې او وړاندې شئ، او وروسته تابع جوړ نشئ[1].

همدارنګه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي: «إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللَّهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا». (۲)

ژباړه: بیشکه مقسطین (عادل خلک) به د الله تعالی په نزد د هغه ښي طرف ته د نور پر منبرونو قرار لري، او د الله تعالی دواړه لاسونه ښي دي (څنګه چې د هغه له شان سره ښایي)، هغه کسان چې (په ورسپارل شوي) حکم او مسئولیت کې او د خپل اهل او ولایت کې د عدالت رعایت کوي. همدارنګه په یو بل حدیث مبارک کې چې د ابو هریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

«سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: الْإِمَامُ الْعَادِلُ...»(۱)

۱- معارف القران، ج ۵، ص ۱۰۲ – ۱۰۳، سورة النحل آية (۹۰)، مكتبة حنفية كانسي روډ كوټه.

ولما بلغ أكثم ظهور رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أرسل إليه رجلين يسألانه عن نسبه، وما جاء به، فأخبرهما، وقرأ عليهما: {إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عن الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ} ، فعادا إِلَى أكثم فأخبراه، وقرآ عليه الآية، فلما سمع أكثم ذلك، قال: يا قوم، أراه يأمر بمكارم الأخلاق، وينهى عن ملائمها، فكونوا في هذا الأمر رؤساء، ولا تكونوا أذنابًا، وكونوا فيه أولا، ولا تكونوا آخرًا، أسد الغابة ط العلمية (۱/ ۲۷۲).

۲- حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللَّهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا. مصنف ابن ابي شيبة، ج ۷، ص ۳۹، رقم الحديث ۳۴۰۳۵، ت الحوت، مكتبة الرشد – رياض.

ژباړه: اووه کسان به د قیامت په ورځ د الله تعالی د رحمت تر سیوري لاندې وي داسې چې په هغه ورځ غیر د هغه د رحمت له سیوري څخه بل سیوری نه وي، (یو د هغو څخه) عادل حاکم دی.

په اسلام کې عدل او انصاف یو ځانګړی مقام لري. یقیناً چې د الله تعالی له لوري د پیغمبرانو او آسماني کتابونو د نزول د اهدافو څخه یو هدف د عدل قایمول دي، الله تعالی په خپل مقدس کتاب کې فرمایي:

﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ﴾ (۲)

ژباړه: یقینا موږ خپل پیغمبران له روښانو څرګندو نښانو او هداياتو سره ولېږل، او له هغو سره مو کتاب او تله نازل کړل تر څو چې خلک په عدل ولاړ وي.

مشري او مسؤلیت که د کور په سطحه وي یا د ولس او هیواد په سطحه بنیاد یې عدل او انصاف دی. خلکو ته د اسلامي شریعت مطابق حقوق ورکول، د هغوی تر مینځ د اسلامي شریعت تر هداياتو لاندې فیصله کول او د ظلم او زیاتي څخه مخنیوی کول دي. په دغه اړه الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾ (۳)

ژباړه: بیشکه الله تعالی تاسي ته حکم کوي چې امانتونه د هغو اهل ته وسپارئ. او کله چې د خلکو په منځ کې فیصله کوئ، نو په عدالت سره یې وکړئ، الله تاسي ته په دې سره ډېر لوی نصیحت کوي. او په باوري ډول الله تعالی اورېدونکی او لیدونکی دی.

همدارنګه الله تعالی مونږ ته په خپلو معاملاتو کې هم د عدل او انصاف هدایت کوي، اګر که هغه د خپل دښمن سره هم وي خو باید چې د انصاف څخه کار واخیستل شي. الله تعالی فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾.(٤)

ژباړه: ای مؤمنانو ! د الله تعالی لپاره پر ریښتینولۍ ولاړ او د عدل شاهدان اوسئ. د کومې ډلې دښمني دې تاسي دومره را و نه پاروي چې له عدالت څخه واوړئ. عدالت وکړئ دا له پرهېزګارۍ سره نږدې اړیکه لري، دالله جَلَّجَلَالُهُ له ویرې سره کار کوئ، هر څه چې تاسي کوئ، الله جَلَّجَلَالُهُ پرې پوره خبر دی.

هغه څه چې د هرې ټولنې، هرې پاچاهۍ او هر واکمن د واکمنۍ د بقا لپاره اړین او ضروري دي، هغه عدالت دی، که عدالت ختم شي، نه هغه ټولنه پاتې کېدای شي، نه هغه امپراتورۍ او نه د واکمن واکمني پاتې کېدای شي. زموږ په دین کې په ټولنیزو لارښوونو کې عدالت ته ډېر ارزښت ورکړل شوی دی. دا عدل او انصاف باید حاکم د خپل رعیت لپاره وکړي او د رعیت لپاره دا اړینه ده چې په خپل منځ کې عدل او انصاف وکړي.

عدل کول د الله تعالی د نږدې والي او د محبت وسیله ده ﴿وَأَقْسِطُواْ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ﴾.(۱) ژباړه: او انصاف وکړئ بیشکه الله تعالی انصاف کوونکي خوښوي.

۱– حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ: حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ،عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: (سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: الْإِمَامُ الْعَادِلُ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ، وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ، وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ، أَخْفَى حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا، فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ. صحيح البخاري، ج ۱، ص ۲۳۴، رقم الحديث، ۶۲۹، مكتبة البغاة، دار ابن كثير، دار اليمامة – دمشق.

۲ سورة الحديد، آية (۲۵).

۳ سورة النساء، آية (۵۸).

٤ سورة المائدة، آية (۸).

رسول الله ﷺ پخپله د عدل او انصاف د لوړتیا لپاره هلې ځلې کولې. د سیرت په کتابونو کې لیکل شوي، چې د رسول الله ﷺ له رسالت څخه مخکې د مکې خلکو په خپل منځ کې یو تړون وکړ چې د عدل او انصاف د ټینګولو هڅه به کوو او د مظلومانو ملاتړ به کوو، چې رسول الله ﷺ هم په دې معاهدې کې ؤ او دا تړون د (حلف الفضول) په نوم یادیده، دا تړون د عبدالله بن جدعان په کور کې وشو او په هغه کې لیکل شوي وو: موږ ټول د مظلوم د ملاتړ ژمنه کوو او له مظلوم سره مرسته کوو، تر څو د مظلومانو ملاتړ وشي او خپل حقونه ترلاسه کړي(۲).

د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه عدل او انصاف د اسلامي تاریخ یو دایمي فصل او دایمي موضوع ده، چې د عدالت په تله او ترازو کې یې مالدار او غریب، بادار او غلام، دوست او دښمن توپیر نه درلود بلکه ټول یو شان وو. حضرت حسن رضي الله عنه وایي چې د یوې زنانه خاوند ورک شوی ؤ او هغې ته به یو کس تلو راتلو، په حضرت عمر رضي الله عنه دا خبره بده ولګېده، حضرت عمر رضي الله عنه د هغې د راغوښتلو لپاره یو سړی ولیږلو، هغه سړی ورغلو او ورته یې وویل چې حضرت عمر رضي الله عنه ته ورشه هغه دې غواړي. هغې وویل های زما تباهۍ، د حضرت عمر رضي الله عنه زما سره څه کار دی، بیا له کور څخه اووتله، په داسې حال کې چې حامله هم وه. د حضرت عمر رضي الله عنه د غوښتلو له وېرې څخه یې په لار کې د خپل وخت څخه مخکې د ماشوم د پیدا کېدلو دردونه پیدا شول، بیا یو کور ته لاړه، هلته یې ماشوم پیدا شو او د دوه ځله ژړا کولو څخه وروسته مړ شو. حضرت عمر رضي الله عنه د صحابه کرامو سره مشوره وکړه چې زما د راغوښتلو له امله د ښځې ماشوم د وخت څخه مخکې پیدا او بیا مړ شو، نو آیا د دغه ماشوم په مرګ سره په ما باندې څه شی شرعاً لازمیږي که نه؟

بعضي صحابه کرامو رضي الله عنهم وویل چې په تا باندې هیڅ نه لازمیږي ځکه چې ته د مسلمانانو خلیفه یې او له دې وجې نه ستاسو په ذمه دي چې ته دوی ته ادب وښایې. که څه کمي پکښې ووینې نو دوی ته خامخا را وغواړې او زورنه ورکړې. حضرت علي رضي الله عنه غلی ؤ، حضرت عمر رضي الله عنه د هغه طرف ته متوجه شو او ورته یې وویل: چې په دغه باره کې ستا څه نظر دی؟ حضرت علي رضي الله عنه ورته وویل که چېرې دغو خلکو دا خبره د کوم دلیل څخه پرته د خپلې رایې له مخې کړې وي نو دوی غلطه کړې او که چېرې دوی دا خبره ستا د خوشحاله کولو لپاره کړې وي نو دوی تاسره خیر خواهي نده کړې. زما رایه دا ده چې د دې ماشوم دیت ورکړې، ځکه چې ستا په راغوښتلو سره ضایع شوی دی. حضرت عمر رضي الله عنه حضرت علي رضي الله عنه ته حکم وکړ چې د ماشوم دیت له ټولو قریشو څخه واخله، ځکه چې دا قتل په خطایي سره شوی دی. (۳)

زموږ دین هر انسان ته د عدالت او د ژوند په هر ډګر کې د عدل او انصاف امر کوي که هغه حاکم وي (له ستر حاکم څخه نیولې تر هغه کس پورې چې د یوه یا دوو کسانو پر وړاندې مسوول وي). هغه که د خبرو اترو په بڼه، د قضاوت په بڼه او یا که په بل هر ډول وي. له همدې امله رسول الله ﷺ د داسې خلکو لوی فضیلت بیان کړی، د صحیح مسلم په روایت کې راغلي چې رسول الله ﷺ فرمایلي: هغه څوک چې عادل وي، هغوی به د قیامت په ورځ د الله تعالی په ښي اړخ کې د رڼا په منبرونو باندې وي. (٤)

دریم مطلب: د عدل مظاهر:

۱- د الله تعالی سره عدل یعنی د ده سره په عبادت او په صفاتو کې شریک ونه نیسي د ده اطاعت وکړي. او د نافرمانۍ څخه یې ځان وساتي، د الله تعالی حقونه وپیژني او اداء یې کړي، د ده شکر ادا کړي او د ناشکرۍ څخه یې ځان وساتي.

۲ - د خلکو په فیصلو کې انصاف وکړي، یعنی هر حق والا ته خپل حق ورسیږي.

۱- سورة الحجرات، آية (۹):

۲- سيرة ابن هشام، ج ۱، ص ۱۱۳ - ۱۳۴.

۳- اخرجه عبدالرزاق و البيهقي، كذا في كنز العمال، ج ۷، ص ۳۰۰.

٤- حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللَّهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا. مصنف ابن ابي شيبة، ج ۷، ص ۳۹، رقم الحديث ۳۴۰۳۵، ، مكتبة الرشد - رياض.

۳ – په خبرو کې عدل یعنی درواغ ونه وایي د کذب او باطل څخه ځان وساتي او د حقیقت خلاف خبرو ته په زړه کې ځای ورنکړي.
۴– په عقائدو او نظریاتو کې عدل یعنی حق او رښتیا تسلیم کړي.
۵– په مصرف کې عدل په دې ډول دی چې له حد او ضرورت څخه زیات لګښت ونکړي او نه بخل وکړي. ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا﴾ (۱) ژباړه: او اسراف مه کوه په اسراف کولو سره.
او همدارنګه په بل آیت کریمه کې فرمايي: ﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ...﴾. (۲)
ژباړه: او مه خپل لاس تر غاړې تړه او مه يې بيخې داسې غځولی پرېږده چې پړ او بيوسه پاتې شې.

دوهم مبحث :عدل او انصاف د الله جَلَّ جَلَالُهُ او مخلوق په وړاندې

لومړی مطلب: **د الله تعالی عدل او انصاف**:
د الله تعالی عدل او انصاف د مؤمنانو په وړاندې دا دی چې کله مؤمنان د هغه په حقه عبادت وکړي او له هغه سره هيڅ شريک ونه ګرځوي، الله تعالی دوی ته عذاب ورنکړي. د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي: يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدينې منورې د خرما باغ ته راووت او ماته يې وفرمايل: ای ابو هريرة! آيا ته پوهېږې چې د بندګانو حق په الله تعالی څه دی؟ ما وويل چې الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهېږي. نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د بندګانو حق په الله تعالی دا دی چې کله دوی د الله تعالی عبادت وکړي او د هغه سره شريک ونه ګرځوي الله تعالی دوی ته عذاب ورنه کړي(۳).

دوهم مطلب: **د مؤمنانو عدل او انصاف**:
الله تعالی فرمايي: او ستا رب پرېکړه کړې چې تاسې له الله جَلَّ جَلَالُهُ پرته د بل هېچا عبادت مه کوئ.(٤). د مؤمنانو عدل او انصاف له الله تعالی سره دا دی، چې د هغه عبادت وکړي، له ده سره شريک ونه ګرځوي، ځکه الله تعالی فرمايي: ما پېريان او انسانان يوازې د دې لپاره پيدا کړي چې زما بندګي وکړي.(٥). همدارنګه په بل مبارک آيت کې فرمايي: او تاسو ټول د الله جَلَّ جَلَالُهُ بندګي وکړئ، له هغه سره هيڅ شی شريک مه نيسئ. (٦).
همدارنګه په يو مبارک حديث کې له ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې فرمايي: يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدينې منورې د خرما باغ ته راووت او ماته يې وفرمايل: ای ابو هريرة! آيا ته پوهېږې چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ حق په بندګانو باندې څه دی؟ ما وويل چې الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهېږي. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: د الله تعالی حق په بندګانو دا دی چې د هغه عبادت وکړي او د هغه سره هيڅ شريک ونه ګرځوي(۷).

---

۱ سورة الاسراء، آية (۲۶).

۲ سورة الاسراء، آية (۲۹).

۳– حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا عَمَّارُ بْنُ رُزَيْقٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ كُمَيْلِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي نَخْلِ الْمَدِينَةِ، فَقَالَ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ – أَوْ يَا أَبَا هِرٍّ – ... وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ؟ قَالَ: قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: فَإِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ، وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَإِنَّ حَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ فَعَلَ ذَلِكَ مِنْهُمْ. مسند أحمد (١٦/ ٤٦٤ ط الرسالة)، مؤسسة الرسالة.

٤– قال الله تعالى: ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ﴾ سورة الاسراء، آية (٢٤).

٥– قال الله تعالى: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ سورة الذاريات، آية (٥٦).

٦– قال الله تعالى: ﴿ وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ سورة النساء، آية (٣٦).

٧– حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا عَمَّارُ بْنُ رُزَيْقٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ كُمَيْلِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي نَخْلِ الْمَدِينَةِ، فَقَالَ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ – أَوْ يَا أَبَا هِرٍّ – ... هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ؟ ... قَالَ: قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: فَإِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ، وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا. مسند أحمد (١٦/ ٤٦٤ ط الرسالة)، مؤسسة الرسالة.

دریم مطلب: د حاکم عدل او انصاف:

عمر بن عبد العزیز چې کله خلیفه شو نو حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ ته یې خط ولیکلو، په خط کې یې غوښتنه کړې وه چې د عادل امام څه اوصاف راته ولیکه، حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ د عادل امام په اوصافو کې لاندې څو صفات ورته ولیکل:

۱- اي امیر المؤمنینه! پوه شه عادل امام الله تعالی د هر کوږ کس لپاره سموونکی، د هر ظالم لپاره سمې لارې ته رابلونکی، د هر فاسد لپاره اصلاح کوونکی، د هر ضعیف لپاره قوي کوونکی، او د هر مظلوم لپاره انصاف کوونکی ګرځولی دی.

۲- د عادل امام مثال داسې دی لکه د اوښانو مهربانه شپون چې خپلې رمې ته داسې ځای لټوي چې ښه خوراک پکې وکړي او د هلاکت ځای څخه یې ساتي. د لیوانو او نورو وحشي ځناورو همدارنګه یې دګرمۍ او یخنۍ له ضرر څخه ساتي.

۳- د عادل امام مثال د مهربانه پلار دی چې ماشومتوب کې خپلو اولادونو ته د رزق راوړلو کوښښ کوي او کله چې لوی شي مادي او معنوي تربیت ورکوي، په ژوند کې مال ورته راګټي او له مرګ نه پس د مال ذخیره ورته پرېږدي.

۴- د عادل امام مثال د مور دی چې په خپل اولاد زړه سوانده او نرمي کوونکې وي، په تکلیف سره یې په خپټه کې ګرځوي او په تکلیف سره یې زېږوي، په ماشومتوب کې یې پالنه کوي، د اولاد په بیخوبۍ سره دا بیخوبه وي او د اولاد په ارام سره دا ارامه وي. د ضرورت پرمهال شیدې ورکوي او د اړتیا پوره کېدلو څخه وروسته یې له تي څخه جلا کوي . د اولاد په صحت خوشحاله او په ناروغي یې ناروغه وي.

۵- عادل امام د یتیمانو د وصي په شان دی، د مسکینانو لپاره د خزانې مثال لري چې هغوی استفاده ترې کوي، د صغیرانو تربیه کوي او د لویانو بوج په غاړه اخلي.

۶- عادل امام د پوښتیو تر منځ د زړه مثال لري، چې د زړه په جوړ والي سره پوښتۍ جوړې وي او د زړه په خرابوالي سره پوښتۍ خرابې وي.

۷- عادل امام د الله جَلَّ جَلَالُهُ او د هغه د بندګانو تر منځ د ولاړ په شان دی، چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ کلام په خپله اوري او دوی ته یې ور اوروي، په خپله هم د الله جَلَّ جَلَالُهُ احکامو ته متوجه کیږي او رعیت هم د الله جَلَّ جَلَالُهُ احکامو ته منقاد او متوجه کوي. داسې امیر مه جوړېږه لکه یو غلام چې خپل مالک امین ګرځولی وي او د خپل مال حفاظت پرې کوي، غلام مال ورته هلاک کړي، اهل او عیال ورته تیت او پرک کړي او اولاد ورته محتاج کړي.

۸- بیشکه الله تعالی حدود او قصاص د دې لپاره نازل کړي چې خلک د ناوړه او فاحشو کارونو څخه پرې منع کړي، نو څنګه حال به وي د هغه چا چې دا کارونه د ده په واک کې وي او بیا هغه خپله ورته راتګ کوي؟ الله جَلَّ جَلَالُهُ قصاص د خپلو بنده ګانو د ژوندون لپاره را نازل کړی نو څه حال به د هغه چا وي چې د قصاص واک یې په لاس کې دی او بیا هغوی وژني ؟

۹- ای امیر المؤمنینه! له مرګ او له هغه څخه وروسته حالات درته یاد کړه، هغه وخت چې هیڅ دوستان او خپلوان به درسره نه وي د هغه وخت لپاره توښه برابره کړه. ستا لپاره داسې کور دی چې له دغه دنیاوي کور څخه جلا دی، خپل دوستان به درنه جلا کیږي او یوائې به دې پرېږدي. هغه ورځ چې سړی به له خپل ورور ، خپلې مور ، خپل پلار ، خپلې ښځې او خپل اولاد څخه تښتي.

۱۰- ای أمیر المؤمنینه! یاده کړه هغه ورځ چې په قبرونو کې څه خښ دي راپورته کړل شي او په سینو کې چې څه پټ دي څرګند شي. نو اسرار ظاهرېدونکي دي او عملنامه نه واړه اونه لوی ګناهونه پرېږدي بلکې شماري یې.

نو اوس ای امیر المؤمنینه! ته د أجل له راتلو او د امیدونو له ختمېدو څخه مخکې وخت لرې، د ناپوهانو په شان فیصلې مه کوه، او هغوی د ظالمانو په لار مه بیایه، او کبرجن په کمزورو مه حاکمان کوه. ځکه هغوی د مؤمنانو په هکله نه د قسم او نه هم د وعدې پروا کوي، نو ته به د خپلو ګناهونو او د دوي د ګناهونو په پېټو اخته شې، خپل او د دوي د ګناهونو درانه بارونه به په خپل ځان بار کړې او دوکه دې نه کړي هغه خلک چې دوی د ځان خوشحالۍ ستا په سختۍ کې لټوي او دوی د دنیا نعمتونه او خوندونه حاصلوي او ستا د اخرت خوشحالۍ ورسره په اوبو لاهو کوي. نن ورځ خپل قدرت ته مه ګوره، بلکه د سبا ورځې (د مرګ څخه وروسته) قدرت ته دې وګوره. ته به د مرګ په پړو باندې تړل شوی یې او د الله تعالی په وړاندې به داسې ولاړ یې چې ټولې ملایکې، انبیاء او رسولان به موجود وي. او په هغه ورځ به ټولې څهرې هغه حی او قیوم ذات مخې ته ټیټې وي. ای

امیر المؤمنینه! بېشکه که چیرې ما هغه څه نه وي درته رسولي کوم چې له ما څخه مخکې درته هوښیارانو رسولي نو ما در څخه خپل شفقت او خیر غوښتنه نه ده منع کړې. زما دغه لیک داسې وګڼه لکه چې ډاکټر خپل دوست ته ترخه او بدخونده دوا ورکوي ځکه چې په هغه کې د ده عافیت او صحت ویني.سلامتیا او د الله تعالی رحمت او برکت دې وي پر تا باندې ای امیر المؤمنینه(۱).

زمونږ امیران باید په دغه پورتنیو صفتونو باندې ځان سمبال کړي تر څو د رعیت حقوق اداء کړای شي.

څلورم مطلب: **د مامور عدل او انصاف**:

د مأمور عدالت دا دی چې پرته له ګناه څخه نور په ټولو امورو کې د امیر اطاعت وکړي(۲). کوم کارونه چې د امیر له طرفه ورته سپارل کیږي ډیر په اخلاص یې سرته ورسوي. اسلامي نظام او خپل هیواد ته د خدمت نیت وکړي. کوم وخت چې د مأموریت لپاره ورته ټاکل شوی د هغه وخت پوره پابندي وکړي. د شریعت په چوکاټ کې د اداري اصولو کامل رعایت وکړي. خپل رسمي وخت په سپارل شویو کارونو کې تېرکړي. د بیت المال له مال سره لکه: میز، چوکۍ، کمپیوټر، قرطاسیه، موټر، اسلحه وغیره بې ځایه او د خپل شخصي هدف او کار لپاره استعمال نه کړي. د الله تعالی حقوقو ته پاملرنه وکړي لکه: په خپل وخت او په جماعت سره د لمانځه ادا کول. د اداري له خوا ورته په نظر کې نیول شویو دیني درسونو زده کول او په شوق ورته حاضرېدل. همدارنګه د الله تعالی د بندګانو حقوقو ته پاملرنه لکه: د هغوی کارونه چې په اداري پورې تړلي وي په سمه توګه ورته پرته له ځنډ څخه سرته ورسوي.

پنځم مطلب: **د خاوند عدل او انصاف**:

د ښځې په وړاندې د خاوند عدالت دا دی چې د خپل وس او توان په اندازه خوراک، څښاک او لباس ورته برابر کړي، د مور، پلار او نږدې خپلوانو د زیارت څخه یې منع نه کړي، د هغې سره په نېکه رویه ژوند وکړي، که د مرض تداوي پرې کوي دا به د خاوند احسان وي(۳)، په وړو وړو خبرو یې تهدید نه کړي، که چیرې کوم وخت څه مشکل مینځ ته راځي نو کوښښ وکړي چې

۱– کتب عمر بن عبد العزیز رضي الله عنه لما ولي الخلافة إلى الحسن بن أبي الحسن البصري أن یکتب إلیه بصفة الإمام العادل، فکتب إلیه الحسن رحمه الله: اعلم یا أمیر المؤمنین! إن الله جعل الإمام العادل قوام کل مائل، و قصد کل جائر، و صلاح کل فاسد، و قوة کل ضعیف، و نصفة کل مظلوم، و مفزع کل ملهوف. و الإمام العدل یا أمیر المؤمنین! کالراعي الشفیق على إبله، الرفیق الذي یرتاد لها أطیب المرعى، و یذودها عن مراتع المهلکة، و یحمیها من السباع و یکنفها من أذى الحر و القر. والإمام العدل یا أمیر المؤمنین! کالأب الحافي على ولده، یسعى لهم صغارا و یعلمهم کبارا، یکتسب لهم في حیاته، و یدخر بعد مماته. و الإمام العدل یا أمیر المؤمنین! کالأم الشفیقة البرة الرفیقة بولدها حملته کرها، و وضعته کرها، و ربته طفلاً، تسهر بسهره، و تسکن بسکونه، ترضعه تارة . و تفطمه أخرى، و تفرح بعافیته و تغتم بشکایته. والإمام العدل یا أمیر المؤمنین! وصي الیتامى، و خازن المساکین، یُربّي صغیرهم، و یمون کبیرهم. و الإمام العدل یا أمیر المؤمنین! کالقلب بین الجوانح، تصلح الجوانح بصلاحه و تفسد بفساده. و الإمام العدل یا أمیر المؤمنین! هو القائم بین الله و بین عباده، یسمع کلام الله، و یُسمعهم، و ینظر إلى الله و یریهم، و ینقاد إلى الله، و یقودهم، فلا تکن یا أمیر المؤمنین! فیما ملکك الله کعبد التمنه سیده و استحفظه ماله، فبدد المال و شرد العیال فأفقر أهله، و فرق ماله، و اعلم یا أمیر المؤمنین إن الله أنزل الحدود لیزجر بها عن الخبائث، والفواحش فکیف إذا أتاها من یلیها؟ و أن الله أنزل القصاص حیاة لعباده فکیف إذا قتلهم من یقتص لهم؟ و اذکر یا أمیر المؤمنین الموت و ما بعده و قلة أشیاعك عنده وأنصارك علیه، فتزود له ولما بعده من الفزع الأکبر، واعلم یا أمیر المؤمنین أن لك منزلا غیر منزلك الذي أنت فیه، یطول فیه ثواؤك، و یفارقك أحباؤك یسلمونك في قعره فریدا وحیدا، فتزود له ما یصحبك ﴿یَوْمَ یَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِیهِ وَأُمِّهِ وَأَبِیهِ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِیهِ﴾، و اذکر یا أمیر المؤمنین! ﴿إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي ال الْقُبُورِ وَحُصِّلَ مَا فِي الصدور﴾ فالأسرار ظاهرة والکتاب ﴿لا یُغَادِرُ صَغِیرَةً وَلا کَبِیرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا﴾ فالآن یا أمیر المؤمنین! وأنت في مهل قبل حلول الأجل وانقطاع الأمل، لا تحکم بحکم الجاهلین، ولا تسلك بهم سبیل الظالمین، ولا تسلّط المستکبرین على المستضعفین، فإنهم لا یرقبون في مؤمن إلا و لازمة فتبوء بأوزارك و أوزار مع أوزارك، و تحمل أثقالك و أثقالاً مع أثقالك، و لا یغرنك الذین یتنعمون بما فیه بؤسك، و یأکلون الطیبات في دنیاهم بإذهاب طیباتك في آخرتك، لا تنظر إلى قدرتك الیوم، و لکن انظر إلى قدرتك غدًا، و أنت مأسور في حبائل الموت وموقوف بین یدي الله في مجمع من الملائکة والنبیین والمرسلین . ﴿وقد عَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَیُّوم﴾ إني یا أمیر المؤمنین! و إن لم أبلغ بعظتي ما بلغه أولوا النهى من قبلي، فلم آلك شفقة و نصحاً، فانزل کتابي کمداوى حبیبه، یسقیه الأدویة الکریهة لما یرجو له في ذلك من العافیة و الصحة. و السلام علیك یا أمیر المؤمنین ورحمة الله وبرکاته. نفحة العرب، ص ۱۲۲ – ۱۲۷، مکتبة البشرى کراتشي.

۲– قال الله تعالى: ﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا أَطِیعُوا اللَّهَ وَأَطِیعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْکُمْ...﴾ سورة النساء، آیة (۵۹).

۳– قال الله تعالى: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ...﴾ سورة النساء، آیة (۲۹)

په نرمه لهجه ورته ووايي او د نورو خلکو په وړاندې ورته پيغور ورنکړي، نه يې تهديد کړي او نه ورته د کوم عيب يادونه وکړي. (۱)

که چيرې د يو سړي له يوې څخه زياتې ښځې وي نو د هغوی تر منځ په ټولو شرعي او دنيوي امورو کې هم بايد د برابرۍ پاملرنه وکړي.[۲]

خاوند بايد د ښځې د آخرت د کاميابۍ کوښښ وکړي، لکه: د اسلام د پنځو بناوو، عقايدو، فرايضو، ضروري مسايلو او سيرت درسونه ورته ښودل. د لمانځه روژې او نورو فرايضو د ترسره کولو تأکيد کول.

که چيرې کوم وخت ښځه د شرعي او يا طبعي امورو خلاف عمل کوي، نو په نرمه لهجه دې ورته نصيحت وکړي، که په نصيحت او نرمۍ سره نه اصلاح کيږي نو په لومړۍ مرتبه کې بايد له بسترې څخه تر ښه جدا شي تر هغه چې اصلاح شي او که په هغه هم اصلاح نه شوه او اړتيا وهلو ته پيدا شي، نو په داسې طريقې سره دې ووهي چې عيب پکې پيدا نشي او په مخ دې نه وهي[۳]

{وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ} [البقرة: ۲۳۳].

اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى أَنَّ نَفَقَةَ الزَّوْجَةِ وَاجِبَةٌ، سَوَاءٌ أَكَانَ الزَّوْجُ مُوسِرًا أَمْ مُعْسِرًا، فَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ حَاضِرًا، وَلَهُ مَالٌ، أَنْفَقَ مِنْ مَالِهِ جَبْرًا عَنْهُ، وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا فَإِنَّ أَئِمَّةَ الْحَنَفِيَّةِ يَرَوْنَ أَنَّ الْقَاضِيَ يَفْرِضُ لَهَا النَّفَقَةَ، ثُمَّ يَأْمُرُهَا بِالِاسْتِدَانَةِ عَلَيْهِ، فَإِنْ لَمْ تَجِدْ مَنْ تَسْتَدِينُ مِنْهُ أَوْجَبَ الْقَاضِي نَفَقَتَهَا عَلَى مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ مِنْ أَقَارِبِهَا لَوْ لَمْ تَكُنْ مُتَزَوِّجَةً، أَمَّا إِنْ كَانَ غَائِبًا وَلَيْسَ لَهُ مَالٌ حَاضِرٌ، فَإِنَّهُ لاَ تُفْرَضُ لَهَا نَفَقَةٌ عَلَيْهِ، خِلاَفًا لِزُفَرَ، وَقَوْلُهُ هُوَ الْمُفْتَى بِهِ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ. الموسوعة الفقهية الكويتية (۳/ ۲٦٤).

عِلاَجُ الزَّوْجَةِ: ذَهَبَ الْفُقَهَاءُ إِلَى عَدَمِ وُجُوبِ ثَمَنِ الدَّوَاءِ وَعَدَمِ وُجُوبِ أُجْرَةِ الطَّبِيبِ عَلَى الزَّوْجِ مُسْتَنِدِينَ فِي ذَلِكَ إِلَى قَوْلِهِ تَعَالَى: {لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ } .مُوَجِّهِينَ اسْتِدْلاَلَهُمْ بِأَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَل أَلْزَمَ الزَّوْجَ بِالنَّفَقَةِ الْمُسْتَمِرَّةِ عَلَى زَوْجَتِهِ، وَلَيْسَتْ نَفَقَةُ الْعِلاَجِ دَاخِلَةً تَحْتَهَا؛ لأَنَّهَا مِنَ الأُمُورِ الْعَارِضَةِ . وَلأَنَّ شِرَاءَ الأَدْوِيَةِ وَأُجْرَةَ الطَّبِيبِ إِنَّمَا تُرَادُ لإِصْلاَحِ الْجِسْمِ، فَلاَ تَلْزَمُ الزَّوْجَ. الموسوعة الفقهية الكويتية (٤۱/ ٤۳).

وَالنَّفَقَةُ الْوَاجِبَةُ الْمَأْكُولُ وَالْمَلْبُوسُ وَالسُّكْنَى أَمَّا الْمَأْكُولُ فَالدَّقِيقُ وَالْمَاءُ وَالْمِلْحُ وَالْحَطَبُ وَالدُّهْنُ كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ وَكَمَا يُفْرَضُ لَهَا قَدْرُ الْكِفَايَةِ مِنْ الطَّعَامِ كَذَلِكَ مِنْ الْإِدَامِ كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ وَيَجِبُ لَهَا مَا تُنَظِّفُ بِهِ وَتُزِيلُ الْوَسَخَ كَالْمُشْطِ وَالدُّهْنِ، وَمَا تَغْسِلُ بِهِ مِنْ السِّدْرِ وَالْخِطْمِيُّ، وَمَا تُزِيلُ بِهِ الدَّرَنَ كَالْأُشْنَانِ وَالصَّابُونِ عَلَى عَادَةِ أَهْلِ الْبَلَدِ، وَأَمَّا مَا يُقْصَدُ بِهِ التَّلَذُّذُ وَالِاسْتِمْتَاعُ مِثْلُ الْخِضَابِ وَالْكُحْلِ فَلَا يَلْزَمُهُ بَلْ هُوَ عَلَى اخْتِيَارِهِ إنْ شَاءَ هَيَّأَهُ لَهَا، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ، فَإِذَا هَيَّأَهُ لَهَا فَعَلَيْهَا اسْتِعْمَالُهُ، وَأَمَّا الطِّيبُ فَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ مِنْهُ إلَّا مَا يَقْطَعُ بِهِ السَّهْوَكَةَ لَا غَيْرُ وَيَجِبُ عَلَيْهِ مَا يَقْطَعُ بِهِ الصُّنَانَ، وَلَا يَجِبُ الدَّوَاءُ لِلْمَرَضِ، وَلَا أُجْرَةُ الطَّبِيبِ، وَلَا الْفَصْدُ، وَلَا الْحِجَامَةُ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ وَعَلَيْهِ مِنْ الْمَاءِ مَا تَغْسِلُ بِهِ ثِيَابَهَا وَبَدَنَهَا مِنْ الْوَسَخِ كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ.

الفتاوى الهندية (۱/ ٥٤۹).

۱– {وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا (۱۹) } [النساء: ۱۹].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَخَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِنِسَائِهِمْ. سنن الترمذي ت بشار (۲/ ٤٥۷).

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْراً، فَإِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ، وَإِنَّ أَعْوَجَ مَا فِي الضِّلَعِ أَعْلاهُ، فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ، وَإِنْ تَرَكْتَهُ، لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ ، فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ. متفق عليه. صحيح البخاري (۷/ ۲٦) رقم الحديث ٥۱۸٦ باب الوصاة بالنساء. صحيح مسلم (۲/ ۱۰۹۱) رقم الحديث ۱٤٦۸ .باب الوصية بالنساء.، رياض الصالحين، ص ۱۲٥، ح ۲۷٤، مكتبة البشرى كراتشي.

۲– قال الله تعالى: ﴿وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا﴾ سورة النساء، آية (۱۲۹).

۳– قال الله تعالى: ﴿وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا﴾ سورة النساء، آية (۳٤).

وعن معاوية بن حيدة رضي الله عنه قال : قلت يا رسول الله ما حَقَّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟ قال: أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ ، وَتَكْسُوهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلا تُقَبِّحْ ، وَلا تَهْجُرْ إلا فِي الْبَيْتِ. سنن أبي داود (۲/ ۲٤٤) باب في حق المرأة علي زوجها. رياض الصالحين، ص ۱۲٦، رقم الحديث ۲۷۸، مكتبة البشرى كراتشي.

شپږم مطلب: د ښځې عدل او انصاف:

ښځه باید د میړه د مال، کور او عزت ساتنه وکړي او له خیانت څخه ځان وساتي[1]. په شرعي او طبعي امورو کې به د خاوند د خوښې عمل ترسره کوي(۲).

باید چې د اولاد سمه پالنه وکړي. د خاوند په مال کې باید د هغه له اجازې پرته هیڅ تصرف ونکړي اګر که صدقه ورکول هم وي. (۳)

د خاوند له اجازې پرته به له کور څخه بهر نه وځي، که چیرې د خپلوانو کره ځي نوییا به هم اجازه اخلي، که ښځه په اولاد باندې له خپل مال څخه خرچه کوي نو دا د دې لپاره صدقه ده.(٤)

اووم مطلب: د پلار عدل او انصاف:

د پلار عدل او انصاف د اولاد په وړاندې دا دی چې د ځان لپاره داسې ښځه غوره کړي، چې د خپلو راتلونکو اولادنوو لپاره ښه مور وي او کله چې یې اولاد پیدا شي ښه نوم به ورته کېږدي، حلال خوراک، څښاک او لباس به ورته برابروي، او ښه تربیه او تعلیم به ورته ورکوي، لامبو به ورته ښایي او همدارنګه کله چې د واده کولو عمر ته ورسیږي او مالي وس او توان ولري نو واده به ورته کوي او که چیرې یې ورته واده ونکړ او کومه ګناه له ده څخه صادره شوه نو په ګناه کې یې پلار هم ورسره شریک دی(۵).

یوه ورځ یو کوچي حضرت عمر رضي الله عنه ته د خپل زوی د بدو اخلاقو شکایت وکړ، حضرت عمر رضي الله عنه د کوچي زوی راوغوښت او غوښتل یې چې سزا ورته ورکړي، نو د کوچي زوی پوښتنه وکړه چې ای امیر المؤمنینه! آیا د زوی هم په پلار څه حق شته که نه؟ امیر المؤمنین ورته وفرمایل: هو. د کوچي زوی وویل: کوم دي؟ عمر رضي الله عنه وفرمایل: چې لومړی باید ښه مور ورته انتخاب کړي، ښه نوم ورته کېږدي او تعلیم د قران ورته ورکړي. د کوچي زوی وویل: ای امیر المؤمنینه زما پلار دا یو هم نه دی کړی، زما مور زنجیه (د افریقا اوسېدونکې یوه ډله ده چې تور رنګ، ببر سر او غټې پوزې لري) ده او په ما باندې یې نوم جعل (ګونګټه) ایښی دی او د قرآنکریم څخه یې یو حرف هم راته نه دی ښودلی. نو حضرت عمر رضي الله عنه کوچي ته

١– وعن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : كُلُّكُمْ راع، وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ ومسؤول عن رعيته، وَالرَّجُلُ رَاعٍ في أهله وهو مسؤول عن رعيته، وَالمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ في بَيْتِ زَوْجِهَا، وَمَسؤولةٌ عَنْ رعيتها، والخادم راعٍ فِي مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، فَكُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مسؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِه. صحيح البخاري (٢/ ٥) رقم الحديث ٨٩٣. باب الجمعة في القري و المدن. رياض الصالحين، ص ١٢٨، ح ٢٨٤، مكتبة البشرى كراتشي.

٢–وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم "إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ، فَلَمْ تَأْتِهِ فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا، لَعَنَتْهَا المَلَائِكَةُ حتَّى تُصْبِحَ. صحيح البخاري (٤/ ١١٦). رقم الحديث ٣٢٣٧.بَابُ إِذَا قَالَ أَحَدُكُمْ: آمِينَ وَالمَلاَئِكَةُ فِي السَّمَاءِ، آمِينَ فَوَافَقَتْ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. رياض الصالحين، ص ١٢٨، رقم الحديث ٢٨٢، مكتبة البشرى كراتشي.

٣ – عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: «مَا اسْتَفَادَ الْمُؤْمِنُ بَعْدَ تَقْوَى اللَّهِ خَيْرًا لَهُ مِنْ زَوْجَةٍ صَالِحَةٍ، إِنْ أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ، وَإِنْ نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ، وَإِنْ أَقْسَمَ عَلَيْهَا أَبَرَّتْهُ، وَإِنْ غَابَ عَنْهَا نَصَحَتْهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهِ». سنن ابن ماجه (١/ ٥٩٦)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الْمَرْأَةِ تَصَدَّقُ مِنْ مَالِ زَوْجِهَا، فَقَالَ: «لَا، إِلَّا مِنْ قُوتِهَا، وَالْأَجْرُ بَيْنَهَا، وَبَيْنَ زَوْجِهَا، وَلَا يَحِلُّ لَهَا أَنْ تَصَدَّقَ مِنْ مَالِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِهِ» . سنن أبي داود (٢/ ١٣١). مصنف عبد الرزاق الصنعاني (٤/ ١٤٧).

٤ – مِنْ حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى زَوْجَتِهِ أَلاَّ تَخْرُجَ مِنْ بَيْتِ الزَّوْجِيَّةِ إِلاَّ بِإِذْنِهِ، فَإِنْ خَرَجَتْ بِدُونِ إِذْنِهِ فَقَدِ ارْتَكَبَتْ مَعْصِيَةً، لَكِنَّ الْفُقَهَاءَ اشْتَرَطُوا فِي ذَلِكَ أَنْ يَكُونَ الْبَيْتُ صَالِحًا لِلْبَقَاءِ فِيهِ، وَأَلاَّ يُوجَدَ سَبَبٌ يُجِيزُ لَهَا الْخُرُوجَ مِنَ الْبَيْتِ بِغَيْرِ إِذْنِ الزَّوْجِ لِحَدِيثِ: " أَنَّ امْرَأَةً أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُول اللَّهِ مَا حَقُّ الزَّوْجِ عَلَى الزَّوْجَةِ؟ فَقَال: حَقُّهُ عَلَيْهَا أَلاَّ تَخْرُجَ مِنْ بَيْتِهَا إِلاَّ بِإِذْنِهِ، فَإِنْ فَعَلَتْ لَعَنَتْهَا مَلاَئِكَةُ السَّمَاءِ وَمَلاَئِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلاَئِكَةُ الْعَذَابِ حَتَّى تَرْجِعَ ، الموسوعة الفقهية الكويتية (٤١/ ٣١٤).

٥– عَنْ أَبِيْ سَعِيدٍ وَ ابنِ عَبَاسٍ قَال: قَالَ: رَسُوْلُ اللهِ صَلَى اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ: مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَد فُلْيُحْسِنْ اِسْمَهُ وَ أَدَبَهُ فَاذَا بَلَغَ فَلْيُزَوِّجْهُ فَانْ بَلَغَ وَ لَمْ يُزَوِّجْهُ فَأَصَابَ اِثْماً فَاِنَّمَا اِثْمُهُ عَلَى أَبِيْهِ. شعب الإيمان، ج ۶، ص ۴۰۱، ت زغلول، دار الكتب العلمية بيروت – لبنان.

وکتل او ورته یې وویل: ته راغلی یې چې د خپل زوی شکایت وکړې او حال دا چې تا خپله د زوی حق نه دی ادا کړی او مخکې له دې چې هغه تا سره بدي وکړي تا ورسره بدي کړې ده(۱).

اتم مطلب: **د اولاد عدل او انصاف**:

الله تعالی فرمايي:او ستا رب پريکړه کړې چې: تاسي له الله جَلَّجَلَالُهُ پرته بل دهيچا عبادت مه کوئ ، له مور او پلار سره ښه چلند کوئ، که له تا سره له هغو څخه يو يا دواړه زړښت ته ورسيږي، هغوی ته (اُف) قدرې مه وايه، هغوي مه رټه بلکې له هغوی سره په درناوي خبرې کوه. او په نرمۍ اورحم سره د هغوی په وړاندې مات غاړی اوسه او دا دعا کوه: پروردګاره! پر دوی رحم وکړه لکه څنګه چې دوی له زړه سوي او خواخوږۍ سره په ماشومتوب کې زه پالې وم. (۲)

د ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منبر ته وخوت او درې ځله يې (آمين) وويلو ، پوښتنه ترې وشوه ای د الله رسوله! داسې خو تاسې مخکې نه کول، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ماته جبريل عليه السلام وويل: پوزه دې سپېره شي د هغه چا ، په چا چې د رمضان مياشت راشي او بيا هم هغه ته مغفرت ونشي، ما وويل آمين، بيا يې وويل: پوزه دې سپېره شي د هغه چا ، څوک چې خپل دواړه مور او پلار او يا يو له دوی څخه په بوډا والي کې ومومي او (د هغوی د خدمت او خيال ساتلو له امله) د جنت د داخلېدو وړ نشي، ما وويل: آمين، بيا يې وويل: پوزه دې سپېره شي د هغه چا ، د چا په مخکې چې ستا نوم ذکر شي او دی په تا درود ونه وايي، ما وويل: آمين.(۳)

په حقيقت کې خو الله تعالی انسان پيدا کړی دی مګر والدين د ده د ايجاد ظاهري ذريعه ده ؛ ځکه الله تعالی په پورته مبارک آيت کې په خپلو حقوقو پسې د والدينو د حقوقو يادونه کړې. د پورته ذکر شوي آيت او مبارک حديث له مخې اولاد باندې لازم دي چې د خپل مور او پلار خدمت وکړي، په نېکو کارونو او خبرو کې د هغوی اطاعت وکړي، تکليف يې نه کړي. په لاس ورته ضرر ونه رسوي، په ژبه ورته نا مناسب او سخت کلمات او خبرې ونه وايي.

د مور او پلار له مرګ څخه وروسته دوی ته دعا وکړي، په حق کې يې صدقه ورکړي؛ ځکه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايې چې د مسلمان له مرګ څخه وروسته د ده نيک عمل بندېږي مګر درې شيان لا هم جاري وي يعني ثواب يې ورته رسيږي چې يو له

– ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ , أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , قَالَ: " مِنْ حَقِّ الْوَلَدِ عَلَى الْوَالِدِ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ: أَنْ يُحْسِنَ اسْمَهُ إِذَا وُلِدَ، وَيُعَلِّمَهُ الْكِتَابَ إِذَا عَقَلَ، وَيُزَوِّجَهُ إِذَا أَدْرَكَ " وَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ , أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَيْهِ بِابْنِهِ فَقَالَ: إِنَّ ابْنِي هَذَا يَعُقُّنِي.

فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ لِلِابْنِ: أَمَا تَخَافُ اللَّهَ فِي عُقُوقِ وَالِدِكَ، فَإِنَّ مِنْ حَقِّ الْوَالِدِ كَذَا، وَمِنْ حَقِّ الْوَالِدِ كَذَا، فَقَالَ الابْنُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ: أَمَا لِلابْنِ عَلَى وَالِدِهِ حَقٌّ؟ قَالَ: نَعَمْ حَقُّهُ عَلَيْهِ أَنْ يَسْتَنْجِبَ أُمَّهُ.يَعْنِي لَا يَتَزَوَّجُ امْرَأَةً دَنِيئَةً لِكَيْلَا يَكُونَ لِلْابْنِ تَعْيِيرٌ بِهَا.

قَالَ: وَحُسْنِ اسْمِهِ وَيُعَلِّمَهُ الْكِتَابَ.فَقَالَ الابْنُ، فَوَاللَّهِ مَا يَكُونُ لِلْابْنِ تَعْيِيرٌ بِهَا. فَقَالَ الابْنُ، فَوَاللَّهِ مَا اسْتَنْجَبَ أُمِّي، وَمَا هِيَ إِلَّا سِنْدِيَّةٌ اشْتَرَاهَا بِأَرْبَعِ مِائَةِ دِرْهَمٍ، وَلَا حَسَّنَ اسْمِي. سَمَّانِي جَعْلًا ذَكَرَ الْخُفَّاشِ.وَلَا عَلَّمَنِي مِنْ كِتَابِ اللَّهِ آيَةً وَاحِدَةً. فَالْتَفَتَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ إِلَى الْأَبِ وَقَالَ: تَقُولُ ابْنِي يَعُقُّنِي! فَقَدْ عَقَقْتَهُ قَبْلَ أَنْ يَعُقَّكَ.قُمْ عَنِّي سَمِعْتُ أَبِي , يَحْكِي عَنْ أَبِي حَفْصٍ الْيَسْكَنْدِيِّ، وَكَانَ مِنْ عُلَمَاءِ سَمَرْقَنْدَ، أَنَّهُ أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ ابْنِي ضَرَبَنِي وَأَوْجَعَنِي.

قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ الابْنُ يَضْرِبُ أَبَاهُ؟ ! قَالَ: نَعَمْ ضَرَبَنِي وَأَوْجَعَنِي.فَقَالَ: هَلْ عَلَّمْتَهُ الْأَدَبَ وَالْعِلْمَ؟ قَالَ: لَا: فَهَلْ عَلَّمْتَهُ الْقُرْآنَ؟ قَالَ: لَا.

